پاکستاني ملګري سره چې دترکيې لهٔ سرحد څخه راسره همسفر شوی ؤ ،دپيښور بنار پهٔ مالګه منډې کې دپلوشه هوټل مخې ته لهٔ ريکشا څخه کوز شوم ، ماته خپل کور نهٔ ؤ معلوم .لهٔ پخواني ځای څخه چې پهٔ ګل دره کې وصدر ته کډه شوی و ، نور نهٔ وم خبر چې چيرته به وي .

شپه پهٔ هوټل کې راباندې راغله سهاري پهٔ نه بجومې دهيواد جريدې دفترته تيلفون وکړ ، زما کشر ورور عصمت الله هلته لهٔ تيرو ځوکلونو څخه کار کاوه ، هغه لانهٔ ؤ راغلی ترلس بجو پورې يوه يوه ثانيه ماته لکه کال اوزده شوه ، پهٔ لس بجو مې چې بيا دتيلفون زنګ ووهلو عصمت الله مې لهٔ غږ څخه وپيژانده ،دځای پته مې ورکړه ، څومرتبه لانهٔ وو تير چې دکوټې دروازه خلاصه شوه ، عصمت وچې پهٔ خپل ورک ورور پسې راغلی و .

کورته ولاړم اودخپلو عزيزانو پهٔ ليدو مې سترګې خوږې شوې .

زموږ کور پهٔ نوتيه کې ؤ ، دهمدې ورځې پهٔ مازديګر لهٔ کوره ووتم اودتيرو ورځو پهٔ ياد ورو ورو دکوڅې تر سره ولاړم ، څو ګامه پورته کينې لاس ته مې يوې لوڅې ته سترګې وروارښتې چې پرې ليکلي ؤ د « ليونې بابا مزار » .

همدلته ؤ چې « شيرين آغا » لکه ليدلی خوب راپهٔ ياد شو ، دمزار څنګ ته يوه نرۍ کوڅه وه چې پهٔ هغې کې يې ماته دخپل کور پته راکړې وه . کوڅې ته ننوتم اولهٔ يوه دوکاندار څخه مې پوښتنه وکړه ، هغه تر بر فکر وروسته د کوڅې پهٔ اخر سرکې دماشټر پهٔ نوم يو بل دوکاندار راپهٔ ګوته کړ چې لهٔ هغه پوښتنه وکړم او پدې توګه مې پهٔ پوښتنه کور پيدا کړ، دکور دروازه يې کلپ وه ماشټر ويل چې پهٔ کور کې يې خوک نشته اولادونه يې داڅيمه مياشت ده چې وطن ته تللي او دی پهٔ خپله کله ناکله دشپې لهٔ خوا ولته راځي دشپې يې احوال واخله کيدای شي چې راشي .

دشيرين آغا لهٔ کور څخه مخامخ پهٔ هديره کښې زمونږ کوڅې ته يوه لنډه

لار راوتلې ، زه ببرته کورته راغلم او ورو ورو پوهيدم چې ليوني فکرونه مې بيا پۀ ذهن کې راژوندي کيږي .

دمابنام تر ډوډۍ خوړلو وروسته بيا لۀ کوره ووتم دهديرې لۀ منځه تير شوم اوخو لحظې وروسته دشيرين آغا دکور دروازې ته ولاړ وم ، دروازه مې وټکوله تر لږ څنډ وروسته ورخلاص شو ، زه اوشيرين آغا يوبل ته تر غاړه وتو دهغې شپې خوښې مې هيڅ کله نۀ هيرېږي ، شيرين آغا وسله ترلاسه کړې پۀ تورغر کې يې مرکز نيولی و . زما پۀ ليدو ډير خوشحاله ښکاريدو او بيا بيا به يې راته ويل چې ده خپله وعده تر سره کړې اواوس زما وار ؤ چې خپله ژمنه پوره کړم .

پۀ هغه شپه دنورو شپو پۀ خلاف ډيرو هيلو او اميدونو لۀ تصور سره ويده شوم اوپاته لس پنځلس ورځې هم پۀ همدې توګه را باندې تيرې شوې . بلاخره دميعاد ورځ راورسيده .

مازديګر ؤ چې لۀ شيرين آغا سره يوځای دخپل کور مهمانخانې (بيټک) ته ننوتم پلار مې هم پۀ همدې ګړۍ هلته ناست ؤ ، زه هغه ته مخامخ اوشيرين آغايې څنګ ته کښينو ست .

تر روغبړ وروسته څو لحظې پۀ کوټه کې خاموشي شوه اوزه پۀ دې فکر کې وم چې پۀ څۀ ډول سره جبهې ته دخپل تګ موضوع لۀ پلار سره مطرح کړم . بالاخره مې خبره داسې يادە کړه .

« آغا زه غواړم چې لۀ قوماندان شيرين آغا سره پۀ تور غر کې ددوی جبهې ته ولاړ شم دوی زما مرستې ته اړتيا لري ، زه بايد هلته ددوی دژوند او مبارزو عکاسي وکړم فلم ورځه جوړ کړم ، کتاب پرې وليکم اودا مې لۀ ده سره پخوانی وعده ده چې بايد وفاپرې وکړم . دلته راغلي يو چې ماته اجازه راکړې او دبريالیتوب دوعا راته وکړې . »

په هغه لنډ سکوت کې چې زما دخبرو تر خلاصيدو وروسته پيدا شوی ؤ

ماړير ځله پټ پۀ زړه کې پلار ته سوال وکړ اوپۀ زاري اومنت مې ورته وويل : خير دی دا يوځل مې لاپريږده ، اجازه راکړه چې ولاړ شم ، شايد داځل د تيرژوند لۀ ټولو بدمرغيو څخه انتقام واخلم .....

پلار مې يوځل بيا پۀ خپله لويه سينه دصبر کاڼی کيښود اود « الله دې خيردرته پيش کړي » پۀ ټکو يې ديوبل امتحان پۀ سفر ولېږلم .اوهغه دچا خبر تر او و(۷) غرونو اواووسيندونو تير شوم لوېې دښتې اوډاګونه مې ترپښولاندې کړل پۀ غرونو وختم ، ګرځنګونته کوز شوم او دادی اوس پۀ توره کوټه کې د لالټين تنې رڼاته ناست اودسبا ورځ پۀ انديښنه کې وم.

دشپې پۀ وروستنيو لحظو کې مې سترګې سره ورغلې وې ، خو خو ځونه هم لکه پۀ ويښه له انديښنو څخه ما لا مال وو او هغه دشاعر پۀ قول :

« خوب به بې مدام لکه هوسې پۀ ميرتون وي »

« مۀ شه پۀ چا باندې د اومرغښــو پورونه »

مورِ هم پوره وړې وو دخپلو غوښو دخپل ځان دخپل سر دخپل ....

***

شپه تيره شوه اوداالله اکبر ملکوتي غږ دتور غر لۀ کانې بوټې څخه منعکس شو لۀ ځايه راپاڅيدم او ورو ورو بنکته خوږ ته کوز شوم ، دچينې پۀ رڼو اوبو مې اودس وکړ اوپۀ يوه لويه اواره تيره باندې خپل خداى ته پۀ سجده شوم تر لمانځۀ وروسته پۀ داسې حال کې چې پاس مرکز ته تلم لۀ ځان سره مې دبيدل دا بيت زمزمه کاوه :

« زخاك ماقدم فهميده بردار »

« مبادا بشكنى در زير پادل »

ريښتاهم چې ماته دتورغر هره تيره پرې شوی سر پنکاريده اوهره ونه يې پۀ وينو رنګيدلی جسد . ګام پۀ ګام دکارتوسو شپيلۍ وې اودهونو چرې ، داسې تيره نۀ وه چې يو داغ ورباندې نۀ ؤ او داسې ونه نۀ وه چې يو دوه ماتې

شوې و چې څانګې دې پرې ځوړنده نه وي .

داولې ؟

دا هغه سوالونه دي چې زه يې په جواب نه پوهيږم خو دځان دتسلي لپاره يې لکه زما ډير وطنوال په تقدير حواله ورکوم چې دابه هم ورته منظوره وه . دمرکز مخې ته يوه لويه چوتره وه چې شاوخوا د ډ بروبارو ترې چاپيره شوې اوشاته يې يو ژور ګړنګ خوله ويته کړې وه چې د دري له سر څخه ترپايه پورې لکه افسانوي بنامار کوږ ووږ پروت ؤ .

د لمر لومړنيو زرينو وړانګوته په پرخه پريوول شوي کاڼي بوتې ډير په زړه پورې اوتاشائې وو .

دسهار نې وزمې بنکالود ونو په پانو کې اوداوبو شور وفرياد د تيږو له منځه يوې په زړه پورې روح انګيزه موسيقۍ ته ورته وه لمر ورو ورو تودېدو او دچوترې په خاموشه فضا کې ګڼه ګوڼه ډيريده دوه دلته ، دري هلته يو په يوه تيږه بل په بله ، پيتاوي ته کښيناستل ، چاسندرې ويلې اوخوک په خپلو کې سره غږيد ل .

ښه ډير ساعت وروسته دسهار چای تيار شو له چايو سره اکبرآغا زمالهٔ پاره دوه پراټې هم پخې کړې و ې .

دا زما په جبهه کې لومړنۍ ورځ وه دګوتو په شميرمې دوه دري کسه پيژندل له هغو کسانو څخه چې له پيښوره راسره ملګري وو پرته له نور جان څخه بل خوک هلته نه و ترلسو بجو پورې ناپيژندويه ملګري زما څخه لرې لرې ګرځيدل خو چې کله زمونږ دتيرې ورځې خبر يادە شوه هر يوه غوښتل چې رانژدې شي اوځان په هر څه باندې ښه خبر کړي لنډه داچې دهمدې ورځې تر مابنامه پورې زما دلارې ملګري هم را خبر شول او هرپوه بيل بيل دغلو سفر او ټولو حوادثو پوښتنې بيا بيا له ما او نورجان څخه وکړې اوهمدا وجه وه چې دمابنام تر ډوډۍ وروسته دکرۍ ورځ له مکرروپوښتنو او خوابونو څخه

ستړي ، بستري ته ولاړم اودنورو ورځو پهٔ خلاف مې ډير ژر سترګې سره ورغلې .

دسبا اوبل سبا ورځې هم پهٔ همدې ډول تکرار خبر وتيري شوې ، زما صحت اوس ښه شوی ؤ دځلورمې شپې پهٔ سهار وروسته تر چايو لهٔ قوماندان (شيرين آغا) سره دهم سفره ملګرولیدو ته وخوځيدم .

دنرۍ لارې ترلنډولو وروسته چې زمونږ لهٔ مرکز نه پهٔ ختيځ کې خوړته کوزه شوې اوبيا پورته ددرې سرته ختلې وه ددوو غرونو دزاويې مبداء ته پهٔ شل ملټه کې ورسيدو دلته دره تنګه شوې اوګنې ونې ولاړې وې .

چې لهٔ ونو څخه هم ورتير شوو خو ګامه پورته پهٔ يوه هسك پټې کې زمونږ دملګرو خيمه ولاړه وه . دخيمې رنګ سپين و او پهٔ شنو ونو کې لهٔ ورايه ښکاريده . ملګري زمونږ پهٔ ورتګ خوشحاله ول اوهر يوه پهٔ خپل وار پهٔ سفر کې ماته دراپيښو حوادثو پهٔ باب خپل خپګان څرګند اوه .

پهٔ دې ډول سره زمونږ خبرې دعادي حال احوال تر پوښتنو وروسته پهٔ آزادو سيمو کې دامنيت دنشتوالي پهٔ وجه بدبختيو ته ولاړې ، پهٔ ناستو کسانو کې چاوويل چې دوه ورځې پهٔ خوا د« شاهي خيلو » او کوتی خيلو دکليو ترمنځ خورکی يو پوونده چاد ټوپك لهٔ پاره وژلی دی ، يو بل پرې راغږ کړل « دا لاځهٔ کوې هغه څو ورځې وړاندې چې پهٔ سروبي باندې دمجاز دمجاهدينو عمليات وو دلته نژدې پهٔ « درګو» کينې درې تنه تسليمي عسکر کوم ظالم ته پهٔ مخ ورغلي وروسته تردې چې وسله يې ورڅخه وړې دوی يې وژلي او فکر کوم چې اوس به يې هم مړي لا پراته وي . »

داهغه خبرې وې چې زما غوندې دکمزوري زړه خاوند ته يې اوريدل ډيرګران اونهٔ منونکی کار ؤ خو حقيقت يې لاره ديوه مثالي شاهد يې زه پهٔ خپله ؤم اودنورو ډيرو داسې حوادثو آشنائی ته چې ماته ناپيژندويه وې تورغر ته راغلی وم .

تورغر دافغانستان لهٔ څو مشهور غرونو څخه دی ، دهغه افغانستان چې د هستوګنې پهٔ سپينه صفحه يې يووخت سوله ، آزادي ، مينه ، وروروليو اوخواخوږي ليکلې وه خو اوس ، پهٔ هغه پانهٔ دفقر ، بدبختۍ ، وژنې ، جنګ اوتباهۍ تراژيدي ليکل شوې چې زه يې پهٔ لوستلو محکوم وم .

تر اوزدو خبرو وروسته ماخليل ته چې ددې پوستې سرګروپ اوزما دايران لهٔ اشنايانو څخه ؤ ، وويل چې خپله خيمه پهٔ وښو اولښتو باندې پته کړي ځکه چې د سپينې خيمې تشخيصول پهٔ شنو ونو کې هليکوپټرو ته ډير اسان کار دی خو خليل وخندل اوپهٔ خپله هميشنۍ احمقانه لهجه يې راته وويل :

« هليکوپټر دلته څهٔ..... کوي ..

او همداسې لالګيا ؤ غټې غټې خبرې يې کولې چې پهٔ دې کې دقبلې لهٔ لورې دري ځلور جيټ الوتکې يو پهٔ بل پسې لکه داويو ماران رابنکاره شوې زمونږ سرته لهٔ رارسيدو سره يې پهٔ هوا کې «فيشنګ» خوشې کړل اوتيرې شوې ، خليل غلى ولاړ او پهٔ ويره ويره يې آسمان ته کتل ، دوه دري ملټه لانهٔ ووتير شوې چې تللې الوتکې بيرته راستنې شوې اودبمونو دانفجار ازانګې پهٔ غره کې تاوشوې .

زه ترونو لاندې ولاړوم دبمبارد نندارە مې کوله چې لهٔ شا چا راغږ کړل ، شاته مې وکتل يوه لويه تيزه وه لاندې يې لوی غار و چې ښه ورته ځير شوم ، خليل مې وپيژانده ، پهٔ زيره پورې يې دغښو نارونه نښتې اوپهٔ غار کې دننه غلى ناست ؤ . ما ورڅه پوښتنه وکړه چې څه وايې پهٔ خوله يې څه ونهٔ ويل

خو دلاس پهٔ اشاره يې پوه شوم چې زه يې هم دبمبارد لهٔ خطر څخه دحفاظت لپاره غار ته بللم . بمبارد پاس دغره پهٔ سر باندې کيدو کهٔ څهٔ هم اثرات يې تر مونږ رارسيدل خو دم ګړۍ غنميت وه ډيره داندپښنې وړ خبره نهٔ وه .

دالوتکو ويرونکی غږ چې به کله پهٔ فضا کې غلى شو دلته به ځکه

وښوريده اوبيا به لهٔ شنو اوتورو لوخړو سره يو ځای دېم دانفجار دروند غږ دسرولمبو پهٔ جامه کې راښکاره شو . کانې به ورغړيدل اوشا وخوا به لهٔ فضا څخه د وړوړو، اوسپنو اوتيزو باران وشو.

زه نپوهيږم چې دابنيرابه چاکړې وه :

« پهٔ کور دې دتيزو باران وشه»

طيارې کوچې وې کوچ يې وکړ اودتورغر پهٔ ميله يې نري نري لوګي پهٔ ځای پريښودل . دره پهٔ مطلق سکون اوخاموشۍ کې ډوبه وه اوداسې ايسيده لکه چې دې هم دېمبارد لهٔ ويرې کومې پناهګاه ته پناه وړې وي .

اوس حالت عادي او د دوهمې هوائي حملې خطر رفع شوی وزمونږ ملګري يو يو لهٔ خپلو ځايونو څخه راولاړ شول او تر ونو لاندې دچينې غاړې ته زما سره پهٔ پستوشګوياندې کښيناستل .

ما انتظار درلود چې اوس به ټول ملګري پهٔ خپل خپل وار سره دېمبارد پهٔ هکله خپلې څرګند ونې کوي ځکه چې ماته لهٔ تيرو څو ورځو څخه دا تجربه شوې وه چې زما ملګري لهٔ دا ډول پيښوسره ډيره اشنائي لري اوهر يو يې دا کوشش کوي چې ځان تر نورو تجربه کار او زړورمبارز وښيي .

خوزما د انتظار پهٔ خلاف کله چې درست ملګري سره راټول شول دېمبارد پهٔ ځای دټوکو ټکالو اوخندا مجلس رامنځ ته شو ، چاخهٔ ويل اوچاخهٔ ، زه ډير حيران وم چې ولې زما ملګرود دومره لوئې پيښې پهٔ باب هيڅ نهٔ ويل .

شايد دا يوازې ماته لويه پيښه وه چې پهٔ ژوند کې مې څه نهٔ وليدلي مايوازې صلح او آرامي پيژندله جنګ زما لپاره يوبې مفهومه عبارت ؤ ، خو ملګرو ته مې يوه عادي لحظه ، تابه ويل چې هيڅ هم نهٔ دي پيښ شوي . زه پهٔ فکر کې وم ، ځان ته ، دوی ته ، ژوند ته ....

رشتيا هم چې دانسانانو غم ښادي دخوړمني باد ، باران دی ، کله وي اوکله نهٔ وي .

همیگشت چون باد در گردخاك — به هردشت ووادی به صد ترس وباك
سیه خانه یی دید ناگه زدور — خوش آینده چون خال برروی خور
منورشدش چشمها زآن سواد — خضر وارورود سیاهی نهاد
زنی یافت چون نافه اش پوست خشك — براوگشته کافورموي چومشك
بدوگفت کاي مادر مهربان — که باشد زوصف توقاصر زبان
زبی قوتیم تنگ گشته نفس — به یك خشك نانم به فریادرس
بگفتا که دارم من از نان فراغ — نخورده در این دشت نان جز کلاغ
بود فارغ از فکر نان خاطرم — اگر دارمش آرزو کافرم
دمی باش ، کز مار یا سوسمار — کنم ماهیی ریگ پرورشکار
نه تابه است برآتش این جانه دیگ — کنم پخته از تف تفسیده ریگ
نشست از سرپای آن رهنورد — به حکم ضرورت ازآن طعمه خورد
چوشد سیراز آن شورخورده کباب — بجنبید در طبع وی میل آب
نشانیك چشمه آبش زدور — چواشك ستمدیده گان تلخ وشور
بدوگفت ازآن چشمه چون بازگشت — که ای بانوی بر وخاتون دشت
چرا رونیاری به ده یابه شهر — که گیری زهر نعمت وناز بهر
بگفتا که هر جای شهرو ده ا ست — یکی سفله بر خلق فرمانده است
قناعت نمودن به ناکام وکام — بدین ناگوار آب وناخوش طعام
از آن به که بهر شکم بخردی — بود زیر فرمان همچون خودی
بیا ساقی وزآن می دل پسند — که گردد از آن سفله همت بلند
فرور یزیك جرعه در جام من — که دولت زند قرعه برنام من
بیا مطرب وزآن نوآیین سرود — که برروی کار آرد آبم زرود
در این کاخ زنگاری افگن خروش — فروبند از کوس شاهیم گوش

(٦، خرد نامه اسکندری ،ص ص ۹۲۵ - ۹۲٦)

از آن جا که جامی از تملق ومداهنه بزرگان دوری جست ، شاید به همان

لږ شيبه دمخه حتى دساه ايستل هم مشكل ؤ خو اوس د كركچ انگازې تر لرې لرې پورې تلې ، هلته تيريدونكى ژوند دقافلې ورستى جرس ، دلته دابديت جاويدان سرود ، هلته دبې شميره هيلو پهٔ ځنكندن كې لويدل اودلته پهٔ سينه كې دنويو ارمانونو ټوكيدل .

داهر څه يو خوب وو چې حقيقت يې درلود اوتعبير يې دافغانستان پهٔ تورو غرونو كې دياقوتو دچينې ملنگ ؤ.

ملنگ څوك ؤ اودياقوتو چينه چيرته وه ؟؟

دا دوه بيلې كيسې دي ددوو تراژيد يو چې د زمان پهٔ دوو لرې فاصلو كښې پيښې شوې اوزه پهٔ يو وار تر يې خبر شوم . هلته دچينې پهٔ غاړه په ناستو خلكو كښې چې ټول ځوانان او دكم عمر خاوندان وو يو دپاخه عمر څښتن هم ليدل كيده چې تردې ګړۍ پورې پته خوله ناست او دچينې پهٔ اوبوكې يې سترګې ښخې كړې وې . زه لهٔ ډير ساعت څخه ورته متوجه وم ، هر څاڅكى داوبو چې به لهٔ چينې څخه پهٔ تيزو وبهيدو دده سترې نظر به تر وروستي پراوه پورې تعقيبولو وړو زه هم چينې او داوبو جريان ته متوجه شوم ډيره پهٔ زړه پورې منظره وه ، پهٔ سپينو سپينو تيزو باندې درنو بهيدونكو اوبو څاڅكي د ښكلي ماشوم پهٔ رخسار، رنو رنو اوښكو ته ورته وې.

زه نپوهيږم چې څومره شيبه به دچينې دشاعرانه حسن پهٔ نندارە وم خوبو وخت دملنگ پهٔ غزلهٔ رويايې عالم څخه را وګرځيدم ، پوښتنه يې كوله :

« چينه دې ډيره خوښه شوه »

ماويل : هو .

زياته يې كړه : رښتيا هم چې ښكلې چينه ده اوبيا غلى شو ، سترګې يې پټې كړې اوتر ډيرې چوپتياوروسته يې يوځل بيا اوبو او هاته وكتل ، ويې خندل اوويې ويل : « پهٔ پخوا زما نو كې وائې دلته يو شپون اوسيده چې دپاچا پهٔ لور مين ؤده ته خداى ښه خبره اوځواني وركړې وه خو دافسوس خبره

دا وه چې دی ډير غريب ؤ اودخپل غربت پهٔ وجه به يې دپردو شپنې کوله ، يوځل دباچا لور ناروغه شوه چې هر څو يې پهٔ طبيبانو وګرځوله ښه يې نهٔ وه آخر چا منجم پاچا ته وويل چې کهٔ دياقوتو غمی ستالور پهٔ لاس کړي رنځ به يې د خدای پهٔ فضل ورک شي خو پهٔ هغه زمانه کې ياقوت چانهٔ پيژندل يوازې يې پهٔ قرآن مجيد کې ذکر شوی ؤ پاچا اعلان وکړ چې کهٔ هر چا ياقوت پيدا کړل زه مې خپله لور هغه ته ورکوم . شپون چې داخبره واوريده ستړی ستومانه به ګرځيدو اولهٔ خدايه به يې دياقوتو سوال کاوه » .

ملنګ چې تردې ځايه راورسيد ويوه اورده ساه يې وايسته او لږ غلی شو ، زه متوجه شوم چې دملنګ رومانې داستان نهٔ يوازې پهٔ مابلکه پهٔ نورومليګرو هم تاثير کړی ځکه چې ټولو پهٔ بې صبرۍ سره دملنګ خولې ته کتل .

پهٔ داسې حال کښې چې دغره لورته يې اشاره کوله :

خپلې کيسې ته يې داسې ادامه ورکړه :

« هاغه دغره څوکه وينې هلته يو زيارت دی چې د ځلورو يارانو دناستې ځای ورته وايي دلته به پهٔ هغه زمانه کې ځلور ياران کښيناستل دوی دخدای نازولي وو دخدای کارونه دي يوه ورځ پهٔ څه کارپسې راښکته شوي وو ، هوا توده وه دبيرته ستنيدو پهٔ لاره کې تندې غلبه پرې وکړه خوچې هر څومره پهٔ اوبو پسې وګرځيدل اوبه يې ونهٔ موندې ، اخر شپون پهٔ مخه ورغی اولهٔ هغه څخه يې داوبو پوښتنه وکړه ، شپانه لهٔ دې چينې څخه پهٔ کتوري کې دوی ته اوبه وروخيژولې ، هغوی شپانه ته دوعا وکړه چې خدای دې هر مراد پوره کړي اوده ته يې وويل چې يو جام نوري اوبه هم دوی ته راوړې کله چې شپون بيا پهٔ اوبو پسې چينې ته راکوز شو کهٔ ګوري داوبوپهٔ ځای سړې سړې دياقوتو دانې پرتې دي پهٔ منډه بيرته خپلو ملګروته ورستون شو خو هلته يې څوک ونهٔ ليدل، بيرته راغی او دچينې لهٔ ياقوتو څخه يې يوه لپه غمي لهٔ ځانه سره واخيستل دپاچا دربار ته ولاړ اوياقوت يې د پاچا لورته وروليږل دخدای پهٔ

حکم هغه ښه شوه او شپون خپل مراد ته ورسيده ».

ملنګ يوځل بياغلی شو خو ملګرو لور دلوره پرې غږ کړل چې بياځهٔ وشو ، ملنګ وخندل او زياته يې کړه :« کلونه راغلو ولاړ اوس لهٔ هغه زماني څخه ډيره موده تيره شوې ، دا ډيره پخوانی کيسه ده ، شپون دپاچالهٔ لور سره واده وکړ . ملنګ چې دې ځای ته راورسيدو پهٔ زوره زوره يې وخندل اووې ويل : بيا به مړشوی وي ، خو اولاده يې لا تر اوسه پورې پهٔ تورغر کې اوسي اودشاهي خيلو پهٔ نوم يادېږي داد شاهي خيلو قوم درست دهغه شپانه اولاده ده . »

دملنګ کيسه ډيره پهٔ زړه پورې وه پهٔ تيره بيادده لهٔ خولې چې پهٔ ډير خوند سره يې کوله اوعجيبه خولا دا وه چې ملنګ پهٔ خپلو خبرو اود کيسې پهٔ واقعيت کلك باور درلود او ويل يې چې داکيسه ده دچا سپين زيري لهٔ خولې اوريدلې او بلکل حقيقت دی پهٔ داسې حال کې چې ديوې اولسي خيالي کيسې پهٔ حقيقت باندې دملنګ يقين اوباور ته مې پهٔ زړه کې خندل .

لهٔ ملنګ څخه‌مې پوښتنه وکړه چې پهٔ چينه کې خو اس ياقوت نشته دا ولې ؟ هغه راته وويل :

دشپانه لهٔ مرګ څخه ډير کلونه وروسته چې اولاده يې رالويه شوه دياقوتو پهٔ چينه باندې يې پهٔ خپل منځ کې جګړه وکړه دپاچا لور چې ددوی مور اوتردې وخته ژوندۍ وه چينې ته قرآن کريم ونيولواولهٔ هغه زماني څخه بيا پهٔ چينه کې ياقوت بند شول» .

دادملنګ دخولې خبرې وې چې لهٔ کوم مشر څخه يې اوريدلې وې اوخدايزده چې هغه ته به لهٔ چاورپاته‌وي .

ملنګ کيسه تمامه کړه اوزه يې لهٔ خپل تصور سره پريښودم ، خدايزده چې حقيقت به يې څه ؤ ، خو دعشق پهٔ کيسه کې دالهٔ اوښکو ډکه سترګه دياقوتو چينه نومېده ، څومره ښکلی نوم او څه روبائي داستان چې زمانو خلق کړی

او دملنګ غوندې يې آلايشه زړونو يې په ګواقعيت باندې ايمان درلود .

په ژړه کې راتيره شوه شايد يوه ورځ زمور دتش لاسه ملت قرباني،اوحماسې هم دپيړيو په تيريدو سره دياقوتو دچينې په شان کيسه شې چې زما غوندې ې باوړه خلك يې په ګخوند اوري خو يقين پرې نلري .

لمر ښه راهسك شوى اوهوا ډيره په ژړه پوري وه ، ترمور خو ګامه ورښكته يو ځوان مجاهد چې تازه يې زيرې اوبريتو خط وهلى و داوبو په ګغاړه ناست اوخپل كالي يې وينځل ، څنګ ته يې يو لوى تور چايجوش هم په ګ اور پروت ؤ .

له ګ ملنګ دوى څخه مو اجازه واخيسته اوورو ورو په خور کې مخ په ګ ښكته روان شوو ، په ګ هر خوګامه کې داوبو چينې اوخوړتول په ګونو سمسور ؤ .

د خور په ګ ښې اړخ کې دغره ترلنې پورې محكه دزينو په ګ څير مرتبه داره پورته شوې اودمنظمو دبرينو بارو په ګ ذريعه پټې پټې بيله شوى وه داسې ايسيده چې څو كاله وړاندې ددې سيمې دخلكو كرونده وه خو اوس يې په ګ پټو کې پرته له ګ ترخو اوخوګانو بل څه ګ نه ښكارېدل دخور په ګ منځنۍ برخه کې چې كاسه يې زمور له ګ مركز څخه تر مخامخ غره پورې رسيده يوه وړه ميداني سطحه وه چې ګڼ كورونه پكې ولاړوو دكورونولهګ ظاهري وضعې څخه څرګندېده چې اوسيد ونكو يې دمقاومت په ګ لومړنيو ورځو کې پښې سپكې کړې دي خكه چې په ګ ټول كلي کې يوازې دوه ځايه دېمبارد نخښې ښكاريدلې نور ټول كورونه روغ رمټ ولاړ وو .

دقوماندان ويل چې په ګ قول دا كلى دناصرو كوچيانو ؤ چې دشورويانو تر تيري وروسته يې اوسيدونكى ددښمن دهوائي حملو په ګ وجه مهاجر شوي اونن سبا دسرحد په ګ كوهات کې له ګ نورو مهاجرينو سره په ګ كمپونو کې اوسيږي .

قوماندان ويل چې سږ كال له ګ دوى سره يو ځاى څوكسه ناصر هم دجهاد له ګ پاره راغلې اودملا ولې جان په ګ نوم يو كوچى چې دهمدې ځاى اوسيدونكى

دی ددې ډلې مشر دی .

قوماندان زياته کړه چې زمونږ اوسنی مرکز هم ددوی په ځای کې دی او هغه کوټه چې مخته يې مونږ ګرينوف ماشيندار اوهاوان توپ درولی دملا بوراده ، ملا بورا دملاولي جان نژدې خپلوان اوده دجبهې نظامي قوماندان دی. قوماندان ماته ددې معلوماتو ترراکولو وروسته په کټ کټ وخندل او بيا بيايې له ځانه سره وويل : « توبه ... توبه خدايه ... توبه . »

مادخندا اوتوبو علت ورځه وپوښت ؟ ده راته وويل :

« ورورە : په ژوند پورې مې وخندل ، داوخت ، اوزمانې ته مې وخندل دخداى تر قدرتونو ځارشم ، ته وګورە چې څنګه خپله ټوله ورکړه په ستر ګې رپ کې له چا اخلي اوچاته يې ورکوي ، له شاهانو شاهي واخلي دملنګې کچکول ته يې کښينوي .. »

قوماندان لګيا و خبرې يې کولې خوزما زړه تل دا ډول خبرو ته چې له هر ځايه مې څوځو ځله اوريدلې ژر په تنګيزې نو ځکه مې حوصله مخ په تمامېدوشوه دقوماندان په خبروکې ورولو يدم او ورته ومې ويل :« داخبرې پريږده داراته روايه چې داوديې خندل ولې ، په ځه باندې ،« ملا بورا » سړی درته نه بريښي که څنګه چې ددې دنامه له يا دولو سره دی په کټ کټ وخندل .

قوماندان بيا په خندا شو اوراته ويې ويل ورورە ته مې تر دادپورې پريږده اوبيايې خپلو خبروته داسې دوام ورکړ .

« کله چې سږ کال مونږ دلومړي ځل له پاره ځلور مياشتې پخوا تورغر ته راغلو او په دې دره کې مو واړول دلته هيڅوك هم نه وو ، څرنګه چې داځای دمجاهدينو دتلو راتلو لار ده ځکه مونږ دمرکز له پاره خوښ کړ ، مونږ لا ځای په ځای شوي نه وو چې په کوهاټ کې ناصر خبر شول او وروسته تر خوورځو پنځه شپږ کسه دمولوي ولي جان په مشری دلته راورسيدل له دوی سره هم داتحاد وسله ده ، داوسله دوی ته مشهور قوماندان حاجي بابا ورکړی

چې هغه هم پهٔ اصل کې د شکردرې » لهٔ ناصرو ځخه دی دا ناصر ډیر هوښیار قوم دی پهٔ ټولو تنظیمو نو کې ننوتلي خو خپل منځنی اتحاد اواتفاق یې بر قرار ساتلی دی، پهٔ هر ځای کې چې وي لهٔ یوبل سره مرسته کوي .

خرنګه چې ناصرزمور لهٔ جبهې څخه خبر شول ځانونه یې دلته راورسول دوی ویریږي چې هسې نهٔ مور ددوی پهٔ ځځکو اوجایداد ونو باندې قبضه وکړو. »

د احمل زما وار ؤ چې باید خندلی مې وای خو ډیر ژرمې ځان ملامته کړ دادغره لهٔ کاهو جوړ شوی خړه کی کورونه اودلاس دګوتو پهٔ شمیر دکروندې پتې کهٔ ماته څهٔ نهٔ ښکاریدل ، نهٔ به ښکاریدل خو خوارو کوچیانو ته دخدای تعالی پهٔ لویه خدائی کې همدا یوازینی ملکیت و .

دتورغر پهٔ ډبرینه لمن کې یو یادوه پتیه ځمکه دکروندې دپاره داسې خلکو ته چې لهٔ پلرونو اونیکه ګانو څخه یې نهٔ پهٔ محکه سیوری لرلوانهٔ پهٔ اسمان ستوری لویه خبره وه . دوی خوارانو پهٔ ډیر شواخون او کړاو سره داپتې جوړ کړې وو . خدایزده چې خاوره یې لهٔ کومه ورته راوړې وه خو اویه به یې پهٔ اغلب ګومان لهٔ چینو څخه پهٔ ژی اوتیمانو کې ورخیژولې ځکه چې پتې اکثر لهٔ اوبو څخه پهٔ لوړه فاصله کې واقع شوي اوداوبو ورخیژولو بله لار یې نهٔ لیدل کیده .

زه اوقوماندان پهٔ خبرو خبرو ښاییسته مزل پهٔ خوږ کې ښکته ولاړو یو ځای ته چې دري لویې لویې تیږی لکه دزینو پوړه یوبه بل پرتې اودچینې نرۍ اویه پرې را روانې وې ورسیدو . منظره ډیره ښکلې وه د چینې شاوخوا داینځرو ونې ولاړې وې .

قوماندان پهٔ یوه تیزه اوزه پهٔ بله کښیناستو ښه ساعت دوآړه دچینې او تورغر پهٔ توصیف لګیا وو، هوا ښکلې اواسمان شین ؤ کله ناکله به د الوتکو دلوګې پهٔ وجه پهٔ افق کې سپینې لیکې پیدا شوې اوبیابه لکه دسپینو وروپهٔ

شان توته توته يوې اوبلې خواته پۀ اسمان کې خوري اوورکې شوې .

زمااوقوماندان تر منځ يوه لويه ډبرينه سطحه پرته وه چې پۀ منځ کې دکاسې پۀ څير ژوره اورنې اوبه پۀ کښې ولاړې وې ، دتيزې سطحه پۀ شګو اوختو پو ښل شوې وه ، ما قوماندان ته وويل : چې کۀ يوه بيلچه يا کوم بل څه راسره وی نو داختې به مو پاکې کړی وی ، قوماندان اوچت لۀ ځايه پاڅيدو اوويې ويل چې اوس به بيلچه درته راپيدا کړم ! ماپۀ تعجب پوښتنه ورڅخه وکړه چې لۀ کومه به يې راپيدا کړې هغه پۀ ځواب کې دغره پۀ لمن کې کورونو ته اشاره وکړه اوويې ويل :

« هلته به پيدا شي »

قوماندان ولاړ زه پۀ زړه کې خوشحاله شوم اولۀ ځان سره مې ويل : ښه دی دلته خو لۀ مورږ نه پرته بل څوک هم ژوند کوي ، لس پنځلس ملټه وروسته قوماندان راښکاره شو يوه زنګ وهلې بيلچه اوبوزوړ تبرګی يې هم پۀ لاس کې ؤ . لۀ راتلو سره يې راته وويل :

« ښه دی تبرګی مې هم پيدا کړ اوس به هلکان دلرګيو دماتولو پۀ وخت نۀ خوړيږي ،»

مالۀ قوماندان څخه پوښتنه وکړه چې تبرګی اوبيلچه چا درکړل ؟ خو هغه پۀ ځواب کې يوه حيرانوو نکې خبر راته وکړه چې هلته هيڅوک هم نشته خلك يې خدای خبر چيرته تللي سامانونه او دکور کالی يې همداسې پۀ ميدان پاتې دي .

لۀ قوماندان څخه مې بيلچه واخسته اوژر ژر مې دتيزو کاسه لۀ شګو اوختو څخه پاکه کړه اوبيا لۀ قوماندان سره هغو کوتو ته چې ده بيلچه اوتبرګی ورڅخه راوړې و روان شوم .

(يون دوام لري)

فضل الله رشتين

په کويټ کښې مې څه وليدل؟

کويټ دفارس خليج پهٔ جنوبي ساحل کښې يو کوچنی شتمن عربي هيواد دی ، چې پهٔ ١٩٦٠ عيسوي کال کښې يې خپل استقلال لهٔ انګليسانو نه ترلاسه کړ .

پهٔ ١٩١٤ عيسوي کال کښې کويټ دعثماني دولت تر فشار لاندې راغی چې د بغداد او بصرې لهٔ لارې دکويټ خاورې ته داورګاډي دپټلی لار جوړه اوپرانستل شي . پهٔ هغه وخت کښې انګريزانو دکويټ دامير پلوي کوله ، ځکه چې لهٔ ١٨٢٠ عيسوي کال نه د انګريزانو سياست دفارس خليج پهٔ سيمه کښې ډير پياوړی اوغښتلی و . پهٔ همدغه کال انګريزانو دکويټ لهٔ شيخانو سره دهمکاری اودوستی يوتړون لاس ليک کړی و .انګريزانو دا تعهد کړی و ، چې لهٔ بهر نه پر کويټ باندې دهرډول تيری اويرغل پهٔ صورت کښې به انګلستان دکويټ د خاورې دفاع کوی .

پهٔ ۱۹۱٤ عيسوي کال کښې دالمان نفوذ پهٔ عثماني دربار کښې خپل اوج ته رسيدلي و . دترکانو ځوان حکومت پهٔ سيمه ايزو سياستونو کښې دبرلن دستراتيژيکو اهدافو پلوي کوله . پهٔ هغه وخت کښې عراق دعثماني دولت يو جز و .

انګريزانو دکويټ شيخان ترخپل فشار لاندې راوستل . پهٔ هغه وخت کښې پر کويټ ، بحرين او نوروخليجي هيوادو کښې تيل لانهٔ ووکشف شوې اوهيڅوک دتيلو داستخراج پهٔ فکر کښې نهٔ وو . دکويټ دوخت امير دانګريزانو غوښتنه ومنله اودکويټ خاوري ته يې دبغداد اوبصرې لهٔ لارې د اورګادي دپټلې دجورولو اجازه ورنکړه . دحجاز دعربو اودکويټ دشيخانو تر مينځ دکويټ دمالکيت پهٔ سر جګړې وشوې ، خو څرنګه چې انګريزانو دکويټ دشيخانو پلوي کوله ، نوا بن سعود دکويټ پر خاوره لهٔ تيري څخه لاس واخيست اوپهٔ دې توګه کويټ لهٔ انګريزانو نه خپل استقلال ترلاسه کړ .

وروسته بيا پهٔ کويټ کښې خارجيانو دتيلو اکتشافي فعاليتونه پيل کړل چې دغوفعاليتونو بنه نتيجه ورکړه اوپهٔ دې توګه دتيلو ځاګانو دکويټ پهٔ اجتماعي، اقتصادي اوسياسي وضعيت کښې لوی اومثبت بدلونونه راوستل .

کله چې کويټ پهٔ ۱۹٦۰ عيسوي کال کښې خپل استقلال تر لاسه کړ ، نوعراق لهٔ موقع نه پهٔ استفاده د کويټ دنيولو پهٔ فکرکښې شو .دعراق دوخت کمونست صدراعظم عبدالکريم قاسم لهٔ انګريزانو سره فکري اوسياسي تضاد درلود . دهٔ ادعا وکړه چې کويټ دعراق دخاوري يو جز دی او ښايي چې دا جز بيرته له پلرنۍ خاوري سره ضميمه شي ، دعبدالکريم قاسم دغه ادعا دهټلر لهٔ هغې ادعا سره ورته والی لري ، چې ويلي يې وو: اطريش دالمان دخاوري يوه نه بيليدونکې برخه ده اوښايي چې المان ته ورکړشي . هټلر تر عبدالکريم قاسم هوښيار اوپهٔ خپل سياست کښې بريالی و. هغه خپله ادعا ثابته کړه اواطريش لهٔ المان سره ملحق شو اوتر ۱۹٤۸ عيسوي کال پوري دالمان دخاوري

يو جز و.

دکويټ دوخت امير لهٔ انګلستان نه دنظامي مرستې غوښتنه وکړه . دانګلستان دحکومت لهٔ خوا داغوښتنه ومنل شوه اودانګريزانو نظامي قواوې دکويټ خاورې اوسمندر ته ورسيدې . کله چې عبدالکريم قاسم دکويټ اوعراق پهٔ پولو اوسمندر کښې دانګريزانو دقواوو زور اوقوت وليد ، نو دکويټ دنيولو اراده يې بدله کړه او پهٔ زړهپوشو ټانکونو کښې يې خپلو پوځيانو ته امر وکړ چې ډير ژر خپلو مرکزونو ته ستانه شي . پهٔ ۱۹۶۱ عيسوي کال کښې عبدالکريم قاسم دکويټ لهٔ شيخانو نه پهٔ ميليونو ليرې واخيستې اوروغه جوړه يې ورسره وکړه . تر روغې جوړې وروسته يې پهٔ همدې کال دکويټ استقلال پهٔ رسميت وپيژانده .

عبدالکريم قاسم پهٔ ۱۹۶۳ کال کښې ديوې خونړې کودتا پهٔ نتيجه کښې مړ شو دقاسم لهٔ مرګ نه پس تر ۱۹۸۵ عيسوي کال پورې دکويټ اوعراق تر مينځ پهٔ ښکاره ډول کوم سرحدي اختلاف يا شخړه مينځ ته رانغله ، اوددواړو ګاونډيو هيوادو ترمينځ ښې پهٔ زړه پورې اوتودې اړيکې موجودې وې کويټ به هر کال پهٔ ميليارد ومتره مکعبه دښلو اوبه د دجلې اوفرات لهٔ سيندنه تر لاسه کولې . عراق دننه پهٔ کويټ کښې سياسي اواعلامي فعاليتونه کول ، اودکويټ تاجرانو پهٔ عراق کښې سرمايه ګذاري کړې وه .

کويټ کوم غښتلی پوځ نهٔ درلود . پهٔ وروستيو کلونو کښې يو کوچنی تعليم يافته کويټي پوځ جوړ شوی و، خو دغه کوچنی اوناتجربه پوځ دعراق دغښتلي پوځ پهٔ مقابل کښې مقاومت ونهٔ کړای شو .

کله چې پهٔ ۱۹۶۰ عيسوي کال کښې عبدالکريم قاسم دکويټ دمالکيت ادعا وکړه اوغوښتل يې چې پر کويټ يرغل وکړي او ټرخپلې قبضې لاندې يې راولي ، نو دکويټ دوخت امير شيخ احمد جابر الصباح (داوسنۍ امير پلار مړوهيده چې پرکويټ باندې دعراق دقواوو دتيري دمخ نيولې لهٔ پاره به دعربي

علت کمتر شاعری مانند او موفق شد که در اثنای زنده گانی خویش دارای حرمتی چنان عظیم وشهرتی چنان وسیع شود (۳، ص ۷۵٤) .

وجود مکتوبات جامی به ممالك شرق وغرب ، از بلاد روم تادیار هند به شهرت جهانگیر آن استاد در زمان حیاتش دلالت میکند ، سلاطین وامرای معروف زمان اوبا جامی همیشه مکاتبه داشته وبه او ارادت ودوستی خاص داشتند (۳، ص ص ۷۵۵) . از سلاطین معروف زمان جامی میتوان از ابوالغازی سلطان حسین بایقرا، ابوسعید تیموری (۸۵۵ - ۸۷۲ هـ)، سلطان یعقوب آق قوینلو (۸۸٤ ـ ۸۹٦ هـ)، جهانشاه قراقوینلو (۸٤۲ - ۸۷۲هـ) وسلطان محمد فاتح پادشاه عثمانی (۸۵۵ - ۸۸٦ هـ) نام برد (۱،ص ٤٤ ۱).

جامی با آنکه سلاطین وامراء را مدح نمیکرد باز آنان وی را میستودند وگرامی میداشتند ودر صدر مجلس خویش جایش میدادند .

گویند : سلطان حسین بابقرا مدرسه ای درهرات ساخت وروز افتتاح مدرسه درضمن آن جشن عظیمی بر پا کرد ودر گرداگرد مدرسه برای واردین برحسب مقام ودرجه محلها تعیین شد ، درصدر محلی برای سلطان وشاهزاده‌گان ووزراء و درد وسمت برای طبقات مردم معلوم گشت ، دریك قسمت تخت شاهی جای جامی ودر جانب دیگر امیر علی شیر بایستی بنشینند ، ناگهان جامی از درد رآمد وبه واسطه ضعف وناتوانی مزاج نتوانست خود رابه صدر مجلس بر ساند ، در پایین مدرسه محلی که خالی از جاه وجلال بود انتخاب کرده‌و برزمین نشست ، در اثر آن، وضع مجلس برهم خورد وذیل آن صدر وصدرش ذیل شده ووزیرو شاهزاده گان در پیرامون او جای گزیدند (۸، ص ۱۵۷).

امیر علیشیرنوایی وزیر دانشمند سلطان حسین بایقرا از اراد تمندان جامی است که احترامی خاص برای وی قایل بوده وشرح حال اورادر کتاب

هيواد ومشران کومه هڅه او کوشش ونهٔ کړي اونهٔ به کويټ ته عربي قواوي راواستول شي لهٔ بلې خوا دی پهٔ دې خبره هم پوهيده ، چې ددهٔ پنځه لس زره پوځ دعراق دغښتلي پوځ مقابله نهٔ شي کولای ، نو ځکه يې لهٔ انګريزانونه وغوښتل ، چې کويټ ته نظامي قواوي ورولېږي او دعراقي قواوو پهٔ مقابل کښې دکويټ حمايت اودفاع وکړي . دکويټ دوخت امير پوهيده ، چې د کويټ داستقلال اصلي دښمن عراق دی ، دهٔ يو بې طرفه سياست لوباوه اولهٔ خپلو ګاونډيو هيوادو سره يې دښو مناسباتو پهٔ ساتلو کښې کوشش کاوه ، مګر دکويټ اوسني امير شيخ جابر الاحمد الصباح دخپل پلار دغه دبې طرفي سياست پهٔ نظر کښې ونهٔ نيوه اوهغه يې تعقيب نهٔ کړ. دعراق اوايران داته کلنۍ جګړې پهٔ دوران کښې کويټ دعراق خوا ونيوه اوډيري مادي اومعنوي مرستې يې ورسره وکړې . عراق دجنګ پهٔ وخت کښې مادي مرستوته اړتيا درلوده . کويټ ورته هرکال پهٔ ميليارډو ډالرې ورکولې ، چې دغه پور د ۳۵ ميليارډو ډالرونه اوښتی و . کويټ دايران اوعراق دجګړې پهٔ اته کلنه موده کښې دعراق تر فشار لاندې و . پهٔ داسې حال کښې چې نور خليجي اوعربي هيوادونه لکه عمان ، عربي متحده امارات ، بحرين اوقطر تر دغه فشار لاندې نه وو راغلي . کيدای شي، چې کويټ لهٔ عراق سره لهٔ مرستواوپهٔ جګړه کښې دعراق پهٔ خواله دريدلو يو هدف دار، چې عراق دې ته چمتو شي ، چې لهٔ کويټ سره دسرحدونو دټاکلو پهٔ باره کښې خبرې اترې وکړي اوخپل منځني اختلافات پهٔ مسالمت آميزه توګه ورسره حل اوفصل کړي ، چې د دواړو هيوادو تر منځ دا اوزده سرحدي کشاله لهٔ مينځه لاړه شي .

دعراق اوکويټ ترمنځ پخواني اختلافات ددوو مهمو ستراتيژيکي جزيرو يعنې «وربه »او«بوبيان» پهٔ سرو. دا جزيرې دکويټ پهٔ خټيځ کښې واقع شوې دي عراق دفارس پهٔ خليج کښې د شپيتو کيلومترو پهٔ اوزدوالي سمندري ساحل لري ،چې دعراق لهٔ پاره پهٔ فارس خليج کښې داوبوبومهم

منفذ ګڼل کيږي . لهٔ بين المللي مقرراتو سره سم عراق دشط العرب داوبو دنيمايي برخې مالکيت لري . عراق غوښتل چې کويټ به د «وربه» او«بوبيان» دوه جزيرې عراق ته پريږدي اويابه يې د ۹۹ کالو لهٔ پاره پهٔ اجاره ورکړي .

عراق يو زيات شمير کښتۍ لهٔ ايټاليا اوفرانسې نه پهٔ بيه اخيستې وې اوغوښتل يې چې ددغو بيړيو د ساتلو لهٔ پاره مناسبې سمندري اډې ولري ، نوځکه دعراق لهٔ پاره دکويټ د «وربه» او«بو بيان» جزيرو حياتي ارزښت درلود ، مګر څرنګه چې کويټ يو کوچنی هيواد دی اود خاورې وسعت يې ډير لږ دی نو نهٔ يې غوښتل، چې عراق ته ددغو جزيرو پهٔ سپارلو کومې موافقې ته ورسيږي .

دايران اوعراق داته کلنې جګړې پهٔ دوران کښې عراق لهٔ کويټ نه ۳۵ ميلياردو ډالره پور تر لاسه کړی و ، د پور داخستلو پهٔ موقع عراق ددې مسئلې چې دا پور به بلا عوض وي کهٔ نهٔ ، نهٔ وو ويلې اونهٔ يې کومه يادونه کړې وه ، خوکله چې دايران اوعراق جګړه پای ته ورسيده ، نو کويټ لهٔ عراق نه خپل پور وغوښت . څرنګه چې عراق لهٔ ډيرو ناورو اقتصادي ستونزو سره مخامخ و، نود پور پهٔ پيسويې ځان کوڼ اولهٔ کويټ نه يې دنورو مادي مرستو غوښتنه وکړه . اوهم يې کويټ له عراق نه دتيلو پهٔ غلا تورن کړ . صدام حسين پهٔ خپلو خبرو اووياناو کښې تل دا خبره کوله ، چې کهٔ عراق نهٔ وای ، نو دايران اسلامي انقلاب به لکه داور لمبي مالو چو ته رسيدلی وای اودفارس خليج جنوبي برخې به يې سيځلی وای ، صدام حسين پهٔ حقيقت کښې لهٔ ايران سره جګړه دعربو دګټو اومنافعو ددفاع پهٔ توګه ګڼله ، نو ځکه يې ويل چې کويټ ، سعودي عربستان ، عربي متحده امارات او نورو خليجي هيوادونو ته ښايي، چې دعراق دبيا ودانولو اوآبادولو پهٔ کارکښې برخه واخلي او دتاوانونو جبران وکړي . صدام حسين دا ټه درلوده چې خليجي هيوادونه به عراق ته خپل پورونه وروبخښي ،خودخليج هيوادو داسې ونهٔ کړل .

دعراق دحکومت استازو اودکویټ شیخانود دواړو هیوادو ترمینځ دسرحدي اختلافاتو اودتیلو دغلا پر مسئله ډیرې خبرې او مذاکرې وکړې ، ددواړو هیوادو داستازو ترمینځ وروستۍ خبرې اترې د ۱۹۹۰ کال داګست پهٔ لومړۍ نیټه پهٔ سعودي عربستان کښې وشوې خو داخبرې اترې ناکامې شوې . دعراق استازي عزت ابراهیم کویټ پهٔ دې تورن کړ ، چې د رومیله دتیلو لهٔ ځاګانونه کویټ دعراق برخه تیل استخراج کړي اوصادر کړي دي ، خو دکویټ استازي شیخ سعد العبدالله الصباح دعراق داستازي دا تورد دواړو هیوادو تر منیځ د اړیکو دخړپړتیالهٔ پاره یوه پلمه وګڼله . څرنګه چې ددواړو هیوادو داستازو ترمینځ دسرحدي کشالي دهوارولو او دتیلو دغلا پرمسئله موافقه حاصله نهٔ شوه ، نو داګست پهٔ دوهمه دسهار پهٔ دوو بجو عراقي قواوو دکویټ پر خاوره حمله پیل کړه .

عراق لهٔ ایران سره پهٔ الجزایر کښې د ۱۹۷۵ عیسوي کال د پریکړه لیکونو پهٔ ارتباط خبرې اترې وکړې ، عراق دالجزایر د ۱۹۷۵ عیسوي کال پریکړه لیکونو ته غاړه کیښوده اولهٔ ایران نه یې پهٔ جګړه کښې نیولې خاوره ایران ته ورکړه . دځینو سیاسي محافلو پهٔ نظر دعراق لهٔ خوا پهٔ الجزایرکښې د ۱۹۷۵ کال دپریکړه لیکونو منل دعراق دحکومت دکمزورۍ یودلیل و .ددې پریکړه لیکونو منلودعراق خلکو ته دا سوال پیدا کړچې ولې اود څه لهٔ پاره اته کاله لهٔ ایران سره وجنګید و؟ عراقیانو به ویل :

موږاته کاله لهٔ ایران سره وجنګیدو ، پهٔ زرګونو عراقي ځوانان لهٔ مینځه لاړل ،ډیر نظامي اوغیر نظامي مهم مراکز ، کلي کورونه اوښارونه پهٔ بمونو اوتوپونو وران ویجاړ شول ، او هیواد مولهٔ ډیرناوړه اقتصادي بحران سره مخامخ شو ، دعراقي دینارو بیه چې ترجګړې دمخه دري امریکا یي ډالره وه ، اوس پهٔ شلو امریکایي سنټو معامله کیږي »

پرکويټ باندې دعراقيانو دنظامي حملې اهداف :

دکويټ پرخاوره دعراقيانو نظامي حملې تحريک آميزه جنبه درلوده عراق د يوقدرت مند پوځ لرونکی هيواد و لهٔ ايران سره داته کلنې جګړې کافي تجربه يې هم درلوده ، نو ځکه يې ډير غرور درلود .

پهٔ کويټ کښې ځينو سياسي مبصرينو داخبره کوله چې عراق دځينو هيوادو لهٔ خوا لمسول شوی و ، چې پر کويت حمله وکړي ، خو ځينو نورو به داويل چې صدام حسين غوښتل چې د عراق دپوځ حيثيت اومورال دخلکو پهٔ اذهانو کښې لوړ اوروحيه يې ژوند ی کړي ځينو کويټيانو به دعراقيانو دحملې پهٔ ارتباط داسې څرګندونې کولې :

« دعراق حکومت لهٔ ډيرو ناوړو اقتصادي ستونزو سره مخامخ و . دباندنيو هيوادو پورونه ورباندې وو . عراق ددغو پورونو تربار لاندی راغلی و ؛ نو ځکه يې دکويټ پر خاوره حمله وکړه ، چې پهٔ دې توګه دا کوچنی هيواد چې بې پناه تيل لري لهٔ خپلې خاورې سره وتړي او خپل کمزورې اقتصاد پياوړی کړي . »

ځينو نورو بيا داويل چې :« دعراق حکومت دانهٔ شو زغملای چې يوګاونډی هيواد يې دومره شتمن وي چې خلک يې ژوند پهٔ عيش او نوش تيروي ، پهٔ ښايسته موټروکښې ګرځي، پهٔ ښکلو ماڼيو کښې اوسيږي ، دژوند ټول وسايل ورته مهيا وي ، خارجي هيوادو ته سفرونه کوي، بې ځايه لګښتونه کوي ، پهٔ کورونو کښې ځوځو خدمتګاري ساتي ، فيزيکي اودرانه کارونه نهٔ کوي ،پهٔ خارجي هيوادو کښې سرمايه ګذاري کوي ، هوټلونه اخلي، کورونه جوړوي اوحکومت يې خارجي هيوادوته پورونه ورکوي ، دخارجي هيوادوپهٔ بانکونو کښې پيسې جمع کوي او.... پهٔ داسې حال کښې چې دعراق خلک دژوند اوروزګارلهٔ بدبختي سره لاس او ګريوان دي . »

کويټيانو به بيا ويل « عراق هم ډير تيل لري اودتيلو لهٔ درکه يې عايدات

ډير دي دعراق حکومت هم کولای شول چې دخپلو خلکو دژوند د بهبود اوهوسايي لهٔ پاره ټول وسايل برابر کړي ، خو داسې نهٔ کوي ، ځکه چې صدام يواځې اويواځې د خپل نظامي قدرت دپياوړتيا پهٔ فکر کښې و يوميليون پوځيان يې تربيه کړي وو. پهٔ نظامي ساحه کښې دعراق لګښت ډير زيات و ، نوځکه دعراق عامو خلکو دېې وزلې اوغريبې ژوند تيراوه .

ځينو بيا دا تبصرې کولې چې « صدام حسين دامريکا لخوا پهٔ غير مستقيمه توګه تشويق شوی و، چې پر کويټ حمله وکړي . ځينو نورو داويل چې روسانو صدام حسين ته ډاډ ورکړی و چې ددهٔ پهٔ کار کښې به مداخله نهٔ کوي ».

دايران دحکومت ددريځ او رول پهٔ ارتباط هم ځرګندونې کيدې .

ځينو خلکو ويل چې « ايران به دخليج پهٔ جګړه کښې دېې طرفې سياست ته ادامه ورکوي اودعراق حکوت ته يې اطمينان ورکړی دی چې دخليج دجګړې پهٔ موقع ايرانيان دعراق پر خاوره حمله نهٔ کوي » .

خلکوبه دا تبصرې کولې چې« صدام يو ډير هوښيار سياستمداردی ، خومتل دی چې هوښيار مرغه پهٔ دوو لومو کښې نښلي ، صدام حسين لکه هوښيار مرغه دروس اومريکا دواړوپهٔ لومو کښې ګير شو . »

ځينوسياستمدارانو دا ځرګندونې کولې چې « دکويټ پر خاوره دعراقيانو د حملې تر شا چې هرهدف و، هغه هدف يواځې اريواځې دعراق دخلکو لهٔ پاره يې هدفه تباهي مينځ ته راوړه . دعراق هدف داو ، چې کويټ دعراق دخاورې يو جز وګرځوي اوپهٔ خپله جغرافيايي نقشه کښې يې راولي ، خودغه هدف يې لهٔ دې چې کومه نتيجه ورکړي لهٔ ناکامۍ سره مخامخ شو .

دکويټ پر خاوره دعراقي نظامي قواوو حمله :

د ۱۹۹۰ عيسوي کال داګست دوهمه نيټه دپنځ شنبې دسهار ځلور نيمې بجې وې،دعادت لهٔ مخې دسهار د لمانځه داداکولو لهٔ پاره لهٔ خوابه خوبه

راپاځیدم چې ناڅاپه مې دجنګي جټ الوتکو غږ تر غوږشو . دخپلې خونې ور مې پرانست اوبهر غولې ته ووتم . دوه جنګي جټ الوتکې چې پهٔ ډیر سرعت اوکمې ارتفاع سره دکویټ پهٔ فضا کښې دالوتو پهٔ حال کښې وې ، پهٔ سترګو ولګیدې . لږ شیبه پس څوهلیکوپټرې دبیان پهٔ منطقه کښې دکویټ د امیر دنوې مانۍ دپاسه دځرخیدو پهٔ حال کښې راښکاره شوې . دایوه عجیبه اوغیر عادي پیښه وه چې زه یې دفکر پهٔ عالم کښې ډوب کړم . هرڅه چې مې فکر کاوه ، خو دا اټکل مې نهٔ شو کولای چې ووایم واقعاً څه پیښ شوي دي ؟

اودس مې وکړ اودسهار لمونځ مې ادا کړ لهٔ لمانځه نه وروسته مې خپله کوچنۍ راډیو دخبرونو لهٔ پاره بله کړه دکویټ پهٔ وخت دسهار پنځه بجې وې چې دلومړي ځل لهٔ پاره مې دا خبر د بې بې سي راډیو لهٔ پښتو خپرونې نه واورید. « عراقي قواوې دکویټ خاورې ته ننوتې دي اوپر ډیر سرعت سره دښار مرکز ته دحرکت پهٔ حال کښې دي . حمله دسهار پهٔ دوو بجو پیل شوې ده» هیڅ باور مې نهٔ راته چې پهٔ رښتیا سره به داسې پیښه شوې وي .

دسهار پهٔ شپږو بجو لهٔ کوره ووتم . پهٔ کوڅه کښې مې دوه درې ګاونډي کویټیان پهٔ غیر عادي حالت کښې ولیدل ، ویره او ډار یې لهٔ ورایه پهٔ ځیرو کښې ښکاریده . پوښتنه مې تریې وکړه چې څه خبره ده ؟ یوه مې پهٔ ځواب کښې وویل « ناڅرګنده صدام زمونږ پر خاوره تیری کړی . خپلې نظامي قواوې یې رالیږلې اوغواړي چې کویټ ترخپلې قبضې لاندې راولي » . لهٔ دغو کویټانو سره دیو څو دقیقو خبرونه پس کورته ننوتم . خپلو افغاني دوستانوته مې تیلفونونه وکړل ، خوزمالهٔ دوستانو نه یو هم لهٔ دې موضوع نه خبر نهٔ و. بیا مې تلویزیون بل کړ دکویټ لهٔ تلویزیون نه ملي ترانې اوسندرې خپریدې دتلویزیون ویاند چې دکویټ دقانوني حکومت نماینده ګڼي یې کوله ، پهٔ لوړ امانیولي آواز سره بیانیې ورکولې اواطلاعیې یې خپرولې او دکویټ خلك یې

دعراقي قواووپهٔ مقابل کښې د مقابلې لهٔ پاره دعوت کول :

« عراق ستاسو پر خاوره تيرى کړى دى ، عراقي پوځ دکويټ خاورې ته راننوتى دى ،پاځيږئ اولهٔ خپلې خاورې دفاع وکړئ . »

دتلويزيون وياند همدا شان لهٔ امريکا اونورو دوستو هيوادو نه غوښتنه کوله چې ډير ژر او پهٔ تلوار سره دکويټ مرستې ته ورسيږي ، او دعراقي قواوو لهٔ تيرې نه دې يې وژغورې .

« دکويټ استقلال اودخاورې تماميت پهٔ خطر کښې دى ، اشغالګرې عراقي قواوې دکويټ خاورې ته راننوتې دي . لهٔ ټولو عربي اودوستو هيوادو نه غوښتل کيږي چې دکويټ مرستې ته راورسيږي اوکويټ د عراقي قواوولهٔ حملې نه وژغورې ».

مګر پهٔ هغه ورځ هيڅ کوم عربي يا دوست هيواد دکويټ مرستې ته ونهٔ رسيد، ځکه چې دعراق حکومت ګواښ کړى وچې کهٔ چيرې امريکا يا بل کوم هيواد مداخله وکړي نوعراق به لهٔ کويټ نه هديره جوړه کړي .

عراقي قواوې يې لهٔ دې چې لهٔ کوم کلك مقاومت سره مخامخ شي ، ويې کړاى شو ، چې ددووساعتوپهٔ لنډه موده کښې دجهرى ولايت ته چې دعراق لهٔ سرحد نه پهٔ خلويښت کيلومتره کښې پروت دى ورسيږي . تر خپلې قبضې لاندې يې راولي . د جهرى دولايت لهٔ نيولو نه پس عراقي قواوې دکويټ دښار پهٔ لور چې دجهرې لهٔ ولايت نه تقريباً ديرش کيلومتره مسافه لري، حرکت وکړ. پهٔ زرهپوشو ټانکونوکښې سپاره عراقي پوځيان دسرحد اودکويټ دښار دمرکز ترمنځ پهٔ اويا کيلومتره جاده کښې دحرکت پهٔ حال کښې وو . عراقي پراشوټي پوځيانو لهٔ هليکوپټرو نه ځانونه ځمکې ته راغورځول اوپهٔ ډيره چټکۍ اومهارت سره يې دښار مهمې ستراتيژيکي سيمې اومرکزونه محاصره کول . دسهار داوو بجو پهٔ شااوخوا کښې عراقي ټانکونه اومسلحې قواوې دښار سرکونو اوجادوته ورسيدې او ټولې لارې يې دخلکو پر مخ وترلې . دسيف

قصر چې دامير قصر دی او دعظمی صدارت مانی چې دښار پهٔ مرکز اودساحل پهٔ غاړه پرته ده ، دعراقي قواوو تر محاصري لاندې راغلل . دامیري ګارډ قواوې د امیر دکشري ورور شیخ فهد الاحمد الصباح پهٔ قیادت دعراقي قواوو مقابلې ته راووتې، خودا یو ساعته مقاومت دامیر دورور پهٔ وژل کیدو پای ته ورسید. دامیري ګارډ یو زیات شمیر عسکر هم پهٔ دې سخته جګړه کښې لهٔ مینځه لاړل اوپهٔ دې توګه دامیر قصر دعراقي قواوو پهٔ لاس ورغی .

دکویټ امیر او ولیعهد ، دحکومت غړي ، لوړ رتبه دولتي مامورین شیخان ، نامتو کویټي شخصیتونه اودمسلحو قواوو لوړ رتبه افسران دکویټ پر خاوره دعراقي قواوو لهٔ حملې نه تقریباً دوه ساعته دمخه د ګاونډي هیواد سعودي عربستان خاورې ته رسیدلي وو . دکویټ پرخاوره دعراقي قواوو دحملې پهٔ وخت کښې دکویټ دمسلحو قواوو یو زیات شمیر پوځي افسرانو اوصاحب منصبانو لهٔ کویټ نه بهرپهٔ باندنیو هیوادو کښې داوړې رخصتي تیروله ، یو شمیر پوځي منصب داران اوپوځیان دعراقي قواوو د ناڅاپي حملې پهٔ وخت پهٔ خپلو کورونو کښې پهٔ خوازه خوب ویده وو. پهٔ پوځي قشلو اوقرار ګاوو کښې داسې افسر یا صاحب منصب نهٔ و ، چې دکویټ ځمکنیو ،هوایي یا بحري قواوو ته قوماندہ ورکړي چې دعراقي قواوو پهٔ مقابل کښې پهٔ خپلو عملیاتو لاس پورې کړي. عراقي قواوو دکویټ دپوځ ددې کمزورې نه پهٔ استفاده وکړای شول چې پهٔ ډیر لږ وخت او پهٔ ډیر آسانۍ دکویټ هغه پوځیان چې پهٔ قشلو کښې پاتې وو ، محاصره او تسلیمیدو ته مجبور کړي .عراقي قواوو به کویټي پوځیان خلع سلاح کول او خپلو کورونه به یې لیږل .

دکویټ کمزوري اردو چې جنګي تجربه یې نهٔ درلوده اولهٔ بلې خوا موثره قوماندہ هم ورسره نهٔ وه ویې نهٔ کړای شول چې دعراق دقدرت مند پوځ پهٔ وړاندې چې شمیریې پهٔ کویټ کښې سلو زرو ته رسیده، مقاومت وکړي .

دعراق سل زره پوځیانو دپنځو سوه ټانکونو ، او یوشمیر الوتکوسره

وکړای شول چې پهٔ ډير لږ وخت کښې نفتي ستراتيژيکو سيمو ، هوايي ډګر ، نظامي مرکزونو، دتيلو تصفيه خانواو ځاکانو ته پهٔ ډير سرعت سره ورسيږي .

دعراق حکومت به د راډيو اوتلويزيون لهٔ ليارئ داسې اطلاعيې خپرولې چې عراقي قواوې کويټ ته دکويټ ديو شمير آزادي غوښتونکو مرستې ته ورغلې دي ،چې غواړي د آل صباح طاغوتي متنفر رژيم رانسکور کړي .

خلک نهٔ پوهيدل چې دآل الصباح دحاکمې کورنۍ مخالفين اود آزادۍ غوښتونکي عناصر به څوک وي ؟ دکويټ دخلکو اوپهٔ کويټ کښې مقيمو خارجي اتباعو پهٔ اذهانو کښې دا تصور موجود نهٔ و ، چې دکويټ حکومت اود آل صباح حاکمه کورنۍ به دننه پهٔ کويټ کښې داسې مخالفين يا دښمنان ولري چې دالصباح دحاکمې کورنۍ پرخلاف قيام وکړي اوهغه لهٔ مينځه يوسي. البته يو شمير روشنفکره کويتي ځوانان دکويټ پهٔ نوې ټولنه کښې پيدا شوې وو ، چې دکويټ دخلکو لهٔ پاره د زياتره سياسي اوفکري آزادۍ غوښتونکي اودملي شورى دجوړيدو لهٔ پاره دآزادو انتخاباتو پلويان وو ، مګر لهٔ دې کار نه ددوى دامقصد نهٔ و ، چې دالصباح حاکمه کورنۍ دسقوط اوپهٔ ځاى يې يو بل نظام جوړ اوبرقرار کړى شي . د کويټ دعامو خلکو اجتماعي ژوند اواقتصادي وضع څنګه چې دوى پهٔ خپله ويل دقناعت وړ وه دژوند معيار ډير لوړ و ، چې دغه معيار دنړۍ دډيرو هيوادو دخلکو دژوند دمعيار پهٔ پرتله ډير توپير درلود اودمقايسې وړ نهٔ و ، نوځکه کويټيان دخپل حکومت لهٔ اجتماعي اواقتصادي سياستو نو نه خوښ ښکاره کيدل ، او پهٔ دې فکر کښې نهٔ وو، چې دا اجتماعي اقتصادي ښه نظام ګډ وړ اولهٔ مينځه يوسي .

کويټيانو ويل چې دعراق د حکومت دا ادعا چې پهٔ کويټ کښې يو شمير آزادي غوښتونکو عناصرو دآل صباح دکورنۍ دحکومت دنسکورولو لهٔ پاره ملي قيام کړى و دا کاملاً يوه بې بنياده اودروغجنه ادعا وه ، چې صرف

تبليغاتي جنبه يې درلوده .کويټيانو داهم زياتوله ، چې مور دعراق دا ادعا پهٔ هيڅ صورت دتائيد ور نهٔ ګڼو . هغو روشنفکره کويتي ځوانانو چې دکويټ دخلکو لهٔ پاره د زياتره سياسي اوفردي آزادیو غوښتونکي وو ، هغوی هم سمدستي دکويټ پر خاوره دعراقي قواوو حمله وغندله اولهٔ کويټ نه يې دعراقي قواوو دبې قيده اوشرطه وتلو غوښتنه وکړه .

يو شمير کويتي ملي شخصيتونه چې دعراق د حکومت د ادعا لهٔ مخې دالصباح لهٔ حاکمې کورنۍ سره يې سياسي اختلافات درلودل، دعراقيانو له خوا وربانديې فشار راغی اوترډيرې شکنجې لاندې ونيول شول ، چې پهٔ کويټ کښې يو نوی حکومت جوړکړي اودآل صباح دحکومت پهٔ ځای يې صحنې ته راولي ، مګر دغوملي شخصيتونو دعراق دحکومت دډير زيات فشار اوشکنجې باوجود نوی حکومت جوړ نهٔ کړ دوی به ويل چې داسې يو حکومت به دصدام يو ګوډا ګی حکومت وي ، چې دعراق د وسله والو قواوو پهٔ زور به منځ ته راغلی وي .

ځرنګه چې صدام حسين خپل دغه هدف ته درسيدو پهٔ لارکښې پاتې راغی ، نو علاحسن علي يې چې ويل کيدل پهٔ اصل عراقی اودکويټ پهٔ اردو کښې د ټيټې رتبې يو افسر و دکويټ دمؤقت حکومت دصدراعظم پهٔ حيث وټاکه .

دملي دفاع اودکورنيو چارو دوزارتو دندی يې هم دهٔ ته وروسپارلې ، علاحسن علي دخپل مؤقت حکومت مؤقته کابينه ، چې دکويټيانو لهٔ ادعا سره عراقي الاصله وزيران پهٔ کښې وو معرفي کړه. دمؤقت حکومت لهٔ جوړيدو نه شايد دصدام حسين مقصد داو ، چې نړۍ ته ښکاره کړي ، چې دا حکومت يو کويتي حکومت دی اودکويټ دآزادۍ غوښتونکو عنا صرو پهٔ رضايت اوخوښه جوړشوی دی صدام حسين همداشان هيلهٔ درلوده ، چې دا موقتي حکومت به دنړۍ دهيوادونو لهٔ خوا پهٔ رسميت وپيژندل شي اوپهٔ دې

خودبه نام خمسة المتحیرین آورده است (۱، ص ۱٤٤) .

حرمت بسیاری که در بار عثمانی به جامی مبذول داشته ، از دو نامهء فارسی مشهود است که سلطان بایزید دوم به اونگاشته است . نامه نخستین به لحنی مؤدب ویا حرمت تحریر شده ، و طوری که از جواب جامی برمی آید، بدون تقاضای خاصی از روی لطف وعنایت صادر گشته وبه لطف شاهانه مزین است . در نامهء دوم سلطان با یزید خان امتنان خویش رااز جوابی که جامی به او نگاشته ابراز میدارد وبرای او هزار فلورن (فورن Florin سکهء طلایی است که در عثمانی رواج بوده) جایزه میفرستد . وجامی در نامهء ثانوی از وصول آن جایزه سپاس گفته است (۳، ص ٦۰۵).

جامی نه تنها با سلطان با یزید خان خلیفهء عثمانی مکاتبه داشته بلکه با فضلای ایران در تبریز (تختگاه آق قوینلوها) وشیراز مهد علمی ایران نیز تبادل نامه ها واشعار میفرموده است . غزل زیبایی در دیوان دوم اوست که برای یکی از فضلای شیراز (ظاهراً جلال الدین دوانی) نگاشته که بیت اول آن چنین است (۳ ، ص ۷۵۵) .

ازدر صومعه آن به که قدم بازکشیم خرقه ها درنظر شاهد طناز کشیم
(۵،ص ۵۷۲)

مذهب ومعتقدات جامی :

آنچه از تألیفات جامی برمی آید ، وی مردیست مسلمان ، صوفی مسلك ،حنفی مذهب . درمذهب خود سخت متعصب ومتعبد . باهمه اینها مانند سایر احناف نیست که رافضی راکافر وملحد وزندیق داند . چنان که در سلسلة الذهب دیده میشود جامی لعن اهل قبله راجایز نمیداند . این مطلب کاملاً روشن میکند که درعین تدین مردروشنی است (٦، ص ده). جامی بدانچه میگفته ومینوشته ایمان داشته ومانند بسیاری از متظاهران که در ظاهر اظهار دیانت میکنند ودر باطن از زنادقه بوده اند یا هستند نیست .

توګه به د کويټ پر خاوره دعراقي قواوو دحملې مسئله سره شي. دنړۍ هيوادو دغه مؤقتي حکومت ته کوم اهميت اورسميت ورنکړ. دعلاحسن دمؤقت حکومت خط مشی معلومه نۀ شوه . دصدام راعظم اودکابينې دغړيو هويت ښکاره نۀ شو . دمؤقت حکومت رئيس اووزيران دتلويزيون پۀ پرده يا پۀ عام محضر کښې چاونۀ ليدل . څو ورځې وروسته د کويټ راډيو او تلويزيون چې دعراق دحکومت پۀ اختيار کښې وو ، يوه اعلاميه پۀ دې ډول خپره کړه :

« د کويټ امير نشين دولت پۀ جمهوريت بدل شو . اوپۀ کويټ کښې به ډير ژرعمومي انتخابات وشي اوبيا به ددولت رئيس انتخاب شي » لۀ دې اعلاميې نه څو ورځې تيرې نۀ وې چې دعراق تلويزيون دصدام حسين اوعلاحسن علي يوه ګډه بيانيه خپره کړه .

« دعراق اوکويټ ترمنيځ دتاريخي سوابقو پۀ اساس دکويټ دمؤقت حکومت رئيس علاحسن علي دا پيشنهاد وکړ، چې د کويټ خاوره دې دعراق لۀ خاورې سره الحاق شي ، دا پيشنهاد دصدام حسين لۀ خوا پۀ خوښۍ سره استقبال شو او دعراق خلك هم ددغه پيشنهاد هرکلی کوي ». ددې بيانيې لۀ خپريدونه پس د کويټ خاوره دعراق لۀ خاورې سره پۀ رسمي توګه الحاق شوه اوکويټ دعراق نو نسم ولايت شو .

د کويټ دسياسي محافلو عکس العمل :

لۀ دوه درې کاله راهيسې د کويټ پۀ سياسي محافلو کښې داخبره کښته پورته کيده ، چې صدام حسين د کويټ داستقلال اصلي دښمن دی . د کويټ اوعراق ترمينځ سرحدي کشاله لۀ هغو مهمو مسئلو څخه وه ، چې ددواړو هيوادو دلوړ رتبه هيئتونو ترمينځ وريادې خبرې کيدې ، خو دغو کومه مثبته نتيجه نۀ ورکوله .

د کويټ سياسي محافلو اومطبوعاتو هڅه کوله ، چې د کويټ عام خلك لۀ عراق سره دمذاکراتو اومباحثاتو لۀ نتايجو نه بې خبره وساتي . د کويټ

حکومت غوښتل چې خپل حسنه اړيکې لۀ عراق سره ټينګې وساتي اومرزې اختلافات دمفاهمې اومذاکرې لۀ لارې حل اوفصل کړي .

دکويټ حکومت کۀ څۀ هم داوضاع باريکې ته متوجه و اودا حقيقت يې درک کړی و ، چې دبوبيان او وربه دجزيرو پۀ سر دعراق اوکويټ ترمينځ داختلاف مسئله به شايد ددواړو هيوادو پر روابطو منفي اثر وکړي ، کويټ پۀ دې هم پوهيده ، چې کۀ عراق دا دوه جزيرې پۀ زور تصرف اوترخپلې قبضې لاندې راولي ، نو دکويټ پوځ به ونۀ کړای شي چې دعراقي قواوو مخه ونيسي ، نولۀ همدې امله کويټ هڅه کوله ، چې ديو دريم ګړي هيواد پۀ مرسته لۀ عراق سره دسرحدي کشالې هوارولو دپاره کار وکړي .

دکويټ داخلي اوضاع :

دکويټيانو اوهمدارنګه پۀ کويټ کښې دخارجي اتباعو ژوند دکويټ پر خاوره باندې دعراقي قواوو لۀ حملې سره سم نا څاپه بدل شو .

پر کويټ باندې دعراقي قواوو دحملې پۀ لومړی ورځ هغه دولتي مامورين، دموسسو اوشرکتونو کارکوونکی ، کسبګر ، دکانداران اوتجاران چې پۀ خپسهار کښې دعراقي قواوو لۀ حملې نه ناخبره وو ، لۀ معمول سره سم لۀ خپلو کورونو ووتل ، چې خپلو ورځنيوکارونوته لاړشي. کله چې دښار لويو لارو اوسړکونو ته ورسيدل، نو عراقي ټانکونه اوعراقي پوځيان يې وليدل چې ټولې لارې يې ټرلې وې اودکويټ دښار مرکز ته يې دموټرو اوخلکو دننوتلو مخه نيوله . عراقي پوځيانو پر موټرو اوخلکو ډزې کولې اودې ته يې مجبورول چې پۀ شا لاړشي . وزارت خانې ، دولتي اوغير دولتي مؤسسې اوشرکتونه دعراقي قواووپۀ لاس کښې ولويدل اودحملې پۀ لومړی ورځ ټول رسمي اوغير رسمي کارونه تعطيل شول . ځينو عيني شاهدانو ويل چې عراقي پوځيان به وزارت خانو ، د ولتي اوغير دولتي مؤسسو اوشرکتونو ته ورننوتل ، مهمې

دوسيې ، قرطاسيې اوقيمتي ځيزونه به يې لهٔ دوايرو نه بهر ايستل اوپهٔ موټروکښې به يې بغداد ته رسول . همدا شان داسې خبرونه رارسيدل چې عراقي پوځيان به مغازو ، دسروزرو دکانو ، دبرقي سامان آلاتو دکانوته ورننوتل اوهر څه به يې لوټول . همدارنګه دا آوازې هم خپرې وې چې پهٔ کويټ کښې مقيم يو شمير فلسطينيان هم د دکانونو اومغازو دمالونو پهٔ لوټولو کښې لهٔ عراقيانو سره ملګري شوي دي . يو کويټي چې دکويټ دملي بس پهٔ ټرانسپورټ کښې وظيفه درلوده ، دسترګوليدلی حال داسې بياناوه : «عراقيانو دکويټ دملي بس ټرانسپورت ټول بسونه ، ثقيله اوخفيفه ماشين آلات اونور دکارشيان عراق ته يوړل » يوبل کويټي چې دخوراکي موادو تجارت يې کاوه داسې ويل :« عراقيانو پهٔ کويټ کښې دخوراکي موادو ځينې ګودامونه اوانبارونه تش کړل. عراقيانو لهٔ دغو ګودامونو اوانبارونونه وريژې ، اوړه ، بوره ، چای ،غوړي اونورشيان پهٔ لاريو کښې بغداد ته يوړل اوهيڅ يې پرې نهٔ ښودل . دغه کويټي چې خپل دخوراکي موادو ګودام يې هم لوټ شوی و ، ډير خپه و اوويل به يې چې لهٔ دې نه پس به دکويټ خلك څهٔ کوي اوڅهٔ به خوری .

يوبل سپين ږيري شپيته کلن کويټي چې کورته يې عراقيان ورننوتي وو، پهٔ ډير خپګان سره داسې وويل :

پرون دمازديګر ځلورڅې کيدونکې وې، زه پهٔ خپله کوټه کښې لهٔ خپلې ښځې اوماشومانو سره ناست وم ، چې ناڅاپه دکوڅې وروټکيد . لاړم اوورمې بيرته کړ . شپږ تنه عراقيان پهٔ عسکري جامو کښې بې لهٔ دې چې څه ووايي بې اجازې کورته ننوتل.، کله چې کورته ننوتل نوويل يې چې مونږ پهٔ دې کور کښې داسلحو پلټنه کوو ، ماورته وويل چې لهٔ موږه سره اسلحې نشته ، يوتن پهٔ ډيره غصه وويل بودا ډير شور مکوه ، ځانچه يې راته نيغه کړه اوراته وې ووېل ، چې ژر شه هر خومره پيسې او ګاني چې پهٔ کور کښې لري رايې کړه ، ماورته وويل چې زه پيسې اوګاني نلرم . لهٔ دې خبرې سره عراقي نور

هم غصه شو اوزه یې پهٔ زوره کوټې ته وردننه کړم . هلته یې راته ووی چې خزانه چیرته ده . ماشومانو چې پهٔ چیغو شروع وکړه ، دې تنه چې بهر ولاړ وو کوټې ته راننوتل اوزماماشومان یې پهٔ بله کوټه کښې بند کړل زما ښځې ورته ډیره زاري وکړه ، چې وړو ته څه ونهٔ وایې ،هغی غوښتل چې مقاومت وکړي اوپرې نږدې چې ماشومان یې پهٔ کوټه کښې بند شي . پهٔ دې کښې یوه عراقي دخپل کلاشینکوف پهٔ کنداغ پهٔ شاوخوا له او بې هوشه پر ځمکه پریوته.

زه دخپلې ښځې پهٔ غم شوم . عراقیان کوټه پهٔ کوټه دپیسو اوګانو دپیداکولو ، پهٔ لټون شول . خزانه چې زما دخوب پهٔ کوټه کښې وه ،دعراقیانو پهٔ لاس ورغله ، هغه یې ماته کړه، اوبکښې چې څه پیسې اوزما د ښځې ګانې وې تولې یې واخیستل او ووتل . بیامې خپل وروته تیلفون وکړ او قصه مې ورته وکړه . هغه دشپې راغی اولهٔ ځان سره یې یوه اندازه پیسې راوړې .

دیوې افغاني میرمنې چې خاوند یې کویټې دی، کورته هم عراقیان ورغلي وو ، دغې میرمنې لهٔ عراقیانو سره دبرخورد صحنه داسې ترسیموله :

دسهار پهٔ نهو بجو دوه تنه مسلح عراقیان کورته راغلل . لهٔ مانه یې پوښتنه وکړه چې خاوند دې چیرته دی ؟ ماورته وویل چې بهر چیرته وتلی دی . پهٔ کورکښې زما دخاوند جیپ موټر ولاړو . عراقیانو را ته وویل چې ددې موټر کلي ګانې راوړه .ما ورته ووی چې کلي ګانې پهٔ کورکښې نشته خاوند مې لهٔ ځانه سره وړې دي . دوی راته وویل چې دروغ وایې . ما ورته وویل دروغ نه وایم پهٔ رښتیا لهٔ هغه سره دي .

دوی راته بیا وویل چې ډیره ښه ده موږ به دلته ستا دخاوند انتظار وکړو .

غرمه نږدې وه چې خاوند مې کورته راغی . خاوند مې چې پهٔ کور کښې دا دوه عراقیان ولیدل نوډیر غصه شو ، اوهغوی ته یې وویل: کورته ولې راننوتي یی ؟ څه غواړئ ؟ عراقیانو ورته ووی چې ددې موټر کلي ګانې راکړه ، خاوند مې ورته وویل ولې یې درکړم ؟ عراقیانو ورته وویل چې ډیرو خبرو ته ضرورت نشته ، کهٔ دموټر کلي ګانې نهٔ راکوې نومږ به دې لهٔ ځانه سره بوځو.

ماخپل خاوند ته ووی چې ورکړه دا کلي ګانې . پریږده چې موټر بوځي.

خاوند مې لهٔ جیبه کلې ګانې راوایستې او عراقیانو ته یې ور کړې . عراقیانو موټر چالان کړ او لهٔ ځانه سره یې بوته ».

یوه ورځ زما یو دوست امین الله آغا کورته راغی ، ډیر وارخطا اوپریشانه و. ډیره ګرمي یې شوې وه . خولې یې پر مخ روانې وې . یخې اوبه مې وربانديې وڅښلې .لږ ه شیبه چې دمه شونو ورته مې پوښتنه وکړه چې «آغا صاحب ولې داسې اوتر او تر اوپریشانه ښکارې ؟

څه درته پیښ شوې دې ؟ هغه راته ووې چې یاره پوښتنه مهٔ کوه ، نن سهار پهٔ خپل موټر کښې چیرته تلم ، پهٔ لارکښې مې عراقیانو موټر ودراوه ، لهٔ موټر ه یې کښته کړم. دموټر کلې یې رانه واخیسته اوراته یې وویل چې څه پهٔ خپله مخه . ماورته ووی چې خنګه پهٔ خپله مخه لاړشم ؟ زما موټر به څنګه شي ؟ عراقیانو زما اوزدې اوبیرې زیرې ته وکتل اوراته یې ووی چې دا زیره دې ولې پریښې ده ؟ ماورته ووی چې دا زما زیره ده ستاسو پرې څه کار دی؟ ،عراقیانو راته ووی چې پهٔ عراق کښې نهٔ اوسیږم ، داکویټ دی . عراقیان راته پهٔ غصه شول اوراته یې ووی . تهٔ خبر نهٔ یې چې کویټ دعراق خاوره ده او دعراق نولسم ولایت دی ؟ ما ورته ووی چې داخو تاسې وایئ چې داسې ده ، ما څه ګناه کړې ده ، زه خودلته پهٔ کویټ کښې د ډیرې مودې نه اوسیږم ، دلته خوزیره ممنوع نهٔ وه . بیایې راته ووی چې لهٔ موټرنه تیر شه اوډیرې خبرې مهٔ کوه که نهٔ نو دا زیره به دربانديې پهٔ زور وخریو. ما وی عجب څنګه به پهٔ مازیره وخریې ، دا خو داسلام ضد یو عمل دی ،عراقیانو راته ووی چې ډیرې داسلام خبرې مهٔ کوه ، عراقي مقاماتو امر کړی دی چې دزیرې والا چې هر څوک وي هغو ی ونیسئ او بندیان یې کړئ . ماورته ووی چې وروڼو مسخرې مهٔ کوئ موټر مې راته راکړئ چې لاړشم ، عراقیانو راته پهٔ پای کښې وویل . چې لاړشه زیره دې وخریه اوسبا راشه چې موټر درته درکړو ، ماچې هر څومره ټینګار وکړ ، چې خپل موټر ورځني واخلم خو ګټه یې ونکړه ، همدا و چې موټر مې پریښوده اوزه دلته راغلم چې لهٔ تاسره دزړه خواله وکړم . اوس ته

راته ووایه چې دیو زوړ موټر دپاره څنګه لهٔ زیرې تیر شوی وی ؟ ماورته ووی چې آغاصاحب تاسم کار کړی دی . موټر خوبه بل هم پیدا شي مګر داوزدې زیرې دخریلو شرم دتل لهٔ پاره پاتې کیږي .

دآغاصاحب موټر زوړو اودومره قیمت یې نهٔ د رلود ؛ خو پردهٔ باندې ګران و ، ځکه چې دایې دمودویار و ، آغاصاحب دغرمې ډوډۍ له ماسره وخوړه ، بیا مې پهٔ خپل موټر کښې کښیناوه، اوکورته مې ورساوه .

دوه درې ورځې پس آغا صاحب بیا کورته راغی . دا ځل خوشحاله ښکاریده ، خندا یې پهٔ شونډو نهٔ دریده . ماورته ووی چې آغا صاحب څنګه چل دی ډیر تر اوتازه ښکاري ، لکه چې موټر پهٔ لاس درغلی دی اوکهٔ څنګه ؟ آغاصاحب ووی هو ! یو کویټي ملګرې راته خپل اته اتیایم ماډل امریکایي شورلیټ موټر راکړی دی ، موټر ستا دکور ترمخه ولاړدی .

آغا صاحب ته می ووی چې داڅنګه کویټي و چې دومره دریاندې لوړیدلی دی ؟

آغا صاحب ووی چې« پهٔ ډیرو خبرو پسې مهٔ ګرځه ، اوس خبره داکوه چې څه وخت به پهٔ خیر سره حرکت کوو ، زه خونور پهٔ کویټ کښې نهٔ پاتې کیږم» ماورته ووی چې زه خو تیاریم بکسونه مې ترلي دي ، لهٔ نورو دوستانو سره به مشوره وکړو اودسفر ورځ به وټاکو.

پهٔ مبارك الکبیر روغتون کښې یو کویټي داکتر دسترګولیدلی حال داسې بیاناوه مسلح عراقیان روغتون ته رانوتل . کویټي بیماران یې لهٔ بسترو نه پهٔ زور بهر وشړل. یو شمیر دزړه ناروغه کویټي بیماران چې پهٔ روغتون کښې بسترودعراقیانو ماشومان چې داکسیجن دتنفس لهٔ پاره پهٔ ntubatrsl انتبیرو کښې ایښودل شوي وو . پر ځمکه واچول پر ځمکه پراته نوي زیږیدلي غیر طبیعي ماشومان لهٔ اکسیجن نه دمحرومیدو لهٔ امله تلف شول .

(پهٔ بله ګڼه کې)



شيرخان بريمي

دسپا ستوری دهسك پهٔ تټر بـردی
دسپيدوزيری نو څکه پهٔ سـحر دی

سپيدې هرکله اسـتازې دسپـا دي = دسپيدو پهٔ رسيدو روښانه لمـر دی
دادب پهٔ دبستان کې سپيده داغ شو = دقلم پهٔ مـينانو لـوی اختـر دی
هم سپيدې پهٔ مکررډول سپيدې دي = پهٔ دښمن يې بياگوزار پهٔ مکرر دی
سپيدې کله ايساريزې نهٔ بنديـر دي = ددې يون پهٔ غره راغه پهٔ بحرويردی
چې يو ځای کاندې تنوير پـهٔ بلـه درومـي = ستر غازې سره ملگری دسنگر دی
شه ده دا چې پهٔ تياروپسې رناشي = دسپيدو پهٔ برکت څټلنـد نظر دی
ادبيانو دادب بـزم سنگار کـړو = پسرلی يې دکلتور بيرغ پهٔ سر دی

د« کهی کمپ څخه »

گوهري

پام کوه

پام کوه چې بيادې خوک خطا نۀ کړي
بيادې ارمانونه نيمه خوانۀ کړي
تاغوندې يې ډير خلك بې لارې کړل
تاهم لکه نور پۀ بله خوا نۀ کړي
دوست اودښمن وپيژنه وښې شه لږ
گوره چې پۀ خوب کې دې اغوا نۀ کړي
يوځل مارچيچلی يې بيا خيال کوه
تك درنۀ کړي بيا دې پۀ غوغا نۀ کړي
پام چې ددښمن پۀ خوږه تيرنۀ وځې
بيادې پۀ خندا کې پۀ ژړا نۀ کړي

مـهٔ کـوه باور نورپـهٔ وعـدو د چـا
داخـلك وعـدو بـاندې وفا نـهٔ کړي
ښکيل يې کړل پهٔ لومه دوعدو کې ډير
تاهم پهٔ وعـدو وعدو رضـا نهٔ کـړي
دادې دابـلـيس اوعـزازيـل بـچې
خيال کوه در پيښه څه بلا نهٔ کړي
ونهٔ لويږې پښې دې گوره ټينـگې ږده
بيادې کومې کندې ته خطا نهٔ کـړي
ډيرودې ښوروانه پياز پهٔ بـډه کـړل
پام چې دې ښوروادرنه تالا نهٔ کـړي
جام کې دشربت دربانديې زهر څښـي
تيردې لهٔ مرۍ نه زهر بـيا نـهٔ کـړي
ودې ليدل خونـه يې دروانـه کـړه
بيا دې لالهانده پهٔ بـيد يـا نهٔ کـړي
ښايې گوهري ! چې نورعبرت واخـلي
ورك دې پهٔ ژوند ون لکه عنقا نهٔ کړي

پهٔ استعمار چا اول حمـله کړه ؟
لهٔ غلامۍ چا بيخې توبه کـړه ؟
دايو افغان دی دايې جهـان دی
پهٔ هرظالم يې چې توره سره کړه
ارواښاد خادم

عبدالجليل سرتور





لۀ کومې ورځې څخه چې ما دشعر اوادب جهان ته سر ورښکاره کړی او ستر‌ګې مې پۀ کښې غړولې دي،دشپون صاحب لۀ شعر سره اشنا شوی یم، ځکه چې دګران هیواد پۀ مطبوعاتو کښې دده خوارۀ خوارۀ شعرونه خپریدل، زما خوښیدل او پۀ مینه مینه مې لوستل.

شپون صاحب زما همزولی شاعر دی ؛خو لۀ ما

جامی هر گاه در اشعار خود گاهی به زنا دقه وروافض تاخت میکند نه از راه سبکسری وعناد ولجاج است بلکه معتقد است غیر از مسلکی راکه خود اختیار کرده باقی باطل وتباه است ، همانا این صفت برای دانشمندی روشن اندیشه هیچ عار وشکستی نیست . لاکن بعضی از نویسنده گان متأخر شیعه اصرار دارند که این مرد منافق بوده یعنی درظاهر از عامه میباشد ودر باطن وواقع شیعه،باید دانست هر کس هر صفتی راکه خود واجد است مردمان رانیز مانند خود واجد میپندارد . چون که انسان قیاسی الطبع است وغالباً در کار ها قیاس پیش میگیرد (٦،ص یازده) .

بعضی از اشخاص که معلوم میشود دل پری از جامی داشته اند به جرم آنکه وی ابوطالب پدر خلیفه پیامبر علی را مورد توهین وتحقیر قرار داده با جامی سرگران میشوند ووی را مردی بی شرم وبی آزرم معرفی میکنند . دیگر آنکه چرابا آل وتبار پیامبر علیه السلام در افتاده وبه آنان در سلسلة الذهب استخفاف کرده . شاید پاسخ جامی از این اشکال آن است که او خود میدید در روزگارش هر شخص گمنام وتشت رسوابیش از بام افتاده، مدعی انتساب به خاندان پیامبر است (٦،ص یازده). میدید مردمانی شیاد و بی نام وننگ مدعی انتساب به او میکنند . این دسته برای کسب شرافت وجمعیت خاطر واحترام دیدن از مردمان ، وانمود میکردند که ما آل پیامبر شما هستیم .
جامی چون این گونه نادرستیها را میدید ، ناگزیر میشد پرده گزاف گویان ومدعیان کاذب را بردرد ، وهر گاه اینان که مدعی انتساب به خاندان پیامبر بودند وغرض مادی از این انتساب نداشتند چرا این همه اصرار بر این مدعا داشته بودند با آن همه دشمنانی که برای خود گمان میکردند . جامی چون میدید این منتسبین به دروغ خود را به پیامبر میپوندند واین راخلاف واقع میدانست یعنی خلاف اعتقاد خود ، آیا در این هنگام جز رد کردن وتاخت کردن چیز دیگری میتوانست باشد . باید به این گونه معتر ضان گفت :

ځخه پۀ مزل کښې ډيرګرندی اووراندی تلل دی ،داځکه چې ددۀ تکلونه لوی او زما هغسې نۀ و، دانسان ټول بريالیتوبونه دهغۀ پۀ تکلونو پورې تړلې وي، لوی لوی کارونه پۀ لويو لويو تکلونو تر سره کيږي.دابيله خبره ده، چې کله کله سړی کوي يوځه اوورته پيښه شي بله، ژوندله پيښو او حوادثو ځخه جوړ دی، ژړا اوخندادواړه پۀ يوه ورځ لۀ ژوند سره ملګري راغلې دي؛ نودشپون صاحب دغه ارمان. چې دپښتون شاعر پۀ مخ روايې اوښکې وچې کړي، پوره نۀ شو، پۀ خپله يې هم لۀ سترګو اوښکې روانې شوې اوپۀ ترخه ئې پرخه وورړوله .

خير بنده پۀ خپل وس پردی،وايې چې نۀ کوي حبيب، ځۀ بۀ وکاندي طبيب، دشپون صاحب تکل ربښتيا لوی تکل دی اومقدس هم، دژړا ځای خنداته اودغم کور ښادی ته وزګارول اسانه کار نۀ دی، داسې تکلونه ډيرې ستړياوې غواړي، خوچې ځوک مزل کوي، منزل ته رسيږي، اميد دی. چې دشپون صاحب دالوی انساني ارمان يوه ورځ تر سره شي،دپښتون شاعر پۀ مخ روانې اوښکې وچې شي او دپښتوشاعری لوری بدل شي.

هغه شعر چې بديع احساس نۀ شي راپارولی هغه موسيقي چې سروزاومستي نۀ شي راولاړولی اوهغه هنري اثر چې زړونه اونظرونه نۀ شي رابکلي،دژوند لۀ پاره نۀ دی؛ نو کۀ زور مطرب خانه خراب دساز پرځای کانګې کوي،کوي دې؛ خوخلك نوی رنګ اونوی ترنګ غواړي.

پۀ هر حال پرخه پۀ ترخه لۀ معنا اومحتوا ډکه يوه بکلې ادبي ګلدسته اويا دشپون صاحب دزړه دوينو مالامال جام دی، چې افغاني ټولنې ته يې پۀ مخکښې ايښی دی.پۀ بله ژبه پرخه په ترخه دشپون صاحب دشعرونوهغه کوچنی مجموعه ده، چې پۀ خپله تنګه لمن

کښې يې دمعانی لۀ ګلبنه پوره برخه راتوله کړې ده. يادحقيقت نګاری اوواقعه نګاری يوغوره اثردی، چې دماشومتوب، زليتوب اوسړيتوب ټول ليدلې کتلې ئې لکه ځنګ چې وو، هغسې منعکس کړې دي.

زۀ ددې اثر پۀ ځنې، هنري اومعنوي اړخونو ځۀ ليکل دادبي فنونواستاذانو، ماهرانواودمعاني دجهت خبر لوڅانوته پريږدم، دادهغوی کاردی، چې دفن اوهنر پۀ طلايې کنده يې ځومره دروندتلې .

دومره به ووايم، چې پۀ دې مجموعه کښې راټول شوي شعرونه دالفاظو لۀ لحاظه رنګين اودمضمون لۀ لحاظه لوی اوپۀ زدۀ پوري دي، هم پۀ کښې دنوي اوژوندي ژوند رنګ اوهم پۀ کښې دنوي اوژوندی شاعری خوند پروت دی.

دشپون صاحب دشعرونوپۀ مجموعه کښې داقوت لۀ ورايه ښکاري، چې تيراوهير يادونه تازه اودبل لۀ پاره ژوندي وساتي، دشعر جمال اوکمال پۀ همدې کښې دی، چې ځلی احساس اومړې هيلې راوپاروي او راژوندی يې کړي.

پرخه پۀ ترخه ماته دخوږوڅې زلمي شاعر ښاغلي نثار صاحب لۀ خوا دسوغات پۀ توګه راکړی شوه، زۀ چې دشپون صاحب لۀ شاعری سره لۀ پخوانه اشنا وم اوخوښيده مې هم، دامجموعه مې سر تر پايه پۀ ډيره مينه اوشوق ولوستله، دشپون صاحب واقعه نګاري زماذهن وتنخنولو، زمامات قلم ته يې سا ورکړه او ويې هڅول، چې ځۀ وليکم.

هسې خودشپون صاحب ټول شعرونه ددې جوګه دي چې کۀ دچاپه قلم کښې توان وي، ډيرڅه پرې وليکې؛ خوځنګه چې ماددې مجموعې دواقعه نګاری خبره کړې ده، نوبه ددې شعرونو دکوچنۍ مجموعې لۀ لوی بحر ځخه يوڅو ملغلری راوباسم، اودهيواد دليلا ښکلې او دنګې غاړې ته به يې اميل کړم.

نړۍ والو ولیدل، چې دروس استکباري اوطاغوتي ځواکونه زمونږ پۀ تاریخي افغانستان راننوتل،دالوتکو دبمونو اودټانکونودتوپونواونورو پرمختللووسلوبې امانه درزاجوړه شوه، پۀ لکونو افغانان ووژل شول ،مقدس ځایونه اوکلتوري مرکزونه لۀ خاوروسره خاوري شول.خوافغانانو پۀ تش لاس دغه ستر سر کشه او مستبد ځواك لۀ رسوا ماتې سره مخ کړ، اوخپله پاکه خاوره يې د روسانو لۀ ناپاکو قدمونوځخه پاکه کړه، اوس پۀ افغانستان کښې روسان نۀ شته دافغانستان پاکه خاوره دافغانانووه اودافغانانو شوه.

یوه داسې ورځ به هم راشي، چې زمونږ ویجاړ شوی هیواد بیا لۀ سره ودان شي،هیڅوك به نۀ پوهیږي، چې پۀ دې هیوادکښې څۀ پیښې شوې اوڅۀ تیرشوي

دې،دغه ټولې بربادۍ،بې کوري اوتنګسې به هیري اوهرڅۀ به بل شان وي. هغه وخت به دشپون صاحب شعرونه دیوتاریخي سند پۀ توګه .ددې تراژیدۍ تمثیلوونکي اودراتلونکو تسلونو دلارې بل مشال وي.

زۀ دشپې دتاریکۍ سره اشنایم
زۀ دتورې تروړمې سکنې وروړیم
مادسولې پۀ سندرو للونه کړئ
زه دجنګ ترانې بوله سوراوریم
مادخپل وطن شینکی اسمان لیدلی
چې دزانوپۀ کښې جوړ وو امیلونه
اوس دبرګو الوتکو لۀ منګولو
ترې توئیږی پۀ خروار خروار بمونه

مالیدلې دي تپې دوشپیته تانکونه
پۀ کړچار چې یې ټول غراوکمرښوري
چې پۀ کلې راشیوه شي میندې ریږدي
ماشومان زبون وهلې، ورته ګوري

مالیدلې دي آلوتې جوماتونه
مابښکل کړي دقرآن سپیڅلي پانې
ماټول کړي دیدورور پرې اندامونه
ماپۀ میاشتوګوزاره کړه پۀ مانې
زه دهومستوباندوړوندی شاهدیم
اتهونوبی چې مځکې لمړزولې
اوس دتشوکندوالوکچکول پۀ غاړه
صورت سوی جومات مات،ګروې شلیدلې

چې حیالکه غوټې پلوکنې ننښتې
مالیدلې دې هغه درنې ببیانې
اوس یې ګورم دیوې خیمې پۀ تمه
لالهاندې،سرګردانې،لیونیانې

یاداچي :
بیاوشول پۀ مونږباندی غږونه دپیږی
بیازلوراواخستل توپك اوګردني
بیانجونی دلورو غږونو څوکي څوکي ځاړي

بیـــاکوز را اوریـږي پۀ لمن لمـن ډله
بیاښامارراغلی دبدری نه راچاپیـــردی
بیاورته پۀ غشي مـــلوك خان راکاږي ژغ
بیادښمن راغلی پۀ دې مسته مسته خاوره
بیـــاپـــۀ شـــازلو شولې حلالې دمـورچې
اوري لۀ آسمانه دلعنت دغـضب اور
مـځکه راخوتیـږي لـکه سوزنده تبې
نن به دتش لاسوادتـــانګ مقابله وي
ګـورو به چې داخاوره زمونږده کۀ پردی

دافغانستان لۀ پاکې خاورې څخه دروس دمغرورو څواکونو دپه ماتی وتلو ورځ دافغانانودنجات ورځ اویوه ستره تاریخي ورځ وه ،لۀ دې څخه دمخه هیڅا دافکر نۀ کاوه،چې دومره لوی اوغاور قدرت بـه دخپر ځادرواوبیر سرو افغـانـانـولـۀ لاســه تردومـره خـرابـی اوبـربـادی وروسـتـه،ســرکـوزی اوپۀ رسواماتـي وروځي؛ خودي مشورواوځنورو افغانانوجبراً دغسې شرمناکې ماتې ته اړایستل .

دتش لاسوافغانانولۀ لاسه دنړی دابر قدرت شرمناکې ماتې نړیوال هلك حیران کړل،نیوشپون صاحب پۀ خپل لانـدینـي شعـر کښـي داسټـره تـاریخـي پیښـه بـه تراثبتـوی او دخپلـو متـورواو څنـورو پـه پیـاوړواوغښتلـو متوویاړ اومباهات کوي.

ای دنیۍ خلکونن تاریخ بیا لیکل کیږی
دوه سترګي ځلورکړئ داورځ بیانه لیدل کیږي
دې شاهکارته ځیرشئ داپۀ هرساعت کښې نۀ شته
څوقرنونه تیرشي څو دانور بیاوچلیږي
نن دازادۍ مشال یاغي یاغي شغلي کیږي
نن پۀ خپر ځادري افغان ټول جهان نازیږي
نن میرویس وباسي دلینن ځني کوکاري

هرزورته قالب شته، هرفرعون ته یوموسی
حق دزور قالب دی، دجادو ایمان دوا
څنګه چې لوی درمن ته وروکي سپرغۍ بس ده
هسي سره ښامار ته خپرکی افغان پیدا
مۀ ستایه دستروقدرتو نو ستوره ماته
نۀ سوځي دحق سترګي لۀ تالندې بریښنا
حق پۀ دنګو غرونوخیژولې دنګي لارې
تۀ پۀ مونږ نالوستو، شړۍ پوشوغولیدلی وې
تۀ زمونږخواری اوسادګۍ دیرتیرایستلی وې
تازمونږ پۀ لاس کښې یوم لیده؛توره دې نۀ لیده
سپرووې دغرور پۀ تانګ کښې نورلۀ عقله پلی وې
ستا د ایماندارو او خپلوا کوسره سرنۀ و
تۀ پۀ سوله ییزو مظلومانو ښه غښتلی ،وې

چانۀ وې ځیرلې ستاظالم جامې خونکاري
دغه شان پۀ دې مجموعه کښې دهجرت لومړۍ هفته
ـ درقدمه هیروئ ـ ماشومتوب ـ دکوکچی دسین پۀ غاړه
ـګاونډي تهـ دخوشحال پۀ لارـ دناهید دشهادت پۀ کالیزه
اونور ټول هغه شعرونه دي، چې هم پۀ کښې دشاعر

ادبي مهارت ښکارې اوهم ئې افغانستان پۀ خرابې اوبربادې اوافغانانو پۀ جهاد اومهاجرت اووحدت پورې تړلې ټول واقعیتونه، پۀ خاصه شاعرانه ژبه بیان کړي دي، دخپل عصر اوزماني دپیښو اوحوادثو ډیره ښه عکاسي یې کړې او دشاعرۍ رسالت یې پرځای کړی دی .

زۀ ددې کوچنۍ مجموعې شعرونواودشپون صاحب دې ارزښتناك خدمت ته دهیوادوالو پام را اړوم .

دلوی څښتن (ج) لۀ درباره هیله کوم، چې زمونږ وران شوی هیوادبیاودان شي،زمونږ دهیوادوالو تپې زړونه ورغیږي،دشاعر پۀ مخ روانې اوښکې وچې شي اودشپون صاحب مقدس ارمان تر سره شي.

,,*,*,*,*,*,*,*

لوبه

ټوکه یې ونه کښې د ژوند اومرګې لوبه ده
بله لاره نه لرو یا مرګ دی یا مو سوبه ده

یا به شین خالو د سره ښامار له دارو بچ کړمه
یا ې په سروینو دانړه ټوله خړوبه ده

ویرجینیا ۱۹۸۵ء

سعدالدین شپون

محمد صابر یوسفی

نگرشی بر سکوت قرن

گزینه سروده های احمد یاسین فرخاری

وقتی یك شاعر را با درد لقب مینهیم که اشعارش ژرفای زنده گی اجتماعی را به کاوش گرفته وتصویر حقیقی از سیمای زنده گی انسان جامعه اش ترسیم نماید. خوبیها را وصف نماید وبه ستایشش بنشیند، بی عدالتی را انتقاد نماید، فقررا به نکوهش گیرد وعوامل اساسی بروز آن را به نمایش بگذارد.وشعری را پر درد میخوانیم که مجسم انسانی وریالسیتیك از جامعه به دست بدهد، از درد انباشته باشد واز نور احساسات انسانی صیقل خورده باشد.

درین اواخر گزینه یی از سروده های فرخاری زیر عنوان

«سکوت قرن» از چاپ بر آمد که بیست سروده را احتوا مینماید، آنچه از آیینهء این سروده ها بیرون میتراود انعکاس شریفانه یی است از درد ها ورنجهای جانفرسایی که بر فضای کشور مان سایه افگنده وتار وپود مردمان را موریانه وار میکاود.

آنچه را تصویر این سروده ها در اذهان ترسیم مینماید حقایقی است که جامعهء مان را در آغوش کشیده.از برداشت ویژه یی که ازین سروده ها نمودم به جا میدانم که احمد یاسین فرخاري را شاعر بادرد خطاب نمایم. بدین خاطر که ساخت درونیِ شعر او از نگرش ژرف اجتماعی مایه میگیرد وزنده گی به گونه یی که هست در روان سروده های اوتجسم مییابد. درد، رنج، فقروگرسنکی و بیعدالتی ونابرابری یکایك در سروده های او بازتاب مییابند واشعارش را رنگ عاطفی میبخشند، طفل یتیم سروده ای از فرخاری مصداقی است بدین گفتهء ما:

درخلوت سکوت
آنگه که باد شانه به گیسوی شب کشید
مهتابها به بستر مردابها شکست
آن سو...
میان جنگل خاموش وخوفناك

جمعی کلاغ پیر
با بالهای ریخته، منقار های سرد
بنشسته بر فراز درختان جنگلی
بر شاخه های خشك وپر از غوله های برف

***

در زوزه های وحشی باد ستیزه جو
ناگاه درب چوبی آن کلبه باز شد
با صوت ناله یی
طفل یتیم برهنه پایی برون جهید
با جامه های پاره تر از قلب ریش من
از برکه های آبی چشمش زلال اشك
لغزیده بود نرم به دامان گونه ها
تصویر یأس بود
تصویر درد ورنج
تصویری از حکایت احساسهای ما
آهسته سوی گور پدر گشت رهنورد
تا اشك غصه ها بچکاند به روی قبر
بر روی گور سرد
آن جا رسید زود

گر سخنت راست بود همچو در تلخ بود تلخ که الحق مر

بعضیها جامی را شیعه مذهب میدانند وحکایاتی نیز در این مورد نقل کرده اند . چنانچه از قول شیخ علی بن عبدالعال به چند روایت که وی گوید : در سفر نجف با جامی همسفر بودم ومن تقیه کرده از وی عقیدهء خود را پنهان میداشتم تا وارد بغداد شدیم وروزی به ساحل شط بیرون شده برای تفریح برلب دجله نشستیم ، دراین وقت درویشی قلندر در آمد وقصیدهء غرایی بسیار بلیغ درمدح امیرالمومنین علی علیه السلام بر خواند ، چون جامی بشنید بگریست وسر به سجده نهاد ودر سجود نیز گریستن آغاز کرد ، سپس سر برداشت وقلندر را پیش خواند واو را جایزهء گرانبها بخشود ، سپس به من گفت : چرا از سبب گریه وسجدهء من نپرسیدی ونگفتی که چرا به درویش جایزه دادم ؟ من گفتم زیرا سبب آشکار بود وعلی خلیفت چهارم است وتعظیم وی واجب .

جامی گفت ، نه که علی نخستین خلفاست وچارمین نیست والآن شایسته است که حجاب تقیه رابرداریم ومن وتو از یکدیگر نپرهیزیم زیرا میان ما وتو خلوص مودت به حد کافی رسیده وبیمی از اظهار راز نزد مخالفان باقی نیست وگفت : بدان که من از شیعیان خلص امامیه ام ولی تقیه واجبست واز ین رو آنچه دردل دارم پنهان میداشتم ، همانا که این قصیده از آن من است که ذکر نام خود را نهفته وتخلص خویش را در آخر اشعار نگفته ام وبه وسیلت بعضی دوستان آن را انتشار داده ام والحمدلله که مقبول طباع واسماع آمده است مردم آن را از بر کرده اند . چنان که درویش قلندر آن را امروز اینجا از برفروخواند واینها همه علامات وصول به درجهء قبولست ، ازین روگریستم وسجدا ، شکر گزاردم وشکر نعمت را بدو جایزه دادم .

ونیز بعضی از افاضل ثقات گفته اند که ما از خدم وحواشی اوشنیده ایم که همهء اهل بیت اواز خدم وعیال وعشیرت بر مذهب امامیه بوده اند وگویند

در شهر خامشان
بر داشت بانگ ؛ کای پدر مهربان من!
این وقت خواب نیست
تاکی میان سینهء این خاکهای سرد
آرام خفته یی؟
برخیز!
در خانه نیست نان
آن مادر مریض من افتاده روی خاك
یخ بسته است اشك به دامان چشم او
امشب هزار مرتبه او را صدا زدم
گویی زمن فسرده جوابم نمیدهد
یا مرده است او
آن طفلکان کوچهء ما شادو شادمان
همدوش با پدر سوی مکتب شوند وما
درفکر آب ونان
برخیز!
احساس مرده است
انسان نمانده است
جز دست سرد سیلی انسان نمونه ها

دست نوازشی به سرگونه هام نیست
برخیز وسرد پیکر لرزنده‌ء مرا
بهر خدا تو تنگ در آغوش مهرگیر
دستان کوچکم
از سردی وگرسنه گی از کار رفته اند
برخیز !
بر...خیز...

****

فردا که آفتاب
از خیمه‌ء سپیده به دامان صخره ها
وانگه که نور بوسه زروی افق گرفت
وزشرم گونه های افق گشت سرخرنگ
آن پیره زاغها
هریك به روی لوحه‌ء قبری نشسته بود
آرام میگریست
احساس شان زدیدن آن صحنه‌ء غمین
بیدار گشته بود

****

ناگاه صوت ناله‌ء آن درب کلبه باز

تا نیمه راه گنبد نیلینه سرکشید
وان درکشوده شد
بردوش چند مرد غریب وخمیده قد
تا بوت چوبی به برون ره کشیده بود
در سینهء شکستهء تابوت آرزو

نعش جوان مادر آن طفل خفته بود
آن مردم غریب
تابوت را به مقبره ها راهبر شدند
تا آرزوی سوخته را زیر سقف گور
پنهان زچشم کور دل آدمان کنند
چون ره تمام شد
به سرگور های سرد
تا بوت را نهشته بدیدند ناگهان
آن طفل نیز بر سر آن گور مرده بود
(طفل یتیم ، ص ۳۲-۳۵)

میبینیم که درین قطعه شعر عاطفه جای به سزایی دارد وهمین پشتوانهء قویست که شعر موصوف را در سطح بالای ادبی قرار میدهد.

طفل یتیم فریاد صادقانه یی است که از سینهء درد آلود شاعر بر میخیزد وتا بیکرانه ها ره میپوید. طفل یتیم فریاد مظلومانه یی است که از گلوی درد آلود هزاران هزار انسان جامعهء مان که فشار جانفرسای پاشنه های خشن استعمار را به روی گرده های خویش احساس مینمایند، بلند میشود.

فرخاری زنده گی را از درون مینگرد وبه ژرفای آن دقت مینماید که همین درون نگری عمیق، شعر او را رنگ فلسفی میدهد. در رقص آتش که ازسروده های ناب او به حساب می آید گردش نوسانی وتغییر وتحول پیگیر روند زنده گی را این طور به بیان می آورد:

رود هستی هرکجا در پیچ وتاب دیگریست
هرزمان درزنده گانی انقلاب دیگریست
رقص آتش،ص ۱۳

ساختار درونی شعر فلسفی انباشته از رموز طبیعی پدیده ها و چگونه گی تبارز وانکشاف آن در عرصهء وجود وهکذا محو جبری آن از ان عرصه میباشد. در شعر فرخاری که از مبنای یك بینش عمیق فلسفی مایه میگیرد این خصوصیت را به خوبی میتوانیم درك نماییم:

کاروان عمر هردم میرود سوی فنا

لحظه ها چون موجها هریك حباب دیگریست
رقص آتش،ص ۱۳

ایجاد شعر فلسفی فقط زمانی میسر است که پرندهء افکار شاعر بر فراز دنیای ماحول او به پرواز آید وارگانیزم طبیعی زنده گی را به کاوش گیرد. کنجکاوانه تحقیق نماید ودریافتهای خویش را در خریطهء ذهن خود فرو ریخته وبا قوهء تخیل آن را با سروده های خویش ترکیب دهد.

فرخاری آنچه را که در بنیاد کاوشهای فکریْ خویش به دست میآورد در قالب شعر بیانش میکند وباز تابش میدهد.

دراین شعر میبینیم:

موج دریای خیالم نیست نیرنگ سکوت
ساحل اندیشهء او را حباب دیگریست
نوبهار آرزو در دام آشوب خزان
سخت پیچید وکنون اندر شتاب دیگریست
کلبهء گردون به من هرچند تاریکست لیك
سوز دل از فیض عشق آفتاب دیگریست
رقص آتش، ص ۱۳-۱٤

برداشت ویژهء شاعر ودرك به خصوص او از زنده گی بنیاد عقیدتی ذهنیت او را اساس مینهد وهمین بنیاد است که تخیل

واستعداد او را در ایجاد شعر فلسفی یاری میرساند وبدان جهت سوقش میدهد. شاعر آنچه را که درک نموده، در شعر می آورد وبه خورد دیگران میدهد. در حقیقت شعر فلسفی تبلور ادراک ذهنیِ شاعر از طبیعت زنده گی وپدیده های مؤثر انکشاف آنست وبی شبه فرخاری دراین راه توفیق یافته است او تنها به دریا فتهای خویش اکتفا نمیکند ، بل در تلاش آنست دست آوردهای بیشتری نیز داشته باشد تا قناعت خاطرش فراهم گردد:

بزم آغوش حیاتم هست تاریك ودریغ
ماه من هردم نهان زیر سحاب دیگریست

رقص آتش، ص ١٤

شعر فرخاری، شعر ریالیستیك است. آنچه او را با ریالیزم پیوند میدهد، امید فراوان او به آینده وشگافتن پرده های یأس ونا امیدیست:

دل نشد آواره هرگز از رموزکار عشق
اضطراب ویأس کی دامان پیغمر گرفت

آشوب تخیل، ص١٦

شعر امروز شعر تصویریست، تصویر در ایجاد هنرمنهانهء شعر نقش ارزشمند را داراست، فرخاری در ایجاد اشعار تصویری

دست بلند دارد. همهء اشعار او که به شیوهء آزاد ایجاد گردیده اند ازین ویژه گی بر خوردارانند. او احساسش را به گونهء بسیار هنر مندانه در لای اشعارش ارائه میکند. شعر گلدان سرودهء فرخاری مبین این حرف است:

به یاد آور زمانی را
که خورشید جهان را کشته بودند
ودر مان شفق از خون خورشید
چو رنگ لاله ها در بستر دشت
بسی رنگین وخونین بود
گلدان، ص ۳۹

خواست درونیٔ شاعر به واسطهء تصویر در پیش چشمان خواننده جان میگیرد. شاعر با ایجاد تصویرهای عمیق، دیگران را پا به پای اندیشهء خویش میکشاند وتجسم زنده ي از ذهنیت خویش را برای او ارائه مینماید.

فرخاری شاعر زمانه است وشاعر دوران انقلاب . او نبض زمان را میخواند. جنگ وکشتار، بیرحمی وقساوت را به چشم سر میبیند واز آن متألم میگردد. او دورانی راکه در آن به سر میبرد پائیز نام میگذارد:

باز پائیز رسید

فصل دمسردی وخاموشیها

فصل بیحاصل ونومیدیها

پائیز، ص ۳۰

ووقتی بر مخروبه های وطنش نظاره گر میشود وسایه های سیاه اندوه را بر آن بال گستر میبابد، بسیار پر دردانه ناله سر میدهدکه:

سایه های گنه آلود وسیاه

دست دردست سکوت

پرده بر پیکر شهرافگندند

پائیز، ص۲۹

وهنگامی هم که وجدان به خواب رفتهء افرادی را که مشاهده میکند که بابی تفاوتی بدین مظاهر بر خورد مینمایند، فریاد میزند أ

احساس مرده است

انسان نمانده است

طفل یتیم، ص۳٤

تصویر، ترسیم هنرمندانه، حالت واقعی یك احساس ، یا یك دوره ومرحلهء مشخص با ترکیب ما هرانهء کلمات وواژه هاست. ترسیم حالت رقت انگیز یك انسان، تبارز حالت رقیق

یك منظره در لابلای سروده ها به گونهء ظریف ومؤثر یك تصویر است.

وفرخاری با مهارت آنچه را که میبیند، تصویرش را می آورد.

درین شعر میبینیم:

آنسو میان جنگل خاموش وخوفناك
جمعي كلاغ پیر
بابالهای ریخته ، منقارهای سرد
بنشسته بر فراز درختان جنگلی
بر شاخه های خشك وپر از غوله برف

طفل یتیم، ص۳۲-۳۳

وقتی شاعر فقر ومحرومیت را مشاهده میکند که بر فضای زنده گی تعداد بیشماری از مردم مان سایه افگنده، نمیتواند آرام بنشیند ومهر سکوت بر لب نهد:

آن طفلکان کوچهء ما شاد وشادمان
همدوش باپدر سوی مکتب شوند وما
در فکر آب ونان.

طفل یتیم، ص۳٤

وباز هم در همین قطعه شعر، بیدادی عدهء بی مسؤولیت را که نهادشان از احساسات انسانی تهی است چنین به باد انتقاد

میگیرد:

احساس مرده است

انسان نمانده است

طفل یتیم، ص ۳٤

وقتی از شکل شعر سخن میرانیم منظور مان ترکیب کلمات واژه ها وسبك ادبی آنست . مهمترین سبك های ادبی عبارت از سبك خراسانی، سبك عراقی، سبك هندی، سبك مختلط، سبك جدید وسبك تازه است که صحبت پیرامون هریك ان بحث جدا گانه را ایجاب مینماید که از حوصلهء این نوشته خارج است.

***

سخن روی سبك ادبی وشکل شعر فرخاری است . تاجایی که مشاهده میگردد، فرخاری در سروده ها واشعار خویش پیرو اسلوب هندیست. اصطلاحات، استعارات ، تشبیهات و نازك خیالیهای سبك هندی به پیمانهء وسیع در اشعار او به چشم میخورند. رنگ وآهنگ وشور واحساس اسلوب هندی سروده های او را شیرینی دلپذیر میبخشند که خواننده را مجذوب نموده وسخت زیر تأثیر خویش قرار میدهد.

که وی در امر تقیه بسیار مبالغه فرمودی وبه اهل وعشیرت خویش در این باب توصیه ها نمودی ، خاصه هرگاه که قصد سفری داشتی آنان را به استتار در مذهب بیشتراشارت کردی وبرخی جامی را از حدود محدود تشیع وتسنسن فراتر میشمارند واین رباعی او راگواه می آرند (٤، ص ص ٢٢٥ - ٢٢٦) :

ای مغبچه از مهر بـده جـــام مـیم
کامد زنـــزاع سنـی وشیـعه قـیم
گویند که جامیا چه مذهـــب دا ری ؟
صد شکر که سگ سنی وخر شیعه نیم
(٥، ص ٨٩)

تصوف جامی :

چنان که از آثار واقوال جامی برمی آید، وی در شمار صوفیهء زمان خود بود. وی سالها در سمرقند وهرات به استفاده واستفاضه اشتغال داشت تااین که در اثر خوابی که دید پای به عالم عرفان نهاد وبه سیر وسلوك در افتاد وپیروی مرشدانی چون سعدالدین محمد کاشغری نقشبندی وخواجه علی سمرقندی وقاضی زاده رومی راشعار خویش ساخت ودر راه ریاضت گام نهادو چندان به مقامات معنوی خویش افزود که به مرتبهء ارشاد رسیدوپس از وفات مرشدش سعدالدین محمد کاشغری که خلیفهء نقشبندی بود جانشین او گردیدو برمسند ارشاد تکیه زد. ازین پس شهر تش در روز گار خود شایع گردید وکوچك وبزرگ وی راشناختند واحترام او را بر خود فرض دانستند (٨، ص ١٥٦) .

جامی مانند بسیاری ازمشایخ وصوفیه که ذکر وتلقین ودستگاه ارشاد را برای جمعیت اسباب ظاهر ورياست بر مردم روز گار میخواسته اند قرار نداده بود ، بلکه با این گونه دکانها وتکیه سازیهاجداً مخالف بود. چنان که برخواننده کتاب هفت اورنگ این مدعا به خوبی روشن میشود ، خصوصاً از

ترکیب هنری کلمات وواژه ها، اعجاز میکنند واثر سحر انگیز به وجود میآورند. فرخاری چنان سروده های خویش را باترکیبات شیرین ارائه مینماید که تا اعماق احساسات انسانی ره میکشد وروح آدمی را متأثر میسازد. مضامین تازه مطلب جدید وواژه های بکر در سروده های او به گونهء وافر به ملاحظه میرسند.

در سیمای شعر فرخاری موج نوینی از اعتماد وباور به فردا ها را میتوان دید. باور به فردا های شگوفان ادبیات مان . شعرفرخاری شاخه های سبز امیدیست که از نخلستان همیشه سبز ادبیات مان قد بر افراشته است. باشاد که این شاخه ها هرچه بیشتر به بالا گیرایاد وبار آراد وتا پلکان بلند ادبی عروج کناد وره پویاد وبا همین امید شعری از فرخاری را به گونهء حسن ختام این نوشته بر میخوانیم:

سرود هستی طرب فزاید زرنگ وبوی وصفای وحدت
بهارامکان شگوفه آرد زفیض آب وهوای وحدت
عروج بنیان همگنانی زسیل آفات دهردور است
که سیل پر آفت تفاوت فنا نماید بنای وحدت
ضمیر گردون زطرح دیگرنشانه گیرد اثر پذیرد
از آستینها اگر بر اید زصدق دست دعای وحدت

چو قد فرازد نهال آمال وره گشاید به زهره آخر
ز او ج بیحاصلی نشیند به سجده غلتد به پای وحدت
شکوه دلق یگانه گیها به چرخ دون جاودانه ماند
که در بغل چاك ننگ خجلت نگیرد هرگز قبای وحدت
صفیر برق عدم نلغزد به گوش جان اتحاد مارا
که بال ومرغ اجل ندارد توان سیر فضای وحدت
غبار او هام نامرادی بر بام دلها کشیده بستر
تنك نگاهی برین شبستان به پرده دارد فنای وحدت
زسوده، چشم ترحذرکن زین مسند کمی گذر کن
زما ومنها برو سفر کن بر زیر بال همای وحدت
هزار رمز عیان نهان خفته در کتاب تفرق ما
بر درسگاه زمانه ناید نهان عیانی سوای وحدت
طلیعه، بانگ آشنایی زروزن سینه گر فرازد
زخلعت قدس استجابت کند بر دوشش خلای وحدت
به انتهای خط همین بزم این سخن بس خجسته باشد
بریده بادا هرآن زبانی کزو نمی خیزد صدای وحدت

بانگ آشنایی، ص۱-۲

ډاکټر اسرار



(دجهاني دشعر مجموعه)

ښاغلی عبدالرحمان پژواک د« ورکه مینه» پهٔ سریزه کښې لیکلي چې زه پهٔ شعر باندې تقریظ اوانتقاد ګناه ګڼم (۱) علم نهٔ لرم چې پژواک صاحب به پهٔ خپل ادبي ژوند کښې پهٔ داسې قسم لهٔ ګناه چرې ککړ شوی وي او کهٔ نه خو هم پهٔ دې کتاب کښې ښاغلي محمد ابراهیم عطا يي پهٔ نظم اوښاغلیو داکترحبیب الله تزي اوحبیب الله رفیع پهٔ نثر کښې دغه ګناه کړې ده. ټوله ګناه دعبدالباري جهانی صاحب دګنا نګاروونکي شعرده ،چې لوستونکي اواوریدونکي يې اغیزه نهٔ پریږدي ، کهٔ خطا کیږم نه نو داکتاب ماته رفیع صاحب خٔه کال به يې کیږي چې سره دنورو کتابونو راپیرزوٗ کړی و، خو ما کتلی نهٔ واودغسې مې چیرته ایښی و. تیرو ورځو کښې اتفاقاً دا ښکلی



کتاب زما دلوست لاندي راغی. ډير خفه شوم، چې يو دومره ښه کتاب ما بې لوسته پريښی و . د جهاني صاحب شعر کښې ماته درومانتيزم اوريالـيزم يو ښکلی متناسب ګډرنګ ښکاره شو او دده شعر ماته هغـه هـومـره اوهم هغه رنګ خوند اوجماليـاتي خوشحالي راوبخښله ، خومره خوند او ښکلايـيز احساس چې مالۀ دښاغلي عبدالرحيم مجذوب دشعر لوست راکوي ، دجهاني پۀ شعر کښې دورکي مينې دغم اودرد خواږه پرې اضافه دي، ما آصف صميم صاحب ته څرګندونه وکړه، چې ددې شاعر شعر خوزما ډير خوښ شو (تقريظ ؟) هغه راته پۀ کلکه ووی کۀ پۀ دغه شعري مجموعه د « سپيدي » ډپاره يوه انتقادي تبصره (ګناه ؟) وکړې نو ښه به وي .

دکتاب تايټل (سرمخ) دکتاب دنوم اومتن سره ډير مناسب دی ، کاغذ يې هم ښه اواملايي ښکلاهم لري ، دنظمونو د فهرست نيشتوالی ورکښې محسوسيږي ،جهاني صاحب دشعري اظهار دپاره دنظم هيئت (جوړښت) خوښ کړيدی ، دنظم داهيئت دمخکښې نه پۀ لږه پښتونخواوپۀ اردوادب کښې معرفي دی اوداردو ژبې مشهور شاعر ساحر لود هيانوی سره معروف کړی دی .

پۀ دې نظمونو کښې يو قسم لۀ تغزل ،موسيقي اوروانی وی اودنظم وړو مينی بنديا شعر ورکښې ځای پۀ ځای کله پۀ مينځ اوکله پۀ اخر کښې تکراريږي . دا تکرار ډير ځله خوند خوکله کله پۀ نظم کښې بې خوندي هم پيدا کوي. ځينې نظمونه يې ددې مخصوصې رغاونې نه بيل جلاساخت لري لکه « ورځۀ پوښته نسيمه ! » او « ليونتوب » وغيره. يو خودازاد شعر نمونې لکه « زرغونه

کالي» آرزو ، رسوا رازونه او« دروغژنه مينه» هم لري .دجهاني دشعر دښکلاراز دهغه دشعر پۀ روانی ، دجذباتو پۀ چپو اوپۀ سپيڅلي رنګينه ژبه جوړوشو و ښکلو رومانې تصويرونو کښې يې د. پۀ نظم کښې يې د غزل علامتونه لکه جام ، خم ، ساقي ، ميکده ، ميخانه ، پيمانه ، مې ، شراب زلف رخسار اوشونډې اوداسې نورپکارزولي ، اوشاعرانه تصويرونه يې پرې رنګين کړي دي ، دماهيت لۀ مخه چې ورته گورونو ددې مجموعې زيات نظمونه دپښتنو دمينو د ورکيدو ، ژنګيدو اوپۀ افغان اولس دبلا رانازليدونه وروستو ليکلی شويدی اودشاعر حساس طبيعت ته چې کوم درد خوږ اوتکليف پۀ دې پيښه رسيدلي دي، هغه يې تصوير کړيدي . دمسافرت اوپردېس احساس اودورکومينو غم اوياد يې شعر ته يوه ځانګړې بڼه ورکړيده او يو داسې خوند او اثريې ورکښې پيدا کړی چې لوستونکي يې اثره نۀ پريږدي دغونې پۀ توګه به دده ديو شاهکار نظم « مۀ پوښته نسيمه » څخه څه برخه ولولو :

مۀ پوښته نسيمه ، زما دغرونو خو کې مۀ پوښته
تيږې يې دردمنې دي
مۀ سوزوه ونې ، دګل بوټو څخه ليرې شه
ځانګې يې خوږ منې دي
تۀ به دغوټيو سپېرلو ته راغلی يې
تۀ دارغوان ومچولو ته راغلی يې
تۀ دنسترن وبويو لوته راغلی يې
تۀ به دشاعرزوه تخنولو ته راغلی يې
نه نه تيروتلی يې
نه نه غوليدلی يې
دا هغه چمن نۀ دی

دا هغه وطن نهٔ دی
داهغه ګلشن نهٔ دی
بن نهٔ دی ختن نهٔ دی

داسي ټول نظم د رانقلولو وړدی خو داثر (اغيزه) دپاره « تيزي يې درد منې دي» او « ځانګې يې خوزمني دي » چې کوم شاعرانه سحر لري هغه ډيره ستاينه (تقريظ) غواړي . په ځينو نظمونو کښې يې داسي کلمات او اصطلاحات راغلي دي چې زما غوندې دلرې پښتونخوا دلوستونکي لپاره عام فهم او مانوس نهٔ دی ، لکه پايکوبي ، شيلي، براسکي ، نيالګيو وغيره .داسي بريښي چې شاعر دپايکوب ټکي سره زياته علاقه لري او پهٔ ګنو ځايونو کښې يې تکرار کړيدی، چې زما تر پامه دستاينې وړ نهٔ ښکاري . حبيب الله رفيع د کتاب پهٔ سريزه کښې دجهاني دشعر پهٔ ډيرو اوچتو ټکو کښې دستايلو پهٔ ترڅ کښې ليکي چې« خويو څه چې ددهٔ پهٔ شعر کښې خپل ثبات اوټينګار ساتلی ، هغه پهٔ هيڅ حال کښې مايوسي اوقنوطيت ته تن نهٔ ورکول دي .» زما پهٔ خيال شاعر لږ نه ډير ځايه دياس او نا اميدي ښکارشويدی اوخپله هم « ګيله من اشناته » يعنې رفيع صاحب ته پهٔ واضحو ټکو کښې وايي چې :

زه يو پرديس ، يــو نااميده شاعر
زما اسويلی د اوريدلــو نــهٔ دي
زه دنصيب ښکاري ويشتلی مرغه
نورمې وزر دالوتلو نــهٔ دي (۳)

د « ورکه مينه » غونډ نظمونه دلوستلو وړدي. « خوب وينم عالمه » تنکی غوټی ، ورکه مينه ، ګروبه کلا ، دسيند لور ، دتاشکند لور ، څرنګه هلمنده اوهسکه پاميره ، يې ماته ډير خوندراکړو . دهسکه پامێره ، ابتدا څومره پهٔ اغيز من اوخوندوراندازکښې کوي :

هسکه پاميره ، دغرونو ميره
بيادي پرتي دي واوري پهٔ زيره
بيـــادي لمـــن ده دکيسوډکه
دچالهٔ فتـــحي دچالـــهٔ ويره

پهٔ ځنو اشعارو کښي يې ډيره ښکلي منظر کشي کړيده .دو« پرديس پسرلی » څخه يې څوبندونه پهٔ دې هيله رانقل کوم چې دلوستونکونه به خپله د ادواخلي :

ليـــری تـــرونـــه رادرومی
د پـــسرلـــي نـــازك بادونـــه
گنـــمې وريـــځې ســـره اوړي
لکه تورمات شـــوي غرونـــه
لکه دوه غلـــيم ديـــوان چې
يـــولهٔ بـــل سره خښـــميزي
لاس پهٔ لاس شي غيزپهٔ غيزشي
پـــښې يې غـــره سره جنگيزي

جهاني يو پښتون نظر اونړۍ ليد هم لري چې« دغه زما غيور اولس دی» او «خوب وينم عالمه » غوندې نظمونو کښې ډير واضح دی ،خو يوه عجيبه خبره چې ماته بريښي هغه دا چې «زما غيور اولس دی » کښې شاعر دآمونه تر اټکه خلك خپل اولس ګڼي. پهٔ نوروټکو کښې خپل وطن يې ګڼي خوپهٔ بل ځای کښې پيښور ته يې مهره اودپيښور پسرلي تـــه« پرديس پسرلی » وايي ددې وجه زما پهٔ خيال دهغی ناستلجيا (Nostalgia) يعنې خپل کور پسې خفګان دی چې ددهٔ پهٔ ټولو نظمونو او شعرونو کښې محسوسيږي . پهٔ اخر کښې به دا ووايم چې کهٔ پڑواك صاحب ګيله کوله نو ورته به وايم چې پهٔ هغه جهان کښې به دآصف صميم غاړه نيولې وي چاچې زه پهٔ دې جهان کښې

دجهاني پۀ شعر دتقريظ اوانتقاد (گناه) ته راوبللم .

۱- وگورې « ورکه مينه » سريزه دعبدالرحمان پژواك مخ (۱).

۲- وگورې دحبيب الله رفيع ليکلې سريزه مخ ۱۲ هم دغه اثر.

۳- وگورې نظم «گيله من اشناته » لسم بند مخ ۱۳۹ هم دغه اثر

٤- وگورې: دغه زما غيور اولس دی . مخ ۳۱ هم دغه اثر.

٥- وگورې نظم « پرديس پسرلی » مخ ۲۱ ورکه مينه .

غزل

نیک ولي بې قرار

دادغـریـوه دمینـو زړونـه ډک دي
کهٔ لهٔ پرخې دسحرګلونـه ډک دي
دالفت هره کوڅه کښې کـانې اوري
کهٔ یـو مـاته دهرچالا سـونـه ډک ډي
چهٔ پهٔ برخه یې ازغي وي څوک یې ځهٔ که
کهٔ د ګلوسرهٔ اوشنه باغونه ډک دي
پهٔ دریاب دمحبت کښې ګوهـرغـوارم!
ګنې هسې خودکانوغرونه ډک دي!
ساقي! چاته دیوهٔ ګوټ ستونه نهٔ کهي
چاته اینې دي دمې جامونه ډک دي
کمڅې ورورو رنګوهٔ لهٔ خورو زړونـو
ستـاد زلفـو دکم ځیـوولونـه ډک دي
ستـادوصـل مرغابې ته مې داوښکـو
نن دسترګـو دلیمو سیندونـه ډک دي
تا به هیرچیرې دسر پهٔ بدل نهٔ کړم
زمـا د وینـو د غیـرت رګونـه ډک دي
څوک غمونه دخپل یارکړي بې قراره!
چا اخیستی د دنیـا پندونه ډک دي!

علي خیل ۹/مئ / ۱۹۹۱

«ابو طالب کلیم»

غزل

دیده را کردی سفید از انتظار ما مپرس
صبح ما را دیدی از شبهای تار ما مپرس
آنچه میافتد بدام ما بغیر از رخنه نیست
طالع رم کرده بنگر از شکار ما مپرس
دین ودنیا باز وعالم سوز وسامان دشمنیم
زهره را میبازی از خصل قمار ما مپرس
خوار تر از شیشهء خالی ببزم باده ایم
عزتی گر بود رفت از اعتبار ما مپرس
ما نمیگوئیم کز هر کس چها بر داشتیم
بردباریها ببین اما ز یار ما مپرس
ما نه از رستایٔ عقلیم ونه از شهر جنون
بیوطن چون گرد بادیم از دیار ما مپرس
میدهد طغیان اشك ما خبر از شور عشق
گل بدامان بنگر واز خار خار ما مپرس
با گلش گر زینت رنگ است از بومفلس است
ای کلیم از برگ وسامان بهار ما مپرس

مثنوی سلسلة الذهب که آنان رادکاندار وصوفیهء صومعه سازیه جامعه معرفی میکند ومردم رااز شیادی ودغلبازی وریا کاری ایشان بر حذر میـــدارد(٦، ص هشت).

جامی برخلاف گمان بعضی از مردم به تصوف از نظر آنکه این مسلك نتیجهٔ افکار ایرانیانست نمینگرد ، بلکه علت ایمان وی به این روش از آن جهت است که آن راحقیقت اسلام ورقیقه آن میداند ومعتقد است که خلفای راشدین اسلام دارای همین مسلك واعتقاد بوده اند . این مطلب بر کسی‌که دفاتر سلسلة الذهب راکاملاً بررسی کرده واضح وآشکار است .

عبد الغفور لاری راجع به ایمان واعتقاد استاد خود جامی به تصوف وایمانش به مشایخ سخنانی یاد کرده که در این جا چند فقره از آن را ذکر میکنیم (٦، ص هشت) :

«حضرت ایشان را در آن اثنا از تفرقهء دل وتعلق به صورت آب وگل انحراف خاطری دست داده ، وعنان عزیمت از جانب هرات به صوب سمرقند تافته اند . چندی ساکن آن جا بوده اند ودر آن جا کسب فضیلت وکمال مینموده اند تا آنکه شبی نه شب ، بلکه صبح سعادت واقبال ... که حضرت ایشان را خاطر از مفارقت صوری ومزاحمت داغ دوری متألم بوده است ، درخدمت قدوة العرفاء الکاملین واسوة الکبراء العارفین المتوجه الی اللّه بالکلیه والداعی الیه با نواره الجلیه سعدالملة والدین الکاشغری قدس اللّه سره در واقعه دیده اند وبه گوش هوش شنیده که فرموده اند : اورا در باری گیر که ناگزیر بر تو بوده :

معشوقه زداز میکده ام بانگ تعال

داد ازمی عـــشقم قدح مـالا مال

از درد سرخرد شـــدم فـارغ بال

بـــرداشتم افغان به تقاضای وصال

ادبي اوفرهنگي خبرونه

دوير كرښې ....

دپښتو نومیالی لیکوال او ژپونکی حسین بخش کوثر غوریاخیل دروان کال داسد پۀ ۲۳ (د ۱۹۹۱ اګست ۱٤) پۀ پیښور کې وفات شو .

اناللّه وانااليه راجعون ٥

حسین بخش کوثر غوریاخیل پۀ ۱۹۲۳ ع کال پۀ پیښور کښې زیږیدلی و ، پۀ پیښور کې لۀ لومړنیو زده کړو وروسته پۀ ادبي اوسیاسي هلو ځلو بوخت شو . اروابنباد دخپل ادبي اوعلمي کار پۀ لړکښې د « طوفان » ، « افغان یورېشیایي » او« ژبویشنه » پۀ نومونو پښتو آثار لیکلي دي او پۀ همدې باب یې ډیرې مقالې خپرې کړې دي .

مرحوم کوثر غوریاخیل دمجاهدو اومهاجرو افغانانو یو خورا خواخوږی دوست و .

اروادې یې شاده وي

غزل

جامي

گفتم از توبردلم هردم کم از صد غم مباد
زیرلب خندید وگفتا بیش باد وکم مباد
گفتمش سررشته کارم شد از عشق توگم
گفت کار کس چنین آشفته ودر هم مباد
گفتمش بهر تو میریزم زمژگان دراشك
گفت یارب هرگز این ابر کرم بي نم مباد
گفتمش شد قامتم چون حلقه، اشکم چون نگین
گفت جز حرف وفایم نقش این خاتم مباد
گفتمش از هجر نبود ماقي دلسوز تر
گفت بر جان محبان داغ این ماتم مباد
گفتمش دارم دلي بر درد بي پیکان تو
گفت یارب هیچکس را درد بي مرهم مباد
گفتمش از عشق خالي نیست در عالم کسي
گفت جامي هر که عاشق نیست درعالم مباد

SPEDE

Bi - Monthly
Literary and cultural Publication
July - August 1991

Second Cycle
Vol :2 No: 2
Serial No : 29

حضرت ایشان رااز این واقعه تأثیربلیغ ودغدغهء عظیم در افتاده است . از صدق وشوق قدم ارادت بر گفت عنان توجه به خراسان تافته اند وصحبت حضرت مخدوم سعدالدین رادر یافته اند :

دیدم پیری که زیر ایـــن چرخ کبود
چون اودگری زبود خـود پا ك نبود
بود آیینه یی که عکس خورشید وجود
جاوید در او به صـــورت اصل نمود

به اندك فرصتی که به قدم صدق نیت وخلوص طویت طریق ارادت آن حضرت سپرده اند ایشان راشوق قوی در ربوده وربوده گی عظیم دست داده ، چنان که یکی از بزرگان که در آن طریق رفیق ایشان بوده متحیر ومتعجب بوده ومیفرموده که : طریق خواجه گان قدس الله سر هم العزیز حضرت ایشان را عجب زود ربود .

مخدوم سعدالدین مرحوم پیوسته بردر مسجد جامع هرات که قریب به نشیمن ایشانیست با فقراء نشسته صحبت میداشته اند وحضرت جامی را ممر وراهگذر آن جا بوده است ، هر نوبت که میگذشته اند مخدوم سعدالدین میفرمودند که این مرد را عجب شایسته گی است ، وفریفته وی شده ایم ، نمیدانیم که وی رابه چه حیله به چنگ آوریم ودر روز اول که به صحبت مخدوم رسیده بودند مخدوم میفرمودند که : شاهبازی به چنگ ماافتاده ا ست » (٦، ص نه).

باید گفت آنچه از این استاد بزرگ مانند تاجی برتارك ادبیات عرفانی دري جلوه گری دارد ، مثنویهای معروف به هفت اورنگ است ، که در مراتب عرفان وراهنمایی پوینده گان راه حقیقت وپند واندرز از طبع سحر آفرین این استاد بزرگ زیب دفتر ادبیات گردیده است . جامی بدون هیچ تردید در بیان حکایات وتمثیلات که همیشه برای روشن ساختن حقایق عرفانی در این مثنویها آورده شده است استاد مسلم در میان همهء آنهایی است که حکایات کوتاه راابرسبیل مثال وشاهد در گفتار خویش به کار میبرند (۱۵ ، ص ۸٤).

سید افسر علي شاه

دخمکښو میاعمر بابا رحمة الله علیه

اولیاء الله دخدای پاك نازنین خلك دي. د وی دخدای دوستان دي . دوی خپل ژوند ددین دپاره وقف کوي . د نبي علیه السلام دشریعت مطابق ژوند تیر وي . ددنیا دمعاش پۀ خاطر دنیوي کاروند هم کوي . ځکه چې دغه پریزدي اوګوښه نشین شي نوهغه پۀ اسلام کښې منع دي . دوي سختی تیروي خوخپل ژوند دمحمد «ص» لۀ سنتودلي لاري سره مطابق پۀ یوه وانچه کښې واچوی ، چې بالکل نۀ یو خوا وخوځي نۀ بل خوا ، دغه لارته طریقت وایي اوددغې مقصد ته معرفت وایي. عارفان دتوصیف پۀ وسیله خپل رب ته ورسي .

زما دا مقاله ديو عارف سره متعلق ده. عارف ته مور پهٔ عامه ژبه کښې د برخې خاوند وايو . نو دادبرخې خاوند ، دالله نيازولی ولي حضرت ميا عمر بابا چې مزارېې دپېښور نه لس کيلومتره فاصله لري اودخلکو اودعقيدت مندو دخاصې توجه مرکز ی ، دځمکنوکلی دپېښور لهٔ ښار نه لږ شمال شرق ته دپېښور نوښار ترمنځ پروت دی .

ميا صاحب «رح» دپلار لهٔ خوا تر کلاڼی پښتون دی تر کلاڼی ، ګګيانی ، مندړ اويو سفزي څېنې دی. ددا ستان دير پهٔ يوويشتم مخ کښې محمد زي هم څېنې بلل شوي دي. (١)

دميا صاحب دپلار نوم ابراهيم و. دميا صاحب نيکه کلا خان دمغلو پهٔ زمانه کښې د شاهجهان پادشاه پهٔ وخت کښې پهٔ پنجاب کښې آباد شو. څه موده پس کلاخان دپنجاب نه هجرت وکړاو باجوړ ته راغې خو پهٔ لارکښې چاشهيد کړ اونورخاندان يې بيرته پنجاب ته لاړ. هلته ابراهيم صاحب چې دکلاخان بابا زوی او دميا صاحب پلارو، خپل ژوند روزګار شروع کړ. ابراهيم صاحب هم پهٔ هغه ځای کښې مړ شو اوقبرېې هم هلته دراوی دسيند پهٔ غاړه دی .

دميا صاحب خپل خپلوان اوبزرګان پهٔ تصوف کښې ډير کمال ته رسيدلي وو. دوی پهٔ قادر يه اوچشتيه طريقو کښې فيض حاصل کړ. ميا صاحب پهٔ خپله ويلي دي :

پلار نيکه زما تيرشـــوي بـــزرګان وو
څوک پهٔ ذيل دقادري څوک چشتيان وو (٢)

دميا صاحب مور دځمکنو دسعيد خان ملك لوروه .وايي چې يوه زمانه

١- دځمکنو ميا عمر «رح» ليکوال پوهاند عبدالشکور رشاد .چاپ کابل ١٣٨٠ مخ.
٢- توضيح المعانی صفحه ٩٩

کښې پۀ پيښور قحط راغلی و. دغه خلك دقحط لۀ لاسه پنجاب ته لاړل دځمکنو کلي خلك پۀ فريد آباد کښې واوسيدل . ملك سعيد خان ، چې دابراهيم صاحب لۀ زهداوتقوی نه متاثر شو ، نوخپله لور يې دغه ابراهيم صاحب ته پۀ نکاح کښې ورکړه . ددغه يې يې نه دابراهيم صاحب درې زامن پيدا شول . محمد عمر ، محمد موسی اومحمد عيسی ، ميا صاحب پۀ تولو کښې مشر، چې ابراهيم صاحب وفات شو . نوملك سعيد خان خپله لور اوغسي لۀ ځان سره ځمکنو ته راوستل ، دغه وخت دميا صاحب عمر ۱۲ يا ۱٤ کاله و. لۀ دغې واقعې نه دميا صاحب دعمر اندازه لګي چې پۀ دغه حساب دوی پۀ کال ۱۰۸۲ يا ۱۰۸٤ هجري کښې زيږيدلي وو. هسې خودميا صاحب پۀ تاريخ پيدا يش کښې ډير ستر تضاد دی. خو دغه دوچکالی زما نه پۀ خپل ځان څه تاريخ لري، نو پۀ دغه دود چې ځمکنو ته څه وخت نيکه داخپل نمسي راوستل ، نو مياصاحب ددوولسو يا څوارلسوکالوۀ خو دغه دعبدالحليم اثر صاحب تحقيق دی ، ميا صاحب پۀ خپله خزينة الاسرار کښې فرمايي چې ... سعد ی لاهوری «رح» لۀ ما نه تپوس وکړو چه ته پۀ کوم ځای کښې زيږيدلی يې اوپۀ کوم ځای کښې لوی شوی يې؟ ماورته ووی پۀ پيښور کښې پيدا شوی يم. دپيښور د علاقې اوسيدونکی يم اوهم هلته لوی شوی يم . اوپخپله پۀ خزينة الاسرار کښې ليکي « چې ماابتدائي تعليم دپيښور پۀ خوا وشا کښې حاصل کړ اوپۀ ۱۰۹۹ هجري کال کښې دنورعلم دحاصلو لو دپاره کابل ته لاړم ليکي چې حضرت شيخ سعدي لاهوري يوځل بيا پۀ ۱۰۹۹ هجري د لاهور نه پيښور ته راغی خوزه پۀ دغه کال پۀ کابل کښې مقيم وم .

دوی پۀ کال ۱۱۰۳ هجري کښې دکابل نه بيرته پيښور ته راغلل او پۀ کال ۱۱۰٤ هجري پۀ لاهور کښې دحضرت شيخ سعدي لاهوري نقشبندي پۀ محفل کښې شامل شو. پۀ ۱۱۰٦ هجري کښې ميا صاحب پيښور ته راغی اوپۀ دغو ورځو کښې يې لۀ چا سره منشي توب کولو خوزر تر زره يې دغه نوکری




با کاروان چلچله ها میرسد بهار
بادست پر ستاره به پهنای بامداد
با ارمغان نور
با هدیهء طراوت وشادابی وامید
وزمعبد سپیده کشد دست سوی او
خورشید تابناك
اینك دوباره باز
خیل پرنده گان خوش آوای پر نوید
بر اوج بیکران افق بال گسترند
نو باوه گان سبز چمن سجده گر شوند

بر آستان باد
باردگر گناه زمستان شود عیان
چون دست نو بهار
یکسو زند نقاب سپید برف
درزیر این خجسته نقاب سپید رنگ
بس بوته های سبز که خشکیده
بس شاخه ها که گشته تهی از بار
پروانه ها به نیمرهء زنده گی خویش
جان داده اند زسردی
در آغوش همدگر
آری!
آری به پشت پردهء سیمین برفها
سیمای بس سیاه زمستان نهفته است
صدها جنایت است وهزاران سکوت مرگ
کاو ارمغان دست زمستانست
من باغبان پیرم
دیگر به کار نیست زمستان زشتخوی
اکنون نیاز مابه بهارانست
اکنون نیازما
به بهارانست

محمد صدیق پسرلی

دراز ونودنیا

خوددانوپۀ تلاش ستړي مرغۍ دټیلیفون پۀ مزي کښیناستلې
دچالۀ یاره سره پټ خواله وو ځینو دسترګو درځې وترلې

××××

چاکړه سرونه تر وزرونولاندې دځینوشوق وچې آواز ووایي
ځینو لیدله مناسبه موقع چې خپل مین ته دزړه رازووایي

××××

چې دوی پرې ناستې وې تریښولاندې یې وه دښکاره پتورازونودنیا
د زوروړو دتهدید ږغونه دناز ولودناز ونو دنیا

××××

چا پور وړوته نیټې تپا کلې چادزړه تندې ته وعده اخیسته
ممکن وفاته به یې نۀ وزړه ښه بس لۀ آوازه یې بوسه اخیسته

××××

دټلیفون پۀ دغه وچ مزي کښې یو اباسین و درازونوروان
هره لحظه له ورا نو جوړودکه هره لمحه یې دنیزونویل شان

××××

مـاچې پهٔ سیم ناستې مرغۍ ولیدې فکرمې لاړترلرې لرې وزغاست
چې آخرموزبه لکه دغه مرغان دکایناتو پهٔ کوم مزې یوناست

×××××

الوزو،لرې خوٓ، راښکاري جهان دواړه فکر تر وزرونولاندې
ښایې وې داسې داسرار ودنیـا دغه چې مورکووخوبونه باندې

×××××

مورٔ به هم دغه شان ساده مرغان یو زمورٔ به هم داسې برسیرن کاته وې
داځه چې وینو دابه داسې نهٔ وې دیرپټ رازونه به لاپټ پراته وې

پښتوتفسيرونه

۸

حبيب الله رفيع

تفسير بې نظير

مولانا يعقوب څرخي (۱) پهٔ دري يو تفسير کښلی ، چې د «تفسير چرخي »پهٔ نوم مشهوردی ، پهٔ دې تفسير کښې دقرآن کريم دفاتحې دسورة اودقرآن کريم ددورهٔ وروستيو پارو « تبارك الذي » او « عمّ » تفسير شوی دی ، چې يو معتبر اومشهور تفسير دی (۲).

دهمدې تفسير يوه ترجمه د« تفسير بې نظير » پهٔ نامه پهٔ پښتو کښې شوی چې لهٔ نن نه ۱۱۰ کاله وړاندې پيښوري تاجر حاجيّ ميامحمد پهٔ مطبع احمدي کښې چاپ کړې ده .

ډاکتر محمد اکبر اکبر

کړنګ وهه ای جامه !

کړنګ وهه چې وخوځي داتپ ولاړ وختونه مو
توی شه چې وچیزي مسته وینه درګونو مو
پیرشو لهٔ زنځیره راته زنګ د زنځیرونو مو
مینه حلالیزي پهٔ چې ودهو سونو مو
ډکې شوې پهٔ سرو اوروتو خولې دسروګلونومو
ونښتې سلګۍ غوتورسوته دداروتو مو
نوکړنګ وهه ای جامه !

کړنګ وهه ای جامه ډیرې مړې شوې اوشپې ګورې شوې
حورې راته ډمې شوې اوډمې راته حورې شوې
ډیرې زامن زیږندی آغلی مینډې بورې شوې

مات راته ډالونه شول اوپخې راته تورې شوې
پيغلې دهيواد موديوې تنګې مزدورې شوې
زړونه زموږ لوټ شول اوسيني زموږ چورې شوې
تولې شاړووخښلې کهٔ ګورې وريځې ګورې شوې

نوکړ نګ وهه اې جامه !

کړنګ وهه اې جامه چه سرپرې شوه دقلم تنه
کښيناسته دګورخزو ته تانده دعلم تنه
اوس مو دکوڅو چنو ته پريو ته دغم تنه
داړې دشيطان به رانه وخورې دحرم تنه
هسې به خپل ځان مرګې لهٔ ورکړې ددې چم تنه
تاکه پهٔ يو غړپ راژوندی نهٔ کړله ددم تنه

نوکړنګ وهه اې جامه!

کړنګ وهه اې جامه چه دليچو بنګړې شرنګ وهې
پرې وينځه داخيرې ګنې زړونه زموږ زنګ وهې
پيغله سندرغاړې دژوندون مرګې ته چنګ وهې
کاش که دې لهٔ کړنګه دمينو کاسې کړنګ وهې
هسې ګنې خدايزده چه به سرد چاپهٔ سنګ وهې
غله دپسرلو رانه اوس وزم دلونګ وهې

نو کړنګ وهه اې جامه !

کړنګ وهه چه بيا دقد مونو سپينې ونښتې
زړه کښې دنيمزالو ارمانونو وينې ونښتې
هسك ختلې هڅې مو دتګ پهٔ مړينې ونښتې
خپلې تيرې توري مو پهٔ خپلې وينې ونښتې

اخ څما شيـــرينې ته دچاپهٔ مينې ونـــښتې
نوکړنګ وهه ای جامه !

کړنګ وهه چه ستالهٔ کړنګه پرانيزو دپل لارې
پل دبرښ پهٔ پل کيزدو اوپريکړو دمزل لارې
لمر پهٔ بام راوخيژي زنې کړو دبـــورجـــل لارې
لوټ کړو دژوندون پهٔ ميړنـــيو داجـــل لارې
يوسو دپامير ليمـــه تـــه بيا دزړه دتـــل لارې
نوکړنګ وهه ای جامه !

کړنګ وهه چې دلته دزور ټولې تنې پريـــوزې
دغه نهيلو نيولـــی لاس لهٔ زنـــې پـــريـــوزې
سور دجبر څپرې دزور لهٔ ســـتنې پـــريـــوزې
گل خوړونکی کسې يې دگل پهٔ غنې پريوزې
گڼ دکرکې اورته داجوپـــی ازغـــنې پـــريـــوزې
نوکړنګ وهه ای جامه !

طاهرا ثرافریدی

اوچې هغه دګوټ پیرنه ورواوړیدو او سم اړخ ته یې وکتل اوپۀ ړومبي نظر یې دخلکو دغه لو یه ګټه ولیدله چې پۀ یو ارت میدان کښې راجمع شوي وه ، نو هغه لږ ساعت دپاره پۀ ځای ودریدو ، لکه سوچ کوي چې څه وکړي. پۀ خپله مخه لاړشي اوکه دغه لویې ګټې ته ورستون شي ؟؟پۀ هم دې فکر اوسوچ کښې لږ ساعت ولاړ و او بیایې یو څو قدمونه واخستل اوپۀ مخه روان شو ، ځکه چې هغه لۀ لرې نه یوراروان مسافر و اولا ورته یو نوی سفر وړاندې پاتې و؛ خو دخلکو دګټې پۀ لیدو دهغه دسفر دمضبوطې ارادې پۀ لوړیوال کښې چاودونه وشول اوهغې هم دخلکو پۀ هغه ډله کښې ملګری شو ، چې ډیره پۀ بې صبرې سره دمیدان پۀ لور ځغلیدله .

ميدان ته چې پرمبى كوم خلك راغلي وو ، هغوى ديوې دايرې پۀ شكل كښې پۀ وړاندې كتار كښې ولاړوو دهغوى لۀ خبرو نه داسې ښكاريده، لكه هغه پۀ خپله خوش بختې فخر كوي ،چې هغه دتماشې نزدې ځاى شوى دى او چه كوم خلك ډلې ډلې روستوراتلل ، نو هغوى د وړاندې ولاړو خلكو شاته ودريدل ، د مخكښې ولاړو خلكو پۀ اوږو به يې لاسونه كيښودل اودپنجو پۀ څوكو به نيغ ودريدل او هغه ځاى ته به يې كتل چې دغه هر څه پۀ كښې كيدونكي وو .

مسافر چې خپله لارگډه كړې وه، لا هغه شان پۀ تذبذب كښې و، نۀ پوهيدو چې خپل منزل يې ولې اوځه لۀ پاره پرينښودو او چې پۀ هيڅ نتيجه ونۀ رسيدو ، نو پۀ ډله كښې يې لۀ يوكس نه پوښتنه و كړه ، هغه ورته دسم جواب او ښكاره خبرې يې ځاى بس دومره قد رې ووى « ظلم شوى دى ظلم اونې يې فيصله اوررلى شي . »

اوچې ترڅو مسافر ورنه تفصيل پوښتلو، هغه بيا وړاندى ځغليدلى و، هغه لۀ يوبل كس نه تپوس وكړو ، خو هغه هم داسې وړاندې ځغليدو ، ځكه هغه كۀ يوه لحظه هم ايسارشي ، نو تولو تماشه به ختمه شي، يوبل سړى دهغه تر څنګ تيريدو، چې مسافر وربانده غږ وكړو: وروره دا دخلكو دومره لويه ګډه دځۀ لۀ پاره راټوله ده اودغه ډلې ډلې خلك ولې دومره پۀ تادى ورځغلي ؟ سړي ورته پۀ تريخ نظر وكتل او ورته يې ووى .

« تپوسونه څله كوې، كۀ ليدل اوپوهيدل غواړې ، نو راځه پۀ خپله يې پخپلو سترګو وګوره اوپۀ خپلو غوږونويې واو ره ! سړي ورته پۀ سخته لهجه كښې ووى،« اوهن دغه وروردې چاته ووى ؟ اوولې، دلته وروڼه وروڼه نۀ شته دلته هر رشته لۀ خپل عمل سره تړلې ده، پوه شوې» اوهغه هم ورنه پۀ وړاندې دتماشې ځاى ته وځغليدو. يو څوكسان نورهم دهغه ترڅنګ داسې پۀ تادى تير شول، چې كۀ يو ساعت هم ايسار شول ، نو تماشه به ونۀ وينې ، يابه لۀ يوغټ ثواب نه محروم پاتې شي اوچې هغه پۀ دې پوه شو ، چې تفصيل

ښودلو يا پوره جواب ورکولو لهٔ پاره نهٔ خوچاسره وخت شته اونهٔ څوك دومره زحمت کوي؛ نوهغه هم پهٔ دغه څغليدو نکو خلکو پسې هغې ګڼې ته روان شو . ګڼه دومره زياته شوې وه چې پهٔ ميدان کښې دنورو تما شګيرو ځای نهٔ کيدو، خو هغه څه په خوارو اوټيلو ټيلو دخلقو دشا نه هغه ځای ته ورسيدو چې د دايرې پهٔ منځ کښې پهٔ زنځيرونو تړلی هغه بندي پهٔ کښې صفا ښکاريدو، چې نن يې پهٔ عدالت کښې مقدمه جوړه وه او هم نن دانصاف تقاضې پوره کيدونکې وې .

دميدان پهٔ منځ کښې يوه غټه لوړه ستن ښخه ولاړه وه اوهغه کس چې مقدمه پرې چليدونکې وه، پهٔ دغه ستنه پورې پهٔ زنځير ونو کلك تړلی و. ددغه کس دواړه لاسونه دصليب پهٔ شکل کښې غزولې تړلې وو اوپښې يې لهٔ زمکې نه دومره قدرې اوچتې وې ، چې ايله يې پنجې پهٔ زمکې لګيدلې ، دبندي مخ داسې سور پرسيدلی و ، لکه ښې تود پ تودې څپيړې يې چې خوړلې وې او دسرويښته يې داسې ښر اوځای ځای ګنجې ښکاريدل، لکه ګڼو خلکوورنه پهٔ ګوتو پنجو وښکلې وې ، جامې يې ريښې ريښې او پهٔ خاورو کښې لړلې وې اوځنګلې او زنګنونه ئې غوڅ غوڅ سوليدلي، شليدلي اوپرهر پرهر وو ، لکه خلکوچې لهٔ لرې نه تردې ميدان پورې پهٔ زوره زوره را ښکلی وې .

د بندي مخې ته يود څو قدمونو پهٔ فاصلې پنځه کسان زوړند سرونه ناست وو. پهٔ ګوتو کښې يې قلمونه نيولي وو اوپهٔ سپينو کاغذونو يې څهٔ ليکونه کول ، خو ديو لفظ او يو ټکې ليکلو نه پس به راايسار شول او اول به يې دبندي لورته او بياد ولاړو خلکو څيروته داسې نيغ نيغ وکتل ، لکه هغوی چې دبندي اوتماشګيرو دجذباتو اودزړونو دحال لوستهٔ کوي .ددغو کسانو دليکلو د انداز نه هم ښکاريدله ، چې لهٔ ډير احتياط نه کاراخلي ، لکه ورسره ويره وې، چې هسې نه څه غلط لفظ ټکې وليکي او چې ښه ساعت پس

هغوی قلمونه لهٔ لاسونو کیښودل ، نولیکلي کاغذونه یې رایو ځای کړل اودخپل مشر مخې ته یې وړاندې کړل . مشریو یو کاغذ ډیر پهٔ ژور نظر ولوست اوبیایې قلم اوچت کړ اوپهٔ دغه کاغذ ونویې لاس لیك وکړ. یو ساعت یې پهٔ ستنه پورې تړلي کس ته وکتل بیایې یو نظر پهٔ ګڼه واچولو ، خلك ټول داسې چپ غلي وو، لکه دجادوپهٔ زوردکانو بتونه ترې جوړ شوي وي، خولهٔ ځیرونه یې دجذباتو اظهارواضح کیدو، چې هغه دې ته لیواله دي ، چې د بندي پهٔ حقله دې ژر فیصله واورلی شي.

فیصله کوونکي مشر دخلکو لهٔ ځیرو نه سترګې ستنې کړلې ،یو نظر یې بیا پهٔ کاغذ ونو واچولو ، لکه ګوري چې څه غلطي خوبه نهٔ وي پاتې شوې . بیایې پهٔ ایسار ایسار اودځهٔ جذباتو نه پهٔ عاری اواز کښې ووی:« زما مرستیالو » هغه ښې او کښې اړخ ته ناستو ملګروته وکتل ،زما مرستیالو پهٔ متفقه ډول دغه فیصله کړې ده ، چې دغه بندي ، هغه دبندي پهٔ لور پهٔ ګوته اشاره وکړه. دغه بندي ډیر غټ جرم کړی دی اودجرم تمام شواهد اوثبوتونه موجود دي ، نو دقانون مطابق مور غواړو چې مجرم ته دې سخته سزا ورکړی شي اود سزا لهٔ پاره یې تجویز وړاندې کړی، چې مجرم هم دلته ، هم پهٔ دې میدان کښې هم د دغو خلکو لهٔ لاسه سنګسار کړی شي .»

هغه غلی شو اوخلقو ته یې داسې وکتل لکه دملګرو دتجویز کړې سزا رد. عمل معلومویې .خلکو چغې کړې او جذباتي نعرې اولاسونه یې اوچت کړل او پهٔ دغه فیصله یې د خپلې خوښۍ داسې اظهار وکړو ، لکه دانصاف او قانون لهٔ تقاضونه زیات چې دمجرم دسنګسار یدو تماشی ته لیواله وي ، خلکو لا هغه شان جذباتي چغې وهلې،چې مشر دلاس پهٔ اشاره ټول غلي کړل :

« زه » مشرخبره شروع کړه . زه لهٔ خپلو مرستیالو سره مجرم ته د سختې سزا پهٔ ورکولو کښې متفق یم اوددوی د فیصلې تصدیق کوم اوپهٔ دې حق کښې یم، چې دا جمع شوي خلك ټول کانې راواخلي اودغه ګناهګار ، دغه

مجرم دې ترهغې پورې ولې، ترڅو چې دهغه دروح او تن سره دتړون رسمۍ نۀ وي شليدلي » .

دهغه لۀ دغې وينا سره ټول خلك زمكې ته ټيټ شول اوداسې پۀ ټادې يې غټ غټ كانې راواخستل ، لكه لوی ثواب چې ورته تيريدونكی وي .

او چې دګناهګار ، مجرم اوپۀ زنځيرونو ټرلي بندي پۀ لوړيې د ګوزارلۀ پاره لاسونه اوچت كړل ، نو هم دغه وخت مشردلاس پۀ اشاره هغه منع كړل او ويې ويل : زه دخپلو مرستيالو لۀ فيصلې سره بس دغه قدرې اختلاف لرم ، چې پۀ ګناهګار به پرومبی ګوزار هم هغه كس كوي چاچې دګناه لۀ ګندګيرنه خپله لمن پۀ هر حال كښې پاكه ساتلې وي .

دمشر لۀ دغې وينا سره دراجمع شوو خلكو دلاسونو كانې پۀ زمكه پريوتل اوهغوی سترګې داسې ټيټې كړې ، لكه لۀ خپلو خپلو ګناهونو سره چې پۀ موقع نيول شوې وي اولكه ددغه بندي ګناهګار سزاچې دوی ته اورول شوې وي ، بندي پۀ ستنې پورې ټرلی داسې مسكی شو ، لكه دخپلې ګناه لۀ سزا نه چې خلاص شوی وي .

را جمع شوي خلك چې غلي ولاړ وو او د مقد مې مشرانو پۀ حيرت او تعجب سره كله بندي ته او كله راجمع شوو پۀ سلګونو زړګونو خلكو ته كتل ، اوچې دغه چټتيا حد ته ورسيده او نزدې وه، چې مشردنورومرستيالو پۀ فيصله څه نورې كړښې رابښكلې وی، چې مسافر ، چې خپله لاربې ددغې ګنې اوټماشې لۀ پاره ماته كړې وه، دخلقو لۀ شانه وړاندې راغی اودمشرانو مخ ته لۀ ګناهګار بندي سره نزدې ودريدو .

اوچې دبندي دهغه پۀ څيره سترګې ښخې شوې ، نو پۀ زنځيرونو كښې ټرلی داسې توپ وكړ ، لكه چاچې پرې پرومبی ګوزار كړی وي .

« تۀ ، تۀ دلته؟ » ګناهګارپۀ وارخطا اوهيبت ورته ووی اوبيابې مخ د مشرانو پۀ لور واړولو اوپۀ چغه يې ووې .

« مشرانو ، دغه کس ....» خودهغه خبره لا لهٔ خولې نه هم وتې نهٔ وه، چې مسافر دمشرانوپهٔ وړاندې دتعظیم سرتیټ کړ ، او ډیر پهٔ ادب او احترام یې لوی مشرته ووې :

« محترم مشره ! اوعزمندو مرستیالو ! زه یو مسافر یم ، لهٔ لرې مقام نه را روان یم ، زما منزل ډیر لرې دی ، دغه وخت ما ته سفر کول پهٔ کار وو ، ځکه چې زما مخې ته لالوی سفر پاتې دی » هغه لږه ساه واخستله اودکنې پهٔ لوړې داسې وکتل ، لکه دخلکو جاج چې اخلي ، هغه لانور هم غلی پاتې کیدو ، خو هغه مشر ورته ووی :

« زموزلهٔ دې سره هیڅ غرض نهٔ شته ، چې ته لهٔ کوم لورې راغلی اوکوم لورې ته روان یې ؟ مونږ تانه تمهید نهٔ غواړو خبره پهٔ لنډو ټکو خلاصه کړه ،تهٔ ویل څه غواړې ؟ هسې وخت مهٔ خرابوه ، »

دمشر پهٔ دې سرزنش اورتنې دهغه رنګ لږ تغییر شو ، خو بیایې زړ ځان سنبال کړ او خبره یې شروع کړه :

« محترمو ! زه دغه مجرم ، دغه ګناهګار بیخې نهٔ پیژنم اونهٔ لهٔ دې نه خبریم، چې ده څه جرم کړی اوپهٔ څه ګناه ده ته دومره سخته سزا واورول شوه خودومره پوه شوم ،چې پهٔ مجرم باندې د پرومبی کانې د ګوزارکولو جرائت پهٔ هیڅا کښې هم نشته » هغه بیالږ غلی شو، خو دمشرانو سترګوته یې چې وکتل، نوزر یې ووی :

« زما مطلب دی ،چې پهٔ دومره ګډه کښې یو داسې دخدای بنده نشته،چې اقرار وکړي ،چې هغه هیڅ یوه ګناه نهٔ ده کړې خوزه .... زه ستاسو پهٔ وړاندې پهٔ وازکومی وایم، چې زه لهٔ هرې ګناه نه پاک یم ماهیڅ یوه دانسې ګناه نهٔ ده کړې ، چې نن پهٔ دې ساعت زما لا س ونیسي ، پهٔ دغه ګناهګار پرومبی ګوزار هم زه کوم . »

لهٔ دې وینا سره هغه زمکې ته ټیټ شو او کانې یې اوچت کړ. بندي یوه

بله چغه وکړه اومشرانو ته يې څه ويل ، چې هغه وربانديې داسې ګوزار وکړ، چې دهغه خبره يې پهٔ خوله کښې ورستنه کړه اوبيا دکانويو داسې باران جوړشو، چې پهٔ لږ ساعت کښې د بنديې دتن اوروح مزی وشليد ه .

او چې دخلکو جوش جذبه يخ شول ، نو لهٔ مسافر نه راتاو شول، چاپې لاسونه ښکلول ، چا يـې د پښو خاورې دسترګې رانجه کول او چاپې تر لمن لاندې پناه اخستله .

اودې زما نه کښې دخدای يو داسې بنده، چې تر اوسه يې هيڅ ګناه هم نهٔ ده کړې ، داخوولي دی ولې ؟

خلکو غوښتل چې هغه يو څو ورځې لهٔ هغوی سره ايسارشي اوددې ځای خلك دهغوی دخدمت سعادت حاصل کړي خومسافر ته اوس لاره صفا شوې وه اوهغه خپل منزل ته زر نه زر رسيدل غوښتل اوچې کله هغه لهٔ هغې علاقې لرې لاړو ، نوپهٔ لاره لهٔ ځان سره مسکی شو:« دغه خلك څومره ساده او کم عقل دي ، چې زما پهٔ خبره يې يقين وکړ.لهٔ دې نه نهٔ وو خبر چې ګناهګارزما دسردښمن او زما تر بور و اوماپهٔ دروغو ګواهي ..... ».

هغه بيا مسکی شو .

علم محتاج دی روغې فضاته
ګلان کړې هڅه روغې فضاته
قلـم اوژبـه بايـد ازادوي
دايوه لار ده وارتـقا ء تـه
ارواښاد خادم

دا تفسير شريف يوه منظومه مقدمه لري ، چې ژباړن يې ددې تفسير دليکلو پۀ باب ليکلي ده ، خومتأسفانه چې خپل نوم يې نۀ دی پۀ کښې ښودلی ، داسې بريښي ،چې ددې تفسير ژباړونکی دپيښور يا شا اوخواسيمو اوسيدونکی وي ، دی پۀ دې سريزه کښې وايي :

پس لـۀ حمده لـۀ ثنـا	پـۀ تـوفـيق دربـنـا
درود وايـم پـۀ حضـرت	چـې دخلـکو دی زينت
هم پۀ آل اوپـۀ اصـحابو	درسـول پۀ سنـو احبابو
پس لـۀ دې واوره لـۀ مـانه	ای مظهر دکـل احسانه
چې مې مړه شوه دواړه ورونيه	شپـه اوورځ شوه پۀ ماروڼه
هميشـه ددوی لـۀ غـمه	کـناره شـوم لۀ عالمه
پۀ ماتنـګ شه خـپل وطـن	قصد مـې وکـړ درفتن
ډير ملکونه مـې پـره کړه	خپل پـردي مې آواره کړه
کۀ مـې ډير کـول سـيلونه	زياتيده بـه مې غمـونه
غـرض داچين ته قريـب شوم	پۀ ملکونو کښې غريب شوم
گهي غـم گـهي سنـادي وه	پۀ نصـيب دهيـوادي وه
غـزالـي زمـا همـدم وه	پـۀ هـردم پۀ هـر قدم وه
دۀ ويل غـم دعـقبی کـړه	دنيا پريږده ورته شـا کـړه
دنـيا ده لـۀ هـرچاپاتـې	هـره ورځ کوي تری ماتې
غـم کـوه دآ خـرت	چـې رب درکانـدي جنت
ده ويـل چـې يوتفـسير	پښتو وکـړه بـې نظـير
پکښې حل کـړه مـغلقات	قرآن سخت لـری لغات
خصـوصـاً آخـر قـرآن	پۀ ځانګـه کښې مصليان (۳)

دی نوره ټوله کيسه اوددې تفسير دليکلو علت ، حتی دهغه دوست نوم چې پسې باعث شوی دی ، يادوي ، خولۀ بده مرغه خپل نوم نۀ ليکي اوپۀ

پیر محمد کاروان

ګلي ګلي غواړي راروانې وې. دغواوروپۀ سترګوکښې ویره ښکاریده، پۀ غوږلوکښې وروخوسیو رمبارې وهلې.

ځنګل ډډا اوفریادونوپۀ سراخیستی وو. موریې دډډا اوفریادونواواز وپیژانده. هغه وپوهیده، هغه پۀ هر ځۀ وپوهیده. پۀ زړۀ کښې یې سرې لیکې تیرې شوې . لۀ جونګړې راووته:

ستاپه میړی مې ودروې.

پۀ تامې بوره کړې .

نۀ مې درته ویل لۀ هلکانوسره مستې مۀ کوه. لۀ ډیره قهره اولۀ ډیره درده یې وخندل . خدای خبر دی تۀ به بې غمه ویده شوی وې . پوهیږم ... پوهیږم ... ببرې پۀ یبلوپښو لۀ ځنګل نه راووت . دخپلې

جونګړې خواته پۀ منډو،منډو راتلو، دباندوسپويې ژړا اوفريادونه واوريدل، سپوورمنډې کړې اوحمله يې پرې وکړه. ببرې پۀ زوره چيغې کړې:

ګوريئ ګوريئ پۀ پرانګ ودابل شئ.

سپې ورنږدې شول، ببرې پۀ ډيرې چالاکۍ لۀ خپلې نرۍ ملانه د ډوډۍ دسمال خلاص کړ، وچ سوکړک يې سپوته لرې وغورځاوه .

مور لۀ ډيره قهره غابنونه ورته وچيچل :

ـ خدای دې پۀ ليونيوسپو وخوره ، چې نۀ پۀ دم روغيږې، نۀ پۀ درو

ـ بنه وشول ډير بنه وشول، چې زمانصيحتونه دې نۀ اوريدل. هسې هم خدای سپيره پيدا کړی يې اوس به .....

ببرې پۀ ماته ساه اوپۀ سلګيو سلګيو جونګړې ته راورسيده . لۀ رسيدوسره سم يې مور پۀ څپيړو کښې پټ کړ، پۀ يوه اوبل مخ يې دومره وواهه، چې دمور څپيړې پرې وسوې.

دببرې چيغې بيا پۀ باندې کښې خورې شوې. پانې دببرې پيغلوتې خور ورمنډې کړې، دمور لاسونه يې کلک ونيول ،. مور يې لۀ زنې نه ونيوه؛

ـ بس دی موړې مۀ يې وهه، خدای ته ګوره مۀ يې وهه.

ـ مور ته به خدای داسې مقرره کړې وې .

ـ مور بې لۀ خدايه اوبې لۀ ببرې نور څوک لرو؟

خوريې هم پۀ ژړاشوه.ببرې دکلې پۀ لورې منډې کړې

ـ قسم دی، کۀ له تاسو سره يو شپه هم تيره کړم.

دکلې پۀ لاره روان شو. مور يې بيراوې ورته وکړې.

ـورځه خدای دې تری تم کړه.

ـخدای دې په بمونو والوزوه . هسې دې هم زمور

بخت پۀ کانو رویشته، سپیره اوس وچه خولۀ ګرځه .

– پانې دمور پۀ خوله لاسونه کیښودل، پۀ ژړغونې غږ یې ورته وویل:

–مور جانې ښیراوې مۀ ورته کوه، مور څوک لرو؟

دپانې مور ژړاواوسلګیو ونیوه،هغه لۀ ډیره دردە پۀ ځمکه راولویده، پانې ناړې سورې کړې، دباندولۀ جونګړونه ښځې راووتې:

څه وشول پانې څۀ وشول؟؟

پۀ مور مې پیریان راغلې دي .

ګاونډۍ ښځې ورغلې. دپانې مور پۀ ځمکه پرته وه، یوې ښځې یې سرپۀ خپلو زنګنوکیښود. کلیمې یې ورته وویل؛ لاالـه الا الله محمدرسول الله دخدای لۀ پاره مۀ یې پۀ عذابوئ، کافر خوبه نۀ وې؟

تورسرې ده ،تاسې به هم خویندې میندې لرئ نوروښځوهم کلمې ورته وویلې، دپانې دمور زړۀ یوځه سپک شو، سترګې یې وغړولې، ښځورته ویل:

کلیمه ووایه خوږې، دپانې مور کلیمه وویله، ګاونډیو ښځو تسله ورکوله، داهرڅۀ دخدای لۀ طرفه دي، خدای دې ببرې درته ژوندی لري .

– څۀ چې لۀ خدایه راپیښیږي پۀ هغې به صبر کوو.

ګاونډیانې یې چې خپلوجونګروته لاړې، نو دببرې مور بیا پۀ ژړاپیل وکړ.ځان ته یې ښیرې کولې.

زمالاسونه دې مات شي، ببرې مې پۀ تنکې مخ ځومره سخت سخت وواهه .

– ببرې خوګرم نۀ وو،څۀ یې کړی وای؟لۀ ډیره خپګانه یې ډوډۍ هم نه وه خوړلې، پاڼه لۀ جونګړې نۀ راووته مورته یې غږکړ:

– مورې ببرې خوپۀ کندوهم واوښت، پۀ دې

مازدیګربه چیرته ځي ؟

هله لوری! راویې ګرځوه، کلی خو ډیر لری دی ماخوستن به هم ونۀ رسیږي، خرابې لاري دي.

پاڼه دهوسی غوندی پۀ یوه ترپ کنډوته ورسیده، ببري مېړۀ ګامونه اخیستل. لکه چې کلي ته یې دتګ زړۀ نۀ کیده، پاڼه یې چې ولیده، بیایې ګامونه یوځۀ ګرندي کړل، پاڼه پسې ورسیده، پۀ غیږ کښې یې ونیو، ښکل یې کړ، اوښکې یې ورپاکې کړې.

ـ پرې مې ږده، زۀ نۀ ځمه، زۀ مورته نۀ ورځمه، دومره یې ووهله

ـ ماڅه کړی وای.

بیایې ستونی راډک شو اوخبره نیمګړې ځنې پاتې شوه، پاڼې بیا ښکل کړ.

راڅه مور مې درپسې ژاړي.هغۀ ستا پۀ وهلو ډیره پښیمانه ده. زه مې مور درپسې راولیږلم.راڅه چې ورشو،هغه پۀ تاپسې ځوریږي،چې ډیره وځوریږی تاهم ښه لیدلې ده، چې پیریان پرې راځي . چې چیرته وغورځیده کۀ سر یې مات شه اوکۀ لاس یې مات شه .

ـ نه ،نه ،زۀ نۀ ورځمه،خدای دې یې په پیریانومړه کړي، زۀ نۀ ورځمه، زه کلي ته ځمه، پاڼې په ژړه غوڼې غږ ورته وویل:

ـ کلي ته چاته ځي؟ پۀ کلي کښې مور څوک لرو؟ دکلي نه خودایو کال کیږي چې خلك غرونوته راغلې دي، پۀ کلي خوجازونه بمونه وروې، تابه هم راته شهید کړي، ببری ځان کشولو، چې دپاڼې لۀ لاسونونه ځان خلاص کړي؛ خوپاڼې لکه تیخوری ماشوم پۀ غیږ کښې راواخیست .ببري لتې غورځولې اودخور پۀ مخ یې نوکاري لګولې .

ـ پرې مې ږده نۀ ورځم زۀ نۀ ورځم .

*** *** ***

پۀ غوجل کښې زیږ خوسی ګوښی پروت و، دخپل زوی غوندې یې زړۀ پرې وسر. دبرې مور نن ډیره سختـه خـواشینـې وه خپـلې غـریبـۍ اوبـې کـسـۍ

تیروختونه وریادکړل. هغه دبرې پلار ته ډیره ګران وه، هغه وخت یې پۀ یادشوچې دبرې لۀ زیږیدوسره سم دغنمو لوونه ګډشول . دحمید لۀ پلار سره به یې لوونه کول. لۀ څو ورځو لو نه وروسته ناروغه شوه اوپۀ سینه کښې یې شیدې هم وچې شوې . ماشوم به یې په کوڅوکښې ګرځاوه، کله به یوې بڅې یو غږ په تې ورکړو اوکله بلې بڅې. ماشوم به ټوله شپه لۀ لوډې نه پۀ ډډا تیره کړه .

دبرې پلار دبوسواوغنمو پۀ پیسو غواواخیسته، غوا تکه زیږه وه، برې یې دغوا پۀ شیدو را لوی کړ، زیږۍ ټولوته ګرانه وه . زیږۍ دومره اصیله وه، چې پانې هم لوشلی شوه. زیږۍ په برې ډیره ګرانه وه، هو خود به ورته ګرانه وه، برې دزیږۍ پۀ شیدورالوی شوی و. کله کله خوبه یې دزیږۍ تې پۀ خوله کښې ونیواودخوسي غوندې به یې رودلو، برې لۀ زیږۍ سره خاصه مینه لرله. لۀ سهارنه تر مازدیګره به یې پرپولوڅرولـه، لۀ زیږۍ سره دټولو مینه ورځ پۀ ورځ زیاتیده .

هغه ورځ چې دبرې دپلار مړی یې پۀ وینوکښې خیشت پیشت لۀ سنګره راوړی و، برې زیږۍ څـر ځـای تـه بیـولې وه، دبـرې مـور هغـه ورځ ډیـره سختـه راغورځیدلې وه، لۀ تندې نۀ یې وینې بهیدې، دکلې بڅو ویل چې پیریان یې دي.

کله چې برې زیږۍ لۀ څـر ځای نه وواوسته، دپلار دمړي پۀ لیدو یې کریکې کړې، زیږۍ هم لکه بنیادم

غمجنه پهٔ ځای ودریده .

داتولې صحنې دېبرې دمور پهٔ ذهن کښې راګرځیدې، نږدې وه، چې بیا پیریان پرې راشې، ډبرې کټ ته ورغله، ببرې یې پر تندي ښکل کړ، کلیمې یې وویلې .

ـ خدایه باقي خیر کړې.

*** *** ***

نورې ورځې به چې لر دجګ غره پهٔ ځوکه سر راښکاره کړ، نومور به یې په ببرې غږ وکړ:

هله ببریه زویه پاڅه صدقه دې شم، لر راختلی دی، بیا به زیږې ځنګل ته دځرولو لهٔ پاره بیایې .

نن دلر سترګه پهٔ شنهٔ آسمان کښې ځو نیزې جګه ولاړه وه، ببرې پهٔ کټ کښې اورد غزیدلی و، . او په درانه خوب ویده و.

هغه په شپه کښې ځو واره راویښ شوی و، ټوله شپه یې پهٔ اندیښنو تیره کړې وه . ویروونکې خوبونه یې لیدل، خوب یې لیده، چې یو برګ پرانګ ورپسې ځغلې، ببرې منډې نهٔ شي وهلې، خو چې کله پرانګ ورته رانږدې شو اودببرې مړې ته یې منګولې ور وغزولې، پهٔ دې وخت کښې ببرې لهٔ ډیره هیبته راویښ شو، پهٔ کټ کښې کښیناست شونډو یې پټې نیولې وو، پهٔ کوچنۍ ځیره یې پریشاني خوره وه، دنورو ورځو غوندې یې دغږکی دشارېلو اواز پهٔ غوږ نه شو.لهٔ حسرت نه پهٔ ډکو سترګو یې خپلې مورته وکتل ،موریې دچرګې پهٔ غاړه خفه اودلګیره ناسته وه، بیایې سترګې دمستو پهٔ کټوی ولګیدې، دکټوی پهٔ سر برغولې نهٔ و.کټوه وچه ککړه وه، پهٔ مورګویې مچان ګرځیدل او پهٔ ګیډه کښې یې کنډ کی کنډ کی مستې نهٔ معلومیدې ، ببرې ته تیرې شوې ورځې ور یادې سوې .

هرسهار به چې لهٔ خوب پاڅیده، مور به یې دمستو پهٔ کتوه کښې سوکړک ورته میده کړی و، او ببرې به پهٔ خوند خوند خوړو؛ خو نن دمستو کتوه تشه وه، ببری دمستولهٔ کتوې ،لاسترګې نهٔ وې اړولې، چې پهٔ غوجل کښې دژیړ خوسې دردناکې او غمجنې رمبادې پورته شوې، ژیړ خوسی پهٔ مودې پوری کلک تړل شوی و، پورته پورته یې توپونه وهل، پهٔ سترګو کښې یې انتظار ځپې وهلې، مور یې غوښته دزیړې غواله شیدونه ډک تیونه یې غوښتل . ببری وبوونیدو، سترګې یې لهٔ اوښکو نه ډکې شوې برګ پرانګ یې په خیال کښې ورغی، هغه پرانګ چې پهٔ خوب کښې یې لیدلی و. هغه پرانګ چې ددوی خوشالۍ یې دا ډول وې.

۱۷ـ۲ـ۱۲۷۰

زرین انځور



نن یې لکه چې بهر تلو ته هیڅ زړه نهٔ کیده . پهٔ ډیره خواري یې هغه رابهر کړ ، لکه چې پهٔ یو چاکې پړی واچوي او پهٔ زور یې لهٔ کوره راوباسي . همداسې پهٔ دیکودیکویې رابهر کړ ، خو وروسته بیا ښه شو . ښه سم مزل یې پیل کړ .

څو ورځې کیدلې چې همداسې څهٔ کانه پرې شوې وه ښایي دډیرې ګرمۍ لهٔ امله به وه چې بهر وتلو اوګرځیدلو ته یې زړه نهٔ کیده . هوادومره ګرمه شوې وه چې نزدې وه دده زړه وروچوي . کله هم مزل اوګرمۍ دومره نهٔ و ستړی کړی .

نن یې پهٔ نهٔ زړه مزل پیل کړ ، خو مجبورې وه ، وروسته بېرنۍ شو. یوه پیره خویې پهٔ ښه شان تر سره کړه . سورلۍ هم ډیرې وې . دومره ګڼه ګوڼه وه

چې دی يې ډير تنګ کړ اودويمې پيرې ته يې چندانې زړه نۀ و، خوده څه کولای شول ؟ دهغه کونجې دبل چاپۀ لاس کښې وه . دهغه مزل دبل چاپۀ لاس کښې واوخپله يې هيڅ نۀ شو ويلای . کله کله به يې پۀ خپل دوامدارغږ کښې څه بدلون راوست اولکه چې کوم فرياد کوي . ستونی به يې خپه شو ، لکه چې ژاړي . ډيرور به يې گير وربدل کړ ، پښه به يې پرې ټينګه کړه ، اوهغه به داسې احساس کړه لکه چې څوک يې پر مړۍ پښه ورټينګوي ، خوهغه څۀ کولی شول ؟ هغه پۀ نۀ زړه همداسې روان و .

دويمه پيره به يې نيمايې ته رسولې وه چې سخت ټرۍ شو . خپل غږيې بدل رابدل کړ اوډيرور به خپلې پښې ته دهمدې لۀ پاره زور ورکاوه چې دهغه لۀ ستونې، دهغه خپه شوي غږونه راپورته نۀ شي ، خوهغه نور دتندې توان نۀ لاره خپل خپه شوي غږونه يې دومره غمګين اواوچت کړل چې پۀ دۀ کې ټولې ناستې سورلۍ يې پۀ فرياد پوه شوې . ډيرور مجبور شو، پۀ يو ځای کې يې هغه ودراوه .کلينر پۀ بيړه ترې کوز شو، زړه ګيلنه يې لۀ اوبو ډکه کړه. دهغه سرې پورته کړ.خوله يې وربيرته کړه اوډکه ګيلنه يې دهغه پۀ خوله کې ورخالي کړه . لۀ خولې يې ، لۀ زياتې ګرمۍ بخار خوت اودغه بخار پۀ يوه ګيلنه سوړ نۀ شو . بله يې هم دهغه پۀ خوله کې ورخالي کړه . بخار بياهم ونۀ درېد. دهغه تنده بيا هم ماته نۀ شوه خو دهغه خوله يې بيرته وروټرله اودی بيا روان شو . دګيلنې اوبه دومره تودې وې لکه دهغه پۀ خوله کې يې چې جوش اوبه ورخالي کړې وي. نۀ يواځې دا چې دهغه تنده ماته نۀ شوه ، دهغه زړه دغو اوبو نورهم و يشاوه . خدای خبر څنګه هغه ته يوناڅاپه پخواني وختونه ورياد شول .

دننګرهار اوکابل ترمنځ پۀ براخ سړک روان و . ماهيپرته ورورسيد . عجيبه کزليچونه وو . ډيره کړ کيچنه لاره وه ، خودۀ ته به هلته هم مزل سخت خوندورکاوه . ماهيپر ته به هم داسې وخوت لکه پۀ هماره لاره چې روان وي

اوبيا به دماهيپر پهٔ مينځ کې ودريده . نوري موټري به هم هلته ولاړې وې . يوه شيبه به سورلي هم ددهٔ لهٔ اوږو کوزې شوې . کلينر به دهغه سرورپورته کړ پهٔ مزه مزه به يې دهغه خوله خلاصه کړه اوپهٔ يوه منډه به يې دماهيپر لهٔ يخو اوبو ډکه کړه . پهٔ دې اوبو به دهغه زړه يخ شو . بخار به کښيناست اوهغه به يو شکر وکړ . داسې يخې اوبه لکه واوره اوهغه به بيا شکر وکړ .

– پهٔ لږ څه کې يې بيړ کړ.

– نز دې يې تر ټايرونو لاندې کړې و .

– خدای «ج» فضل وکړ کهٔ نهٔ...

دډريور ناترسه بريک اودسورليو دې غالمغال دهغه دسوچونو دنيا رنګه کړه . داسې چې به کله هم ډريور وارخطا بريک ونيو نو هغه به يې دسوچونو لهٔ دنيا رابهر کړ اودهٔ به بيا غمجن مزل شروع کړ .

پهٔ دريمه پيره کې هغه نور هم ستړی شو. يوه بله سورلي چې به هم هغه ته ورجګه شوه نو لکه يو خروار پيټی چې پرې وربار کړې . داځل يې غږ نور هم خپه اوغمجن شوی و . ډريور چې به هر څومره خپله پښه ورټينګه کړه ، ددهٔ دمزله مزه نهٔ وه پاتې . ددهٔ انډيوالان به پهٔ لاره کې يوبه لهٔ ددهٔ مخکې کيدل ددهٔ لهٔ ځنګه چې به يو يوتيرشول نوددهٔ سترګې به دبينزونو پر وروستی لويه شيشه ليکونو ته واوښتې :

– افغان پيما

– پې وطن شهزاده

– کابل کاروان

– ننګرهار کاروان

ځينو يې خپلې شيشې پاکې مينځلې وې او ځينويې دهغو پخوانيو ليکونو پر ځای د شاپرلويه شيشه نوې ليکلې کړې وې ، خو زياتره يې لهٔ هماغو پخوانيو ليکونو سره ګرځيدل را ګرځيدل ځيني دغه بينزونه خرڅ شوي

دي ترتيب موږ ته عجالتاً ددې تفسير ژباړن نۀ څرګندېږي اوترڅو پورې چې ددۀ نور آثار، يا ددۀ پۀ باب نور معلومات ترلاسه نۀ شي نو ترهغې به ددې تفسير پښتو کوونکی پۀ تياره کښې وي .

پيل :

تبارك ، صاحب دکشف الاسرار دې معنی اختيار کړي دي : اول معنی داده چې برکت لۀ دۀ دی اودا اشارت دی وکارسازی اوبنده نوازی دحق وته اودويم معنی داده چې خدای بزرګ دی اوبر تردی اوداصفت دسر مديت ازلي اوابدي ددۀ دی اودريم معنی داده چې خدای دايم ثابت دی . الذی بيده الملك ، هغه ذات چې پۀ لاس دقدرت ددۀ کښې ده بادشاهي د مورو اوتصرف دملك دی هر چې رضايې شي هغه کوي . وهوعلی کل شی قدير ، اودی پۀ هر څيزباندې توانا دی .

پای :

« من الجنة والناس ، لۀ پيريانو اولۀ سړو څخه ای شياطين الجن والانس پۀ لباب کښې يې راوړې دي ، چې په دې سورة کښې پنځه ځايه لفظ دناس واقع شوی دی اومعنې دهغه مکرر نه دی يعنې جدا جدا دي : مراد پۀ اول سره اطفال دي اومعنی در بوبيت دلالت کوي پۀ هغو باندې اوپۀ ثاني سره مراد ځوانان دي اولفظ دملك چې عبارت دی لۀ قهر اوسياست څخه دلالت کوي پۀ هغه باندې او مراد پۀ ثالث سره زاړه دي اواسم دالله چې مبني دی پۀ طاعت اوپۀ عبادت باندې مناسب دی لۀ هغو سره اومراد پۀ رابع سره صالحان دي چې حرص مسلط دی پۀ اغوا ددوی باندې او مراد پۀ پنځم سره مفسدان دي اوعطف دهغو پۀ معوذمنه باندې دلالت کوي . (۵)

دتفسير شريف چاپې نسخه ۱۸۰ مخه لري ، ديعقوب چرخي دتفسير دفاتحې برخه نۀ ده پکښې ژباړل شوې اونور دتبارك الذی اوعم دواړې پاړې پۀ بشپړ ډول پۀ کښې راغلې دي ، د نشرڅه يې تړاوه حده روانه ده اود تحت

وو او اوس يې رنګونه بدل شوي وو اوهم يې دشا پرلويه شيشه ليکونه . دۀ به هغه پخواني اشنا بينزونه هم پۀ سختي پيژندل .

بينزونه به يو يو ددۀ لۀ ځنګه تيريدل . ددۀ سترګې چې به دموټرو پر وروستي شيشه ونښتې نوپۀ زړه کې به يې تيرشول :

- دی هم راغلی
- دی هم رامسافر شو
- دی هم لکه زما پۀ ځير ...

اوپۀ زړه کې به لږ شان خجالت شو چې آخر دی ولې سم مزل نۀ شي کولی ؟ دی ولې لۀ خپلو هغو نورونه وروسته پاتی دی ؟ خوخپله وسه يې کوله اولۀ وسه بهر يې نونور څه کړي وای ؟

دريمه پيره يې هم تر سره کړه اوځلورمې پيرې ته يې راروان کړ . داځل خوښ مزل ته بيخې ملاماته وه . بيا هم پۀ نۀ زړه راروان شو . خو خوشحاله پۀ دې و چې پۀ دې پيره کښې سورلی لږې وې . ددۀ ولې هم لږ شان سپك وو ، خو ګرمې نوره هم زياته شوې وه اوددۀ تنده هم شيبه پۀ شيبه زياتيدله . دۀ ته پۀ زړه کې ورتير شول :

- داځل خوښه دی پۀ لاره کې يې ډيرونۀ درولم:

دۀ ته به پۀ لاره کې خنډونه ، پۀ زور ودرول اوتلاشی ډير زوروركاوه . هرځوك به چې دځه لټون اوتلاشی پۀ نيت دۀ ته ورپورته شول ، لکه ددۀ پۀ زړه چې پښې زدې اولۀ بده شامته پۀ ده به دا کار ډير کيده ، ډير به درول کيده ، ډير به ځورول کيده .

دی چې لا پۀ خپل وطن کې و هم يې بې ځايه لټونونه اوتلاشی بدې شوې هغه ورځ وريادە شوه چې پۀ ماهيپر کې روسانو درولی و اودخوراك هرځه چې پۀ کې وو، لۀ دۀ يې کوز کړي وو. دسورليو جيبونه يې هم ټول تش کړي وو اوددۀ پۀ هماغه ورځ لۀ هغوی نه سخته کرکه شوې وه اودغه کرکه دهغه پۀ

زړه کې پۀ يوه داسې غوټه بدله شوې وه چې لا تراوسه هم هماغسې غوټه پاتې وه. دهماغې غوټې پۀ فکر کې و ، چې ډريور داوبو لۀ يوې ويالې سره ودراوه . هغه اوس ايله پوه شو چې څومره ستړی شوی اوتږی شوی دی ؟

بيايې ددۀ پۀ خوله کې داوبو دوه ګيلنې ورتشې کړې اوبيايې هم دۀ ته هيڅ خوند ورنۀ کړ . لۀ خولې راوتو نکی بخار يې نورهم زيات شو .ګيډه يې پۀ اوبو ډکه شوه خويخه نه شوه ، هغه بيا هم پۀ نۀ زړه روان شو خو خدای خبر بيا څنګه پۀ فکر کې لاړ :

يوه ورځ دشمالې پۀ لويه لاره روان و . اوړی و خوهواداسې سنګلې وه لکه د يوهميشه بهار سيمې پسرلی . دی يې هم دسړک يواړخ ته ودراوه . تر څنګه يې نړۍ اوبه بهيدلې . ټولو سورليو خپل مخونه يخ کړل . يو دوه دوه لپې اوبه يې وڅښلې اوددۀ هم هغو يخو اوبو ته زړه وشو. کلينر يو ګيلن اوبه راوړې. نيمې يې دده پۀ خوله کې وروړولې اوپاتې نيمې يې پۀ يو شړ ك ددۀ پر مخ وروشيندلې . ددۀ ټول وجود لۀ يخنۍ ورپيد ، اوهغه نور پۀ ځان پوه نۀ شو :

- يا اللّٰه خير !

- خير اللّٰه ... خير ...

اودسورليو لۀ همدغو کړيکو سره دی لۀ يو لوی تور عسکري ګاډي سره مخامخ جنګيدلی وبلکه چې غلام صابر استاذ هم دخپل بينز پۀ څير همدغو سوچونو لۀ ځانه سره بيولی و .

پيښور

۱۳۷۰ / ٤/ ۱۲

ایمل پسرلی

لنده غوټه

د معلم سیف الدین پلار ـ اداـ نن بیا پۀ خپلوکړو پښېمانه وُ نۀ یې پۀ کور کښې ټیکه. کپده او نۀ یې هم بهر ساسپېده .ووت ننوت، اوکوشش یې کاوۀ چې یو خوځان عادي وښیي اوبل دحل لار وسنجوي خوددۀ سور مخ ژپنده سترګوتول شکمن کړي وو چې یاخو کومه پېښه شوې اویاهم «ادا» ته بیا سودا ورلوپدلې. هغه زړه سودا چې « ادا» به تل اودوی نور ورسره عادي شوي وو.

لۀ «ادا» که هرچا سوال وکړ، دۀ سپک کړل او خپله هم هغسې پۀ چرتونو کښې ډوب پاته شو. څو څو واره یې خبره لۀ ځان سره تکرار کړه او بیا یې د راوي پۀ هکله چرت وواهۀ ، خو هم خبره

ورته سمه ښکاره شوه او هم هغه سړی چې نن سهار یې دا پیغام ورته راوړی ؤ،دهٔ تر ځان هم پردې سړي ډېر اعتبار درلود او همدغه سوب ؤ چې دا خبره پهٔ سلو کښې سل سمه ورته ښکارپده.

پخوا که څهٔ هم نورو خلکو «ادا» ته تر دې هم سپینې خبرې کړې وې خو پر هغو ټولو خبرو او دلایلو دهٔ ته بس د څو شیبو اندپښنه ورلوبدلې وه او ډېر ژر یې زړهٔ داډه شوی ؤ. خو نن یې زړهٔ دا نه منله چې درواغ به یې اورپدلې وي ځکه چې نن دې سړي تردې حده ورته ویلې وو چې کیدای شي همدا نن لا راشي.

ددهٔ ملګریو پهٔ سر ستړګوڼندی لیدلی ؤ. او همدغه ورستۍ ټکی ؤ چې «ادا» یې لا ډېر وارخطا کړی ؤ دهٔ ته خپله کړې خطا ترستړګوکپده اودا چې هیڅ به یې لاس ته نهٔ ور تلل ، نو ورځ به یې ووته، پاس اسمان ته به یې وکتل او هغه ورځې او شیبې به ورپهٔ زړهٔ شوې چې ملا صاحب به هم اجازه ورکوله او دی لا دوه زدی ؤ، او بیا د «ادا» پهٔ غوږونوکښې هغو خبرو انګازې وکړې چې خلکو ورته کړې وې :ـ لهٔ طیارو یې ښکته غورځولې.

ـ روس ته یې بېولی دی .

ـ ژوندی یې ښخ کړی.

ـ پهٔ مرمیو یې وویشت.

تر وهلو لاندې مړ شو ـــ او ...

«ادا» یوه ګړۍ د بې ګناهۍ احساس وکړ،زړهٔ یې کرار شو، خو چې څرنګه یې دذهن پهٔ پردو کښې ننني پیغام راغی نو یو ځل

بيا اور سره واخيست اودبي گناهي توليو لاري چاري عبث ورته ښکاره شوي .
دۀ اوس ساعت په ساعت لاري تيرولي ، به يوه ځای کې يې سترګې ښخې
کړې وې اوويلي يې ژ چې کوټې ته دې ځوک نه راځي خو دده کشري زوی -
رحم الدين - ويل چې « ادا » ليونی شوی دی .مور وخور ته ناست ژاړ
وايل يې :

- خدای دې وبخښي مړي لاچاړونديږي کړی. بس خلك دي څۀ يې پرې زياتيږي او څۀ يې پرې کمپږي، وايي به، هر څۀ چې يې زړۀ وي. ماته خپله دشپرخان زوی ويل چې لۀ طيارو يې غورځولی ....

د رحم الدين خبرې «ادا» پۀ غصه ورپرې کړې، «ادا» لکه چې ددۀ خبرې اورپدلې وې لۀ کوټې دغه دم راووت اورحم الدين ته يې همدغومره وويل:

- چپ که،د شپر خان زو!

او نور لۀ دې ځايه هم ووت. «ادا» لۀ کوره هم ښ باندې ووت. د ونو پۀ لوړې يې سوکه سوکه ګامونه

وروانيستل او پۀ ټوله لاريې همدافکر ذکر وکړ چې څرنګه د حل لار پيدا کړي. دۀ د حل لار پسې غوښته خو پرته لۀ سړو اسوپليو هيڅ لاس ته ورنه غلل.کوشش يې وکړچې د ځان د سپيناوي لۀ پاره دلايل وموميږ، خو لکه ډپخوا پۀ شان ورته هر دليل ډير ژر بې ګټې او بې ځايه وبرپښيد. دۀ ته بس تپروخت ورپۀ زړۀ کيدۀ اوهغه شيبې يې سترګو ته دريدلې چې رحم الدين ته يې وادۀ کاوۀ او بيا معلم ورته مسلم شو چې ډپر غصه دی اوتر ټولو ډپر بس هم دۀ ته، ځکه چې دی يې مجرّم دی . دا هر څۀ دۀ کړي او....

«ادا» ورپېردې پدلو او يو وار يې بيا پاس د اسمان پۀ لوري وکتل، پاس هم زياتي رڼا تته شوې وه او تيرو ځادر غوراوۀ. «ادا» نا امېده پۀ زنګېدليوګامونو د کور مخه وکړه. پۀ کور کې يې واړه لۀ واره پۀ ناوې سترګې ولګېدې او پۀ قهر يې چغې پرې وکړې:

ـ ورکه شه.

او خپله بيا پۀ کوټې ننوتې، هلته پۀ همدې خبره هم پښيمانه وۀ خو اوس هر څۀ بدورته ښکارېدل او خپل هر فعل يې بدګانهۀ ددې لۀ پاره چې نور هېڅ وانهۀورې او هېڅ ونۀ ګوري، ځادر يې پر مخ رابنکۀ او سرې مانيام لاځملاست.

«ادا» سهار پۀ خپره کڼې راويښ شوې وۀ، لۀ ځان سره يې ځۀ راواخيستل او پرته لۀ دې چې چاته څۀ ووايي يا وګوري لۀ کوره دباندې ووت، او دهديري پۀ لوري يې مزل شروع کړ. نن يې د پخوا پر خلاف دپر ګرندې ګامونه اخيستل، اداپۀ لاره کښې لاندې کتل او داسې ښکارېدو چې ګواپره بيره يې وې، خو يوۀ مساپر ودراوۀ او پوښتنه يې تري وکړه:

ـ بابا تهۀ دکوم ځای يې؟

«ادا» پاس ورته وکتل. مساپر ځلور هډوکي وچ کلک زلمی وۀ. دۀ يې سترګو ته کتل او پۀ کتوکتو کښې يې د سر پۀ اشاري شاته پرې ايښې کلی ور وښود، خو لۀ دې اشاري سره د «ادا» مخ سور سره واوښت، ژبه يې وچه شوه او وار خطاء غوندې شو.

مسافر وخندل، سر يې وښوراوهٔ او ويې ويل : -
ـ عجيبه ده ،اوس دکلي خلك هم نهٔ پيژنم ، حال دا چې ټول کور کهول مې اوس هم راته همدلته پهٔ ټمه دی . خو اخر لس کاله وروسته راځم. بابا تهٔ مې ونهٔ پيژندې ، زهٔ خو معلم سيف الدين يم »
معلم پهٔ ټټر لاس اينبسی وُ. چې خان وروپيژني ، خو «ادا» نېغ نېغ ورته کتل ، غلی ولاړوُ، سترګې يې

د معلم پهٔ نوم ټمجنې شوې خوږر يې سرتيټ کړ او پرته لهٔ دې چې څهٔ ورته ووايې بيا يې خپل مزل شروع کړ ـ معلم مخ پسې وروراوهٔ اودبابا ـبابا ـ ناري يې يو دوه ځله پسې وکړې ،خو «ادا» ونهٔ دريد معلم پهٔ حيرت سروښوراوهٔ ،لکه چې د کلي وال بابا رويه ښه نه شوه ورته ښکاره ،خوبيې خندل اودکور پهٔ خوا رهي شو.

دمحمد روحاني وړڼ ليکنه

قادرخان ختڼکر

زمور دتاريخ ښوونکی لهٔ کلي څخه راغلی و، سهار تر څابنته به پهٔ ښوونځي کښې و اوبيا به يې پهٔ بايسکل پښه واړوله اومخ پهٔ کور به روان شو کور يې د «کابل دعلي آباد» روغتون ترشادغړه پهٔ ډډې و اوپهٔ ميا شت کښې يې پنځه سوه افغانۍ کرايه ورکوله ، دکور خاوند ژمنه ورسره کړې وه ، چې کهٔ يې ددوو کوتوتر څنګ يوه بله کوټه چې تاداو يې پخوا ايښودل شوی و ؛ ودانه کړي ، نو لهٔ کرايې څخه به ورته سل روپۍ کمې کړي . نولهٔ دې کبله به يې بايسکل پهٔ چټکۍ سره څغلاوه ، چې کوټه ژروداته کړي ، چې هم يې کور پراخ شي اوهم يې کرايه کمه شي ، سهار وختي لهٔ لمانځه وروسته به هم دکوټې پهٔ ودانولو بوخت و اوداوروبجو پهٔ شا او خواکښې د« فوتي اعلاتونو» لهٔ اوربدو څخه وروسته به مخ پهٔ ښوونځي راروان شو .

تولگي ته به چې رانانووت ، تر هرڅه دمخه به يې لهٔ خپلې « قره قلې » خولې څخه دوړې وڅنډلې اود لاسونو لهٔ ويښتو څخه به يې وچې خټې وتوړلې ، د لومړي کتار پهٔ يوه ميز به کښيناست ، پهٔ ستړي غږ به يې پوښتنه وکړه « ښه زمور لوست چيرى و؟ » ، دوو - درو زده کوونکو به پهٔ ګډو وډو غرونو دپخواني ساعت دلوست وروستنۍ خبرې ورپهٔ زړه کړې ... او ده به خبروته ادامه ورکړه . يو - دوو زده کوونکو به يې پهٔ خبروکښې ورودنګل اووبه يې ويل : ... بياهم دا زمور دکتاب موضوع نهٔ ده ... صيب ! خوده به خپلو خبروته دوام ورکړ ، لکه هيڅ يې چې نهٔ وې اوريدلې .

وروسته - وروسته زده کوونکي وپوهيدل، چې زمور ښوونکى نهٔ يواځې ښوونه کوي ، خټې هم کوي ، نو ورو ورو يې نوم د زده کوونکو تر منځ قادر خان ختګر شو ، لهٔ دې چې قادر خان ختګر ډير وخت دکوټې پهٔ ودانولو بوخت و ؛ نو ښوونځي ته به يې « مطالعې » اوبې « تياري » راغى ، زياتره وخت به دزده کوونکو پوښتنو ته عاجز پاتې شو اوپهٔ مسکا - مسکا به يې ويل : « پهٔ کتاب کښې يې ولولئ. » دقادرخان ختګر اوزده کوونکيو تر منځ يو خاص کړکيچ منځ ته راغى او پهٔ دوو درو اوونيوکښې قادر خان ختګر ته چاپهٔ ټولګي کښې پام نهٔ ساته اوان داچې لهٔ قادر خان ختګر سره ملنډې هم پيل شوې ، ځينو به يې خولې دميزلهٔ سره واخيسته ، چې پهٔ خندا خندا يې ورته پاکه کړې او ځينو به يې د کرتې لهٔ جيب څخه چې دوره پهٔ ميخ به ځوړنده وه وچه ډوډۍ راوايسته اويو لهٔ بله به يې وويشله ، نوم يې لهٔ قادرخان ختګر څخه پهٔ « قادر ختګر ، ختګر» واړول شو اوڅه موده وروسته بيخې «ختې » شو .

« ختې » ډير ښه پوهيده، چې دا کړکيچ ولې منځته راغلى ، اوس دى هغه پخوانى « قادرخان » نهٔ و ؛ خو دى پهٔ دې قانع و ، چې کمښت دده لهٔ خوادى ، ځانته به يې ډاډ ګيرنه ورکوله ، چې دکوټې ودانول به پاى ته

ورسيږي اوده خوان زوی « قسيم » به چې لاتراوسه په کلي کښې و راشي اوخانګړې خونه به ولري ...

کلني امتحان ته لا څلور مياشتې پاتې وې ، چې دښوونځي سرښوونکی « خټې » خپل دفتر ته چې راز راز شعارونه په کښې خوړند وو ، وغوښت او دنالايقو اوبې کفايتو په نامه يې خواب ورکړ !

اودا هغه وخت و چې دخونې ودانول هم نږدې پای ته رسيدلي وو . خټې هيله نه درلوده ، چې په خپله دنده پاتې شي، ان په دې سوچ نه و، چې دکورلګښت اوکرايه به له کومه کيږي .... پر بايسکل سپورشو اوخوان زوی ته يې کړې ژمنه ورپه ياد شوه .

« خټې » دعلي آباد روغتون تر شا دغره لمنې ته راورسيد اولهٔ بايسکل څخه کوز شو، په سترپا سره يې ګامونه مخ په کورايښودل ، خټې لاکور ته نه و رسيدلی، چې کوچنی لوريې « ميمونه» په منډو منډو مخې ته ورغله اوويې ويل : « پلاره! پلاره، مورمې خبره شوه، چې زموږ پر کلي بمباري شوې ... هغه ژاړې خټې په وارخطايي سره کورته راورسيد ، مخ يې شين و اودتندي ګونځې يې لاژوړې ښکاريدې، ښځې په چيغو چيغو او ژړا ژړا دده دخوان زوی دشهادت خبر ورکړ .

دی په داسی حال کښې چې ريږديده اولابې وسه ښکاريده « ودانی » خونې ته ننووت اودزړه له کومې يې ژړل .

اوس « خټې » اوکورنی يې سرحدي سيموته نږدې په يوه کمپ کښې اوسيږي ، دشهيد زوی دعکس قاب يې په يوه وسپنيز صندوق کښې ايښی او د مهاجروپه يوه خاورين ښوونځي کښې ښوونکی دی . دی بيا تاريخ لولي اوزده کوونکو ته په مينه مينه ښوونه کوي ... اوبه دې خوښ دی چې په کابل کښې يې د« تاريخ ماتريالېزم» دزده کړې اوښوونې په ګډای خټې کولې اوپه ټولګي کښې يې د زده کوونکو پام دخپلې کرتې او« قره قلی » خولې دورو اوخټو ته اړولی و .

اللفظي ترجمې نخښې پۀ کښې لرې دي ، نظم يې هم سليس اوروان دی اولۀ دې څخه څرګندیږي ، چې دتفسير ژباړن پۀ پښتو نثر اونظم کښې سنه لاس در لود .

پايليکونه :

۱- دافغانستان پۀ اوسني تشکيل کښې څرخ دلوګر پۀ ولايت پورې مربوطه يوه اولسوالي ده خودمولانا يعقوب څرخي دژوند پۀ وخت کښې (د ۸۵۰ هـ ق) شا اوخوا دغزني دتاريخي ښار لۀ مربوطاتو څخه و،نو ځکه نومورې مولانا ته څرخي غزنوي وايي .

۲- دتفسير چرخي د زياتې پيژند نې لۀ پاره وګورئ : فهرست نسخه ها. خطي کتابخانه گنج بخش ، احمد منزوی ، ۲۶/۱- ۲۹ مخونه . مرکز تحقيقات مشترک ايران وپاکستان ، ۱۳۵۷ لاهور .

۳- دتفسير بې نظير ديباچه .

٤- دهمدې اثر ٤ مخ .

٥- تفسير بې نظير ۱۸۰ مخ.

څوک پۀ خدمت کښې لوبيدل غـواړي
څوک پۀ قدرت کښې لوبيدل غواړي
چاته پيسه لا ، لـکه معبـودشـي
دنـورو خلکـو تيټيـدل غـــواړي
اروا ښاد خادم

دزړهٔ خوالهٔ

آزادي تـــر بادشاهـــيه لا تيـــرى کا
چې دبل تر حکم لاندې شي زندان شي
خوشحال

آزادي دخداى هغه نعمت دى ، چې دکائناتو هر ژوندى توکى (ژوى) يې دساتلو اوترلاسه کولو لهٔ پاره هڅې اوغورځې پرځې دژوند جګړې (تنازع للبقا) ستره برخه ګڼي ،خوانمان بيا دآزادىٔ ديوهٔ سترداعي پهٔ توګه دنورو ژويو دآزادىٔ او خپلواکىٔ متضمن موجود هم دى .
ځکه !!

همدغه آزاد اوخپلواک انسان دى ، چې دخپل فطري حق (حريت) د ژغورنې اوکتنې د ارځښت پهٔ پوهيدو سره نهٔ يواځې دچا پر فردي او اجتماعي آزادىٔ نهٔ بلوسي ؛ بلکې دايللي اومحکوم ګڼ نوغي (همنوع) خپلواکي هم خپله خپلواکي ګڼي .

افغان اتل او مؤمن اولس دبشري ورورولئ دګڼ کالهٔ ديوهٔ ژمن غړي پهٔ توګه دتاريخ پهٔ بهير کښې دغه حقيقت سبهٔ تراجوت کړى ، نهٔ يې دخپلې آزادىٔ پهٔ ژغورنه کښې يوه شيبه ناغيړي کړې ، نهٔ يې پر بل آزاد اولس اوتولنه دبلوسي لړې ګله دهوس پراسمان خورې شوې دي اونهٔ يې پر بل آزاد اولس

سپیدک

دوه میاشتنی ادبي اوکلتوري مجله

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى
النُّوْرِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓئُهُمُ الطَّاغُوْتُ
يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ
اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝

سورة البقرة آيت ۲۵۷.

ژباړه:

خداى (ج) دمؤمنانو مل او مرستندوى دى، له تيارونه يى رناته راوباسي، (خو) دكافرو مرستندويان طاغوتان دي، چى له رنانه يي تيارونه بيايي، دوي ددوزخ استوګن دي، چې تل به په کښې پراته وي.

شرح پشتي: نورالدين عبدالرحمن جامي

سپيدې

دوه مياشتنـی ادبي اوکلـــتوري مجله

دويمه دوره ، دويم کال ، دويمه گڼه ، ۱۳۷۰ش زمری - وږی ، پرله پسې (۲۹)

خپروونکې : دافغانستان کلتوري ټولنه
دټولنې مشر : محمد صـــديق پســـرلی

کتونکې ډله

حبيب الله رفيع ، ميرويس موج
زرين انځور ، امان الله ساهـــو

مسؤول مدير
محمد آصف صميم

تيليفون 44636

په دې کښه کښې

شمیر سرلیک	لیکوال	مخ
۱- دزړهٔ خواله،	مسئول مدیر	۱
۲- نبوي حدیث	دمخلص ژباړه اوشرح	۳
۳- تفسیر بې نظیر	حبیب الله رفیع	۴
٤- جامی خاتم الشعراء	شاه ولي شاهورد	۱۰
٥- دخمکنو میاعمر« رح»	سیدافسرعلي شاه	۲۳
٦- مفاهیم سترګ از ...	م . آویشن	۲۸
۷ -زموږدلیکنې ژبې دمعیاري	محمد آصف صمیم	٤٦
۸- دوینو ډیوي	یون	٥٥
۹- تحفة البحرین	استاد آیینه	٥۸
۱۰- دیوه معصوم حسن ...	سعید رهبر	٦۳
۱۱- بهار	احمد یاسین فرخاری	٦٦
۱۲- دراز ونودنیا	محمدصدیق پسرلی	٦۸
۱۳- کرنګ وهه ای جامه	ډاکترمحمد اکبر« اکبر »	۷۰
۱٤- وړومبی کانی	طاهر افریدی	۷۳
۱٥- پرانګ	پیر محمد کاروان	۸۰
۱٦- تنده	زرین انځور	۸۷

شمیر	سرلیک	لیکوال	مخ
۱۷-	لنده غوټه	ایمل پسرلی	۹۲
۱۸-	قادر خان خټک	محمد روحاني وردګ	۹۷
۱۹-	زیړه غوا	سیف مومند	۱۰۰
۲۰-	یوبهرنی پۀ استانبول کښې	ژباړه :ډاکتر فرید بزګر	۱۰۳
۲۱-	ناهید نامه	استاد پژواک	۱۱۵
۲۲-	غزل	ریاض تسنیم	۱۴۳
۲۳-	تیاره وختونه	پروین فیض زاده ملال	۱۴۴
۲۴-	غزل	اباسین یوسفزی	۱۴۶
۲۵-	مرد راه	م . حنیف	۱۴۷
۲۶-	تریخ ساعت خوزې ...	امان الله ساهو	۱۴۸
۲۷-	پۀ کویټ کښې ...	فضل الله رښتین	۱۶۷
۲۸-	سپیدې بیا...	شیرمحمد بریمی	۱۸۶
۲۹-	پام کوه !	گوهری	۱۸۷
۳۰-	پرخه پۀ ترخه	عبدالجلیل سرتور	۱۸۹
۳۱-	نګرشی برسکوت قرن	محمد صابر یوسفی	۱۹۷
۳۲-	ورکه مینه	ډاکتر اسرار	۲۱۲
۳۳-	غزل	نیک ولي بې قرار	۲۱۸
۳۴-	غزل	ابوطالب کلیم	۲۱۹
۳۵-	ادبي اوفرهنګي خبرونه	اداره	۲۲۰